# محرومیتونه

(د ۱۳۹۷ ل کال په بهیر کې د بېلا بېلو لیکنو ټولګه)

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۷ لمریز کال

محرومیتونه

محمد اسمعیل یون

## ...یل یون نور اثار

...ـون پنځـوس عنوانـه بېلابېـل اثـار
... هم په جلا جلا ډول چاپ شوي
...نـوان لانـدې پـه څوارلـس ټوکیـزو
...ـوي، چـې څرنګوالـی یـې پـه دې
...او ژبـاړې): متکـور، پـه اورونـو کـې
... افغانسـتان کـې د واک جوړښـتونه،
...ایتکارانـو محاکمـه، د افغانسـتان
...لسفه او فلسـفي بهیر. دویـم ټـوک
...ونـه، د لوونـو فصـل، سـیندونه هـم
... درېیـم ټـوک (راټولونې): د نـازو انا
... څلـورم ټـوک (یونلیکنې): د اماراتـو
...ـاګـون تـر څنـډو، د کرملېـن پـه زړه
...ـیلي تخـت هېرومـه، درې ورځـې د
...ج) تـر کـوره. شـپږم ټـوک (کلتـوري
...ـتني فرهنـګ یـو څلانـد سـتوری، د
...ښـود، سـاینسي پرمختیـاوې، هیلـه
...کتابونـو پـه وړمـو کـې. اووم ټـوک
...ي فقـر، لـه افغانسـتانه د مسـلکي
...ستان فرهنـګ تـه اووښـتي ژبانونـه،
...ـګ او فرهنـګ پـه افغانسـتان کـې.
...ر): بېړنـی لویـه جرګـه: ولسـواکي
...سي کړلېچ کـې، د سـمون پـه لټـه.
...ـار): کـه نړیـوال ماتـه وخـوري؟،
...ج کـې، ملـي هویـت او ملـي عـزت.
...ار): ملـي درسـونه، د ارګ تـا ویلـي
...ثار؛ لیسانس- ماسـتري): د محمـد
...وه کتنه، خوشـال پـه خپـل ایدیـال،
... ټـوک (تحصیـلي اثـار؛ دوکتـورا):
...ـد. دیارلسـم ټـوک (علمـي اثـار؛
...ـعر هنـدسي جوړښـت، آندیـال
.... څوارلسـم ټـوک (علمـي اثـار؛
... ادب تاریـخ.

**DEPRIVATION...**

BY: PROF. MOHAMMAD ISMAEL...

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# محرومیتونه

(د ۱۳۹۷ل کال په بهیر کې د بیلا بیلو لیکنو ټولګه)

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۷لمریز کال




# محرومیتونه

(د بېلابېلو لیکنو ټولګه)

لیکوال: محمد اسمعیل یون
خپرندوی: د افغانستان ملي تحریک
چاپکال: ۱۳۹۷ل/ ۲۰۱۹ز
چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه
ډیزاین: فیاض حمید
چاپ وار: لومړی
د خپرندوی د خپرونو لړ: (۱۵۴)
برېښنایي پته: www.melitahrik.com

د دې کتاب د چاپي، کاپي، انلاین او بل هر ډول خپراوي حقوق له خپرندوی سره خوندي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالی

خپل مظلوم او محروم ولس ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نيوليک


| ګڼه | سرليک | مخ |
|---|---|---|
| ١ | د کار، فرهنګ، خدمت او جرئت سړی | ٦ |
| ٢ | زموږ د ولس محروميتونه او يو څو يادونې | ١١ |
| ٣ | ژبني محروميتونه | ١٥ |
| ٤ | ټاپې د خلکو د ټپونو درملنه | ١٩ |
| ٥ | ټاکنيزه کودتا | ٢٢ |
| ٦ | زهير هم وکوچېده | ٣٠ |
| ٧ | زما پهلوانه وروره! | ٣٢ |
| ٨ | ای د پخې ارادې خاوندانو! | ٣٣ |
| ٩ | د ولسي جرګې نوماندانو ته خپله غاړه خلاصوم | ٣٧ |
| ١٠ | د کابل د ټاکنو په باب يوه مننه او بله څرګندونه | ٣٩ |
| ١١ | وړاندوينه | ٤٣ |
| ١٢ | غزني کې ناورين | ٤٤ |
| ١٣ | د ننګرهار غميزه | ٤٦ |
| ١٤ | پکه دا دې لا بله سپکه | ٤٨ |
| ١٥ | ننګرهار نړيوال اسلامي پوهنتون او يوه توطيه | ٥٠ |
| ١٦ | د جمهور رييس د سترو مشاورانو د جدي پاملرنې وړ | ٥٣ |
| ١٧ | په ترخو شېبو کې ((ساړه بادونه)) | ٥٧ |
| ١٨ | د ټاکنيزو کمېسيونونو د جدي پاملرنې وړ | ٦٣ |
| ١٩ | يو ځل بيا د قانون د ملاتړ غږ | ٦٥ |
| ٢٠ | افغانستان کې: څوک د چا ميراث دی؟ | ٦٨ |
| ٢١ | افغانستان کې د مشورې قيمت | ٧٣ |
| ٢٢ | د ولسمشريزو ټاکنو معادله | ٧٧ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۲۳ | د نن اړتيا | ۸۲ |
| ۲٤ | د کابل ټاکنې | ۸٤ |
| ۲۵ | د يووالي غږ | ۸٦ |
| ۲٦ | مقابله که معامله؟ | ۸۸ |
| ۲۷ | که شينواري ولايت شي څه ګټې لري؟ | ۹۲ |
| ۲۸ | يو ځل بيا د شينوارو ولايت په باب | ۹٦ |
| ۲۹ | د قانون د حاکميت لپاره يو نيم ګام | ۹۷ |
| ۳۰ | يو قانونپاله تاريخي مسوولیت | ۱۰۰ |
| ۳۱ | سوله، نظام او قانون | ۱۱۲ |
| ۳۲ | کله چې ارمان شهيد شي... | ۱۱۷ |
| ۳۳ | منظور په نن او سبا کې | ۱۱۹ |
| ۳٤ | د يو ټولمنلي مشرتابه لپاره ستاسو نظر او رايه غواړم | ۱۲۲ |
| ۳۵ | پر توري کرښې، سپينې خبرې | ۱۲۷ |
| ۳٦ | درې سترې نړيوالې تېروتنې | ۱٤۲ |
| ۳۷ | د افغان ملت نوش دارو! | ۱٤۵ |
| ۳۸ | جنګسالاران د چا زامن دي؟ | ۱٤٦ |
| ۳۹ | له ژمنې تر عمله | ۱۵۰ |
| ٤۰ | د سياسي منطق په دايره کې | ۱۵۳ |
| ٤۱ | نړيوال ريکارډونه | ۱۵۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کار، فرهنګ، خدمت او جرئت سړی

الحمد لله، الحمد لله حمداً کثیراً طیباً مبارکاً فیه، والصلوة والسلام علی سیدالانبیأ و المرسلین محمدٍ و آله و صحبه اجمعین.

امّا بعد، فأعوذُ بالله من الشیطان الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

د استاد پوهاند محمد اسمعیل یون د ژوند هره خوا، هره برخه، هره ګړۍ او هره لحظه خدمت، مبارزه او سرښندنه ده او دغه خدمت، سرښندنه او مبارزه یې له هغې مینې څخه سرچینه اخلي، چې استاد یې له خپل ولس سره لري.

استاد له خپل هیواد، خپلو خلکو او خپل ولس سره همدې بې کچې مینې دې ته مجبور کړی، چې د خپل ژوند ټولې خواوې د سترو ملي ارزښتونو دفاع، ساتنې او خدمت ته وقف کړي: په سیاسي ډګر کې استاد تل د محرومو ولسونو د حقوقو د دفاع سنګر، د ظالم پر وړاندې د مظلوم ملاتړی، د خاین، فاسد او جنګسالار په مقابل کې په سپین میدان او قوي عزم د حق غږ اوچتوونکی او د خاورې، ننګ، او ارزښتونو ساتونکی پاتې شوی دی.

په علمي، فرهنګي او ادبي ساحه کې استاد تردې دمه تر (پنځوسو) زیات بېلابېل علمي، سیاسي ادبي اثار لیکلي او په هغو کې یې د پېښو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**واقعيتونو او حقيقتونو رښتينی انځور يې کاږلی دی، استاد په دې اثارو د لوستونکو او مينوالو تنده ماته کړې او د پښتو ژبې او ادب د بډاينې او غني کولو لپاره يې داسې نوښت او ابتکار د تاريخ غېږې او د ټولنې خدمت ته وړاندې کړي چې په تاريخ کې يې کمې بېلګې ليدل کېږي.**

**استاد د پښتو ژبې د ودې لپاره هر اړخيز کار کړی، دفترونو، مکاتبو، پوهنتونو او اکاډميکو مراکزو کې يې د پښتو ژبې د زده کولو او رواجولو لپاره خپله وجيبه په احسنه او ښه طريقه ترسره کړې ده، د غونډو او سيمنارونو په جوړولو سره يې د ميډيا او رسنيو په مټ اړونده ادارې په دې برخه کې شته ستونزو او مشکلاتو ته متوجې کړې دي.**

**استاد په ملي او نړيوال سټيج د لوی افغانستان سپېڅلې او برحقه داعيه او پاک هدف په ډاګه کړي او دا نه هېرېدونکی او نه تېرېدونکی ارمان يې د خپل علميت، منطق، دليل او استدلال په قوت په ښه ډول ځلولی دی، استاد په خپل ژور منطق د لوی افغانستان جوړول د افغانانو حق ثابت کړی او د ډيورنډ توره فرضي او کرغېړنه کرښه يې مردوده، جبري او استعماري کرښه ثابته کړې ده او د هغې پالونکي او ملاتړي يې ملامت، تورمخي او شرمنده کړي دي او په دغه لار کې يې د لوی افغانستان د جوړولو لپاره د ځوان کهول په روزلو او د نويو خوځښتونو په رامنځته کولو کې نه ستړي کيدونکې هلې ځلې کړې دي.**

**استاد د خپل ولس پر وړاندې د خپل رښتينې رسالت او مسووليت په درک کولو سره، د يوه فکري مکتب په حيث د ولس د بيدارۍ، ښېرازۍ، ظرفيت جوړونې، علمي سطحې لوړونې او د دوی د حقونو د لاسته راوړنې لپاره په ټولنه کې رغنده رول ادا کړی دی.**

**د استاد يون پر ژوند، نړۍ ليد او افکارو باندې بحث ډير لوړ فکر او ژور نظر غواړي، پر هغو پوره بحث ډير ، زغم، کار او ژور فکر ته اړتيا ده او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوره کتابونه پرېږ لیکل کېدی شي، چې زه یې له لیکلو عاجز یم.

خو زه به د دې عصر او زمانې د تورې، قلم او مبارزې خوشال خټک؛ یون صیب ته دا لنډۍ ډالۍ کړم چې:

**ستا د ښایست ګلونه ډېر دي**

**څولۍ مې تنګه زه به کوم کوم ټولومه**

هسې خو د استاد ژوند او د ژوند ټولې خواوې او اړخونه د ولس خدمت او مبارزه ده، دلته غواړم له نورو برخو یې تېر شم او یوازې پر همدې کتاب او د لیکنو پر همدې ټولګه یې یو څو کرښې ولیکم:

د لیکنو په دې ټولګه (محرومیتونه) کې استاد د خپل طبیعت او فطري ژوند مطابق له ولس سره پاتې شوی دی.

دا تصادفي خبره نه ده چې د لیکنو دې ټولګې ته (محرومیتونه) سرلیک غوره شوی دی. زموږ ولس د جګړو او نورو ناخوالو له امله له زیاتو محرومیتونو سره مخ دی، لیکوال دې محرومیتونو ته په دقت متوجه شوی او په خپلو بېلابېلو لیکنو کې یې د هغو انځورنه کړې ده. لیکوال په خپله د ولس یوه برخه ده، ولس یې د ځان او ځان یې د ولس ګڼلی، د دوی خوشالیانې یې نمانځلې او د ویر پر ټغر یې ورسره د غم او ویر اوښکې تویې کړې دي.

د دې ترڅنګ یې ولس علم، پوهې او ویښتابه ته رابللی، وخت پر وخت یې خپلو مسوولیتونو ته متوجه کړی، چې له حالاتو او شرایطو څخه د ممکنه او مناسبې ګټې اخیستنې جوګه شي او د بېغورۍ په صورت کې له پېښېدونکو مشکلاتو او ستونزو څخه خبر واوسي، لکه له کابل ولایت څخه د ولسي جرګې ټاکنو ته د زیاتو پښتنو کاندیدېدل او د هغو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



احتمالي ناکامۍ موضوع چې مخکې تر مخکې يې وړاندوينه کړې وه.

سربېره پر دې استاد په دې ټولګه کې د چارواکو هغه پرېکړې، تصميمونه او پروژې ستايلې او ملاتړ يې ترې کړی، چې د هېواد لپاره حياتي ارزښت لري او د هېواد د بهبود، اقتصادي پياوړتيا او د ولس د يووالي، اتحاد او ملي وحدت سبب ګرځي، لکه د ټاپي پروژه يا د شينوارو لپاره د نوي ولايت جوړول.

ورسره په خوا کې يې د حکومت او چارواکو هغه پرېکړې او تصميمونه نقد کړي، چې هېواد او ولس ته ستونزې او مشکلات رامنځته کوي، ملي يووالی او وحدت زيانمنوي، ټولنيز عدالت له منځه وړي او د هېواد د بې ثباتۍ لامل ګرځي، لکه له ننګرهار ولايت څخه د اسلامي پوهنتون دانتقال توطيه، په تېرو پارلماني ټاکنو کې د اصلي تذکرې ترڅنګ د هغې پر کاپي باندې د رايې ورکولو لپاره د سټيکر وهل، يا هم د همدغو ټاکنو په لړۍ کې له غزني ولايت او ولس سره توپيري چلند او لکه د تېر په څېر هلته د يوه خاص قوم په ګټه د ټاکنو تنظيمول.

د دغو ليکنو په ټولګه کې استاد ياد شوي مسايل او موضوعات د خپل سياسي بصيرت له زاويې څخه څېړلي، چارواکو ته يې سپارښتنې، وړانديزونه اوحل لارې په ګوته کړي، چې که ګټه ترې پورته شي، نو د بدو عواقبو مخه يې نيول کېدی شي.

د دې ترڅنګ د ځينو سياسي پېښو او تحولاتو په باب ليکنې او وړاندوينې هم د خپل ټاکلي وخت په تېرېدو سره پر واقعيت بدلې شوي، لکه د ((لوی ملي ائتلاف)) په نامه د يوه ائتلاف د سياسي ژوند په باب وړاندوينه چې سل په سلو کې پر واقعيت بدله شوه.

سربېره پر دې ملتپاله سياسيونو ته د راتلونکو سياسي جريانونو او د ولسمشرۍ د ټاکنو د تنظيم او مهارولو لپاره پلان او مشورې ورکړل شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، چې د عمل په صورت کې يې د ملت ضد عناصرو او سياسي لنډغرو د برياليتوب چانس له منځه ځي.

پر نورو يادو مسايلو سربېره استاد د مقالو په دې ټولگه کې د خپل وجود پر يوې اساسي برخې (محکوم افغانستان) او په ټوله کې د لوی افغانستان په درد دردېدلی او د هرې دردونکې او بدې پېښې په وير يې خپل آه او فرياد د تاريخ حافظې ته سپارلی دی، لکه (په ننگرهار ولايت کې د شينوارو غميزه، د زهير شهادت، د هلمند د سولې ولسي حرکت، د غزني د ښار سقوط او سوزېدل، د علي وزير جرئت، د منظور پښتون ملاتړ او د ارمان لوڼي شهادت او داسې نور مسايل).

زه قدرمن استاد ته د رب لايزال له درباره د ژوند په ټولو چارو کې د پرمختگ، سرلوړۍ او زياتو برياليتوبونو غوښتونکی يم او د زړه له تله ترې مننه کوم چې خپل دغه اثر يې ماته د لوستلو او پر هغه باندې د سريزې ليکلو لپاره راوسپاره.

لاره، لاروي، فکر، قلم او مبارزه يې تانده او تازه اوسه!!!

په درنښت

ماهرالله ماهر

د افغانستان ملي تحريک غړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زموږ د ولس محروميتونه او يو څو يادونې

له شاعرۍ او ليکوالۍ سره مې له هغه وخته مينه او لېوالتيا وه چې لا د لومړني ښوونځي زده کوونکی وم، کله چې لسم ټولګي ته ورسېدم، نو په اخبارونو او مجلو کې مې لومړني شعرونه او بيا ځينې ليکنې خپرې شوې، پر همدې مهال په خوشال خان لېسه کې د ادبي انجمن مشر شوم، د ښوونځي په (۱۲) ټولګې کې وم چې د لر او برو ځوانو پښتنو شاعرانو د کلام ببلګې مې راټولې کړې او پر (۱۳٦٦ل) کال مې د (هيلې) په نامه د يوه غورچاڼ په توګه چاپ کړې. دا نو په اصطلاح زما لومړنی ادبي راټولونه وه او چاپي اثر و.

وروستی کتاب مې (د خادم نړۍ ليد)؛ د دوکتورا تېزس و چې د (۱۳۹٦ل) کال په وروستيو کې مې چاپ ته وسپاره، دا چې دا مهال مې د ليکوالۍ له چاپي عمر څخه پوره دېرش کاله تېر شوي وو او له ژوند څخه پوره پنځوس کاله، نو د (پنځه لسيزې) ژوند او (درې لسيزې) ليکوالۍ په زماني واټن کې مې ټول (پنځوس عنوانه) اثار راټول، وليکل او وژباړل چې ټولټال څه کم څوارلس زره مخه شول او دا مې په (۱۴) ټوکونو کې د کلياتو په بڼه د (۱۳۹٦ل) کال په وروستيو کې چاپ ته تيار کړل. په دې اثارو کې البته (درې) بېلابېل اثار چې (دوه) يې د تعليمي نصاب ژباړې او (يو) يې د سياسي او ټولنيزو ليکنو ټولګه وه، شامل نه وو چې هغه ان تر دې دمه زما لاس ته رانغلل. د (۱۳۹٦ل) کال تر وروستيو پورې په حقيقت کې ما د خپل دېرش کلن فرهنګي ژوندانه دوسيه بشپړه کړه. تر هغه وروسته يو کال تېر شو، اوس د (۱۳۹۷ل) کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروستۍ شپې ورځې دي، د دې کال په بهیر کې مې هم یو شمېر لیکنې وکړې او همدارنګه یو زیات شمېر ګړنۍ ویناوې چې دا د همغو لیکنو اساسي برخه ده چې زه یې پر بیا راټولونې بریالی شوم. دا لیکنې چې اوس ګورئ د (۱۳۹۶ل) کال له وروستیو بیا د (۱۳۹۷ل) کال تر وروستیو پورې یو کلن مهال رانغاړي او د بېلابېلو پېښو او تاثراتو څرګندونه کوي. دې لیکنو کې هغو محرومیتونو ته نغوته شوې چې همدا اوس زموږ ولس ورسره لاس او ګرېوان دی.

هره پېښه د خپل خاص چاپېریال او علت تر اغېز لاندې لیکل شوې ده. اوس خو هغه پېښې، خوړې وې که ترخې، ټولې تېرې شوي، خو د دې لیکنو د لیکلو او بیا راټولو موخه همدا ده چې پېښې د تاریخ حافظې ته وسپارل شي او بل پښت ته ژوندۍ پاتې شي. افغانستان د پېښو هېواد دی، دلته پېښې یوه پر بل پسې په متواتر ډول زېږېدلي، له منځه تللي او هرې زړې پېښې بیا یوه نوې پېښه زېږولې ده، خو په خواشینۍ سره چې د پېښو د علت او معلول په باب افغان پوهانو ډېر څه نه دي لیکلي، که هغوی په خپله زمانه کې هره پېښه څېړلې او ارزولې وای، نو نوي پښت کولای شول چې له همغو لیکنو په الهام سره د یو شمېر ناوړه پېښو مخه ونیسي. ګڼو بهرنیو لیکوالو پر افغانانو نیوکې کړې چې د خپل هېواد د تاریخ او پېښو په باب یې ډېر څه نه دي لیکلي او که څه یې لیکلي هم دي، ډېر یې خوندي نه دي پاتې شوي. بهرنیو لیکوالو بیا په خپل زړه چې څه لیکلي، په خپله خوښه او د خپل لید له زاویې یې لیکلي دي. د افغانانو هر نسل چې د خپل تېر نسل او یا حوادثو په باب مطالعه کوي، نو لومړی لاس اخځونه یې همغه اثار وي، چې بهرنیانو لیکلي دي. که پخوانیو زمانو کې هر څومره دا نیمګړتیا پېښېدله، خو تر دې وروسته باید دا نیمګړتیا بشپړه شي. ما د یوه افغان او عادي لیکوال په توګه دا نیمګړتیا حس کړې وه، نو په دې خاطر مې په تېرو درېو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لسيزو کې تر خپلې وسې هر څه په منظم ډول ليکلي، خوندي کړي او پر خپل وخت مې چاپ او بيا مې تر دېرش کلن ليکنيز بهير وروسته يو ځل بيا د (١٣٩٦ل) کال په پای کې د کلياتو په بڼه چاپ کړل او هم مې د انټرنېټ په څپو هېوادوالو ته ورسول.**

**دا اثر هم د همغې پيل شوې لړۍ يوه بله کړۍ ده چې د يوه کال هغه پېښې رانغاړي، چې زه ورڅخه په يو نه يو ډول اغېزمن شوی يم. که ټولو افغانانو په تېرو څو لسيزو او په تېره بيا اوسمهال د هېواد حوادث په منظم ډول ثبت کړي وای او يا يې ثبت کړي، نو د هېواد هېڅ پېښه به د اوسني او راتلونکي پښت له نظره پټه پاتې نه شي. بهرنيانو ته به په خپله د افغانانو په قلم لومړی لاس مواد ګوتو ته ورشي او د هغو د څېړنې او ارزونې له لارې به په ګانده کې د ناوړه پېښو د پېښېدو مخنيوی شونی شي.**

**په دې اثر کې لنډې او د منځنۍ کچې هغه ليکنې راغلي دي چې اکثره يې زما د خپلې فيسبوکپاڼې او نورو رسنيو له لارې خپرې شوې دي. هغه وړې او څو جمله ييزې ليکنې په کې نه شته چې اوسمهال په فيسبوک کې باب دي او وجيزه يې بڼه لري. په دې ټولګه کې زما له هڅو سره سره که څه هم زما د يو کال اکثره ليکنې راغلي، خو بيا هم يو شمېر ليکنې په کې لادرکه شوي دي. په دې يو کلن بهير کې ما د هېواد د بېلابېلو مسايلو په باب ګڼې ويناوې او مرکې هم کړي چې اکثره يې د ځينو مستندو او لنډو يادښتونو پر بنسټ برابرې شوې دي، په سيمينارونو، ورکشاپونو او علمي غونډو کې مو هم خبرې کړې، د افغانستان ملي تحريک له خوا په رابلل شويو غونډو کې مو هم خبرې کړي، د تحريک په استازۍ مو د مهمو مسايلو په باب هم ويناوې کړې او هم مو ليکلي پيغامونه اورولي او خپاره کړي دي. که څه هم د ځينو مسايلو په باب ويناوې مهمې وې او په کار وه چې د هغو ليکنی متن هم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترتیب شوی وای، خو د وخت د لنډون او ځینو نورو عواملو له کبله مو د دې سیاسي او ټولنیزو ویناوو لیکنی متن ترتیب نه کړای شو. یوازې پر همغو لیکنو مو بسنه وکړه چې لیکنی متن یې موجود و. دا لیکنې پر خپل وخت ځینو هېوادوالو لوستي، پر هغو یې خپل نظرونه هم څرگند کړي، د تائیدي او ردي نظرونو ترڅنگ سمونپالي نظرونه هم په کې شامل وو، چې د هغو ټولو راوړل دلته شوني نه برېښي او نه یې اړتیا احساسېږي، خو یو ځل بیا مې په کتابي بڼه ځکه راټولې کړې چې زموږ نوي او راتلونکي پښت ته ددغه تاریخي مهال او واټن په باب د یو ټولیز انځور په توگه وړاندې شي او همدارنگه هغه درنو لوستونکو ته چې دا لیکنې او یا د هغو له جملې څخه ځینې یې لوستلي، هغو ته هم د یوې ټولگې په توگه وړاندې شي. زه هیله لرم چې نور لیکوال هم دې ته ورته کار ترسره کړي او په دې ډول ټول د هېواد د فرهنگ د بډاینې په برخه کې د ډله ییز خدمت جوگه شي.

هېواد ته د زیاتو فرهنگي خدمتونو د ډالۍ کولو په هیله

محمد اسمعیل یون

(۱۳۹۷ل) کال، د کب (۲۸)مه نېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژبني محروميتونه

*د (۲۰۱۸م) کال د فبرورۍ پر (۱۹)مه نېټه، چې د (۱۳۹٦ل)کال د سلواغې له (۳۰)مې نېټې سره سمون خوري، په ډنمارک کې د افغانستان ملي تحريک له خوا د مورنۍ ژبې نړيواله ورځ د يوه علمي سيمينار په ترڅ کې ونمانځل شوه. دې سيمينار ته مې يو پيغام لېږلی و چې متن يې په دې ډول دی:*

**تر هر څه دمخه ډنمارک مېشتو افغانانو او له اروپايي هېوادونو څخه دې درانه علمي سيمينار ته د راغلو مېلمنو، استادانو، پوهانو او ټولو مېلمنو د راتګ له امله هغوی ته هرکلی او ښه راغلاست وايم، کور مو ودان چې دې غونډې ته مو ښکلا وبښله.**



**د افغانستان ملي تحريک له ډنمارک څانګې څخه مننه چې داسې يو پرتمين سيمينار يې جوړ کړی. د فبروري يو ويشتمه د مورنۍ ژبې نړيواله ورځ ده، په مورنۍ ژبه خبرې، ليک، لوست او مکالمه کول يو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



الهی حق دی، په دې خاطر ملګرو ملتونو دا د يو انساني حق په توګه خپلو قوانينو کې تصديق کړی، نو دا ورځ د نړۍ په ګوټ ګوټ کې نمانځل کېږي او اړتيا ده چې ونماځل شي، په ځانګړې توګه هغو هېوادونو کې چې ژبني محروميتونه په کې زيات دي. په افغانستان کې ګڼ شمېر ژبې زموږ د هېوادوالو له خوا ويل کېږي، خو له بده مرغه يو شمېر ژبې د خطر له ګواښ سره مخامخ دي. ځينې وړې ژبې چې زموږ پخوانۍ ژبې وې د غرونو په لمنوکې ويل کېدې، تر نيمې زياتې يې له منځه تللي او ډېرې کمې يې پاتې دي.

اوس په افغانستان کې نږدې لس ژبې د مرګ له تهديد سره مخامخ دي او په دې ژبو کې د افغانستان يوه ډېره لويه معنوي پانګه پرته ده، هره ژبه چې له منځه ځي، د هغې مکمله معنوي پانګه هم له منځه ځي، نو دا ژبې د افغانستان د بډ بېلا بېل ګلونه دي او په دې باندې افغانستان ښه ښکاره کېږي. سربېره پر دې چې زموږ وړې ژبې له خطر سره مخ دي، زموږ د اکثريت ژبه (پښتو) هم له لويو ستونزو سره مخامخ ده، سره له دې چې د مرګ خطر ورته نه شته او ورځ پر ورځ غوړېږي، خو بيا هم د اساسي قانون او نورو قوانينو له مخې يې خپل هغه استحقاق ته نه ده رسېدلې، نو موږ هيله لرو چې دا ډول کنفرانسونه چې زموږ د هېواد پوهان او عالمان په کې ګډون کوي، اکثره يې داسې خلک دي چې هغوی ژبني محروميتونه درک کړي او د هغو د حل پر لارو چارو باندې ډېر ښه پوهېږي، نو دا سيمينار چې نن جوړ شوی زموږ همدا ډول متخصص هېوادوال په کې ګډون کوي، دوی به دا موضوع لا ښه روښانه کړي او پرېکړه ليک به صادر کړي، نو له دغو سيمينارونو څخه بايد په هېواد کې د ژبنيو محروميتونو او محکوميتونو د له منځه وړلو لپاره اساسي ګټه پورته شي، د ولس ذهن روښانه شي او پر حکومتي چارواکو غږ وشي چې له نافذه قوانينو سره سم دې نه يوازې د لويو ژبو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره چې قانون کې تسجيل شوي دي، کار وکړي، بلکې زموږ وړې ژبې چې زموږ د فرهنګ د بن ببلا ببل ګلونه دي هغه هم بايد مړاوي نه شي او ډېره پاملرنه ورته وشي. اوس بلوڅي ژبه، پشه يي او نورستاني ژبې او همدارنګه پاميري، ترکمنۍ ژبې او همداسې نورې ګڼې ژبې له سختو ستونزو سره مخامخ دي، موږ هيله لرو د اساسي قانون له پرېکړو سره سم چې د ژبو د خونديتابه په اړه، لکه څنګه چې قانون واضح کړې ده، يو مضمون په هغو سيمو کې چې دوی اوسېږي د هغه قوم په مورنۍ ژبه تدريس پيل شي، چې دا ژبې مړاوې نه شي او له منځه لاړې نه شي.

هغه خلکو ته چې غواړي افغانستان اکثره نورې ژبې ختمې شي او ژبنی ستم کوي، زموږ دا پيغام دی چې راشئ مسئله واضح کړو، چې څوک ژبنيو محروميتونو ته لمن وهي او چا ژبنی محروميت رامنځته کړی؟ نو دا ډول غونډې او سيمينارونه د دې موضوع د وضاحت لپاره ډېر ګټور دي.

مخکې چا جرئت نه کاوه چې سپينه خبره وکړي اوس د علمي غونډو او سيمينارونو، رسنيو همدارنګه د ورکشاپونو، مشاعرو او لاريونونو له لارې هر سړی خپل غږ پورته کوي. موږه د ټولو هغو افغانانو ملاتړ کوو چې په دې هېواد کې اوسېږي او ژبنی محروميت احساسوي، يو ژبنی ستم افغانستان کې حاکم دی، له ډېرو کلونو راهيسې د نورو ژبني حقوق له منځه وړي او تر ټولو زيات فرياد هم هغوی کوي چې زموږ ژبه تر خطر لاندې ده.

د حل يوه ښه لاره دا ده چې د افغانستان تعليمي نصاب کې ټولو هېوادوالو ته د دې زمينه برابره شي چې ماشومان په خپله مورنۍ ژبه تعليم وکړي، هېڅ يو قوم محروميت احساس نه کړي، البته که د ټولو لپاره زمينه نه برابرېږي، نو هغه څوک چې تر ټولو زيات ژبنی محروميت

(c) ketabton.com: The Digital Library



احساسوي، لومړی دې هغو ته زمینه برابره شي. په مورنۍ ژبه زده کړې کول کومه سیاسي پروسه نه ده، دا یوه بشري حقوقي موضوع ده، دا باید له سیاسي موضوع سره ګډه نه شي، له دې څخه ناوړه سیاسي ګټه پورته نه شي او څوک چې ددغه حق غږ پورته کوي پر هغه باندې باید د نیشنلیست او فاشېست ټاپه پورې نه شي. له هېوادوالو په تېره بیا له ځوان روشنفکره قشر څخه زموږ هیله دا ده چې نور دې په دغسې حساسو مسایلو کې د چا د ټاپې او اتهام پروا و نه لري، ځکه حق اخیستل کېږي، دغه تورونه باید موږه وزغمو او پر دې ارزي چې پر موږ باندې سل ټاپې ولګېږي، خو موږ باید له حقیقته ډډه ونه کړو.

یو ځل بیا له ډنمارک مېشتو افغانانو، د افغانستان ملي تحریک او همدا رنګه دې سیمینار ته چې له ډنمارک پرته له نورو هېوادونو زموږ متخصص هېوادوال راغلي او دې سیمینار کې خبرې کوي، ټولو ته کور ودانی، هرکلی او ښه راغلاست وایم، کور مو ودان. د یو سوکاله غښتلي، لوی، یو موټي او پرمختلي افغانستان په هیله.

ستاسو ورور

محمد اسمعیل یون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ټاپي د خلکو د ټپونو درملنه

*دا لیکنه د (۲۰۱۸م) کال د فبروري پر (۲۳)مه نېټه، چې د (۱۳۹٦ل) کال د کب له (۴)مې نېټې سره سمون خوري لیکل شوې او پر یاده نېټه د انټرنېټ پر ځېنو خپره شوې ده. دا لیکنه په افغانستان کې د ټاپي پروژې د پیل په باب لیکل شوې ده.*

**نږدې دوه نیمې لسیزې کېږي چې د ټاپي پروژه د هېوادوالو په زړونو او فکرونو کې ګرځېدله، تر (۲۵) کلونو وروسته دا دی دا خیال او ارمان پر واقعیت بدل شو. هغه وختونه هم تېر شول چې د (بریډایس) او (یونیکال) شرکتونو تر منځ د دې پروژې پر سر سیالي روانه وه.**



**د دې سیالۍ په بهیر کې یو شمېر جنګسالاران دې ته تیار وو چې د دې شرکتونو له خوا په ډېر کم رشوت، هغوی ته زیات امتیاز ورکړي، خو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی خدای(ج) فضل وکړ او جنګسالارانو ته د دې شرکتونو د بډو د ورکړې زمینه برابره نه شوه، نو په دې ډول هغوی پر دې بریالي نه شول چې خپل جنګي ماشین د ملت په ملي پانګې تغذیه کړي. کلونه ډېر تېر شول، انتظار هم ډېر اوږد شو، خو ثمر خوږ او پوخ شو. د ایران ستراتیژیک ارمان له ماتې سره مخ شو، د هغوی کورني تالیخښي پر دې بریالي نه شول چې د اخلال کچه پورته او هغه لا پسې وغځوي. دا پروژه که له یوې خوا یوه اقتصادي پروژه ده، له بلې خوا یوه ملي پروژه هم ده، په دې پروژې سره د پاکستان مداخلې د هغوی له اقتصادي ګټو سره تړل کېږي، دلته به جګړه د هغوی د اقتصادي ګټو د نزول په قیمت تمامېږي. د پاکستان چارواکي بیا داسې ځانګړنې لري چې د خپلو اقتصادي ګټو لپاره د خپل حیثیت سودا ته هم تیار دي. د څلورو هېوادونو ګټې د یوې نللیکې له لارې تړل کېږي، هر څوک چې پر دې اقتصادي رګ ګوزار کوي، په حقیقت کې د څلورو هېوادونو او د هغو د ملتونو پر ګټو ګوزار کوي.

افغانستان د انرژۍ له داسې سرچینې څخه برخمن کېږي چې پخوا یې هم ورته اړتیا وه، خو اوس ورته د نوش دارو حیثیت لري. طالبانو او یا لږ تر لږه د هغوی یوې ډلې هم د ملي ګټو په درک سره له دې پروژې څخه خپل ملاتړ څرګند کړ. د طالبانو دا حرکت هم د دې پیغام ورکوي چې د هغوی پوځي او مذهبي دریځ ورو ورو د سیاسي دریځ د منطق لمن نیسي، دا کار د دې سبب ګرځي چې د جګړې د دوام لپاره نورې پلمې ورو ورو خپل رنګ او ارزښت بایلي، دا حالت به د دې سبب هم شي چې په هېواد کې د سولې لپاره ور پرانیځي. کله چې په هېواد کې سوله راشي، نو د پردیپالو عناصرو او ډلو غوړونه خپله ورو ورو مړاوي کېږي، په ټاکنو کې درغلي نه شي کولای، د هېواد ځمکنۍ بشپړتیا ته ګوانښ نه شي پېښولای او د افغانیت او اسلامیت پر ضد پټې او ښکاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



توطيې نه شي جوړولای. دا پروژه د هېواد د اقتصاد رګونو ته قوت ورکوي. هېوادوالو ته د کار روزګار زمينه برابروي او له دې پروژې څخه تر لاسه شوې پانګه او انرژي د نورو لويو پروژو پرانيستو ته لاره اواروي. له ټولو سياسي ډلو او اشخاصو څخه هيله کوو چې ملي پروژې او ملي ګټې له سياسي نظرياتو او تمايلاتو څخه لرې وساتي، حکومت وي، که ولس، ښو کارونو ته يې بايد ښه ووايو، هغه تائيد کړو او نيمګړتياوو ته يې ګوته ونيسو او د سمون لاره وروښيو.

درنښت

په هېواد کې د ټاپي په شان

د نورو ټاپ او لويو پروژو د بريا په هيله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ټاکنیزه کودتا

*دا لیکنه د (۲۰۱۸م) کال د می پر (۱۱)مه نېټه چې د (۱۳۹۷ل) کال (غويي) میاشتې له (۲۱)مې نېټې سره سمون خوري، هغه وخت ولیکل شوه چې حکومت پرېکړه وکړه، د ولسي جرګې د ټاکنو لپاره پر اصلي تذکرې سربېره د هغو په فوتوکاپۍ هم د ستېکر لګولو اجازه ورکول کېږي.*

**د تورې، سپينې، سرې، سياسي، پوځي او نورو ډول ډول کودتاګانو نومونه مو اورېدلي وو، خو اوس د ټاکنيزې يا انتخاباتي کودتا له اصطلاح سره هم مخامخېږو.**

**د طالبي نظام تر ړنګېدو وروسته افغانستان د جمهوري رياست، ولايتي شورا او ولسي جرګې څو پرلپسې ټاکنې ترسره کړې. په دې تېرو ډول ډول ټاکنو کې ډول ډول درغلۍ، ستونزې، اشتباهات او نور مشکلات وو. هيله وه، چې تېرو تجربو ته په کتو سره د راتلونکو او نوو ټاکنو لپاره لاره اواره شي.**

**په واحدې او اصلي تذکرې د يوې واحدې رايې کارول او د رايې ورکوونکو د نوملړ او حوزې معلومول، د رڼاوي لپاره يوه مهمه لار وه. که څه هم يوازې دې کار بسنه نه کوله؛ د شفافيت لپاره نور عناصر هم بايد ورسره ملګري واى، لکه د ټاکنيزو کمېسيونونو ناپېيلتوب او مسلکيتوب، د حکومت بې طرفي، د امنيت ټينګښت، ټولو سيمو ته د ټاکنيزو وسايلو مساويانه رسول، هر افغان ته د تذکرې وېش او نور ګڼ ضروري ارکان؛ خو له دې ټولو اړتياوو يوازې يوې اړتيا ته په نسبي ډول پاملرنه وشوه او هغه دا چې د اصلي تذکرو له مخې دې ټاکنې وشي. په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګډوله حکومت کې د ډاکټر عبدالله ونډې او د هغوی اړوندو انتخاباتي متخصصينو پر دې ټينګار کاوه، چې انتخابات بايد د ووټر لېست او تذکرې پر اساس تر سره شي. د دې خبرې تر شا د دوی سياسي هدف دا و، چې اکثره پښتون مېشتو سيمو کې نا امني ده، يو زيات شمېر خلک تذکرې نه لري، طالبان هم خلک تذکرو اخيستلو ته نه پرېږدي، زياتې ښځې هم تذکرې نه لري او د نويو تذکرو وېش هم اسانه کار نه دی، په تېره بيا دا چې د تذکرو د وېش بهير هم د دوی تر اغېز لاندې وي؛ نو که په داسې يو حالت کې ټاکنې ترسره شي، ولسي جرګې ته به د جمعيت، نظار شورا او شمالټلوالې نوماندان تر نورو زيات بريالي شي او د همدې ډېټابېس پر اساس به د جمهوري رياست ټاکنې هم د دوی تر کنټرول لاندې راشي، نو ځکه يې د تذکرو پر بنسټ پر نويو ټاکنو ټينګار کاوه. کله چې د تذکرو له مخې نومليکنه پيل شوه، دا بهير هغه شان نه و چې دوی فکر کاوه، په اکثره پښتون مېشتو ولايتونو کې د نومليکنې بهير که څه هم ښه نه و، خو د ښه کېدو پر لوري روان و او کله چې په ولسواليو کې دا بهير پيل شوی وای، له ګڼو امنيتي مشکلاتو سره سره به بيا هم حالات هغه شان نه وای، چې ټلوالې يې هيله لرله.

دې سره په بېلابېلو سيمو کې د نفوسو ابتدايي او احتمالي شمېر هم تثبيتېده او که چېرې په ناامنو سيمو کې امن راغلی وای او يا طالبانو مخالفت نه وای کړی، نو بيا خو حالات بېخي مثبت لوري ته تلل. اکثرو پښتون مېشتو ښارونو کې ګڼو نوماندانو د خپلو ځاني ګټو لپاره ولس دې ته وهڅاوه، چې هم زړې تذکرې ثبت کړي او که څوک تذکرې نه لري نوې تذکرې واخلي او ثبت يې کړي. دې بهير کې د حکومت کوم فعاليت او کمال محسوس نه و، بلکې د کانديدانو ضرورت او تشويق و، چې خلک يې نومليکنې ته وهڅول.

کله چې د اصلي تذکرې پر اساس نومليکنه پيل شوه، نو خلکو خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رښتينو خدمتګارانو ته د تذکرو ټولول پيل کړل، دا مهال د زر او زور خاوند نوماندان د پيسو په زور د تذکرو د راټولولو په لټه کې شول، نو ځکه خو تذکرې له ځمکې څخه اسمان ته پورته شوې او خلک د نويو تذکرو اخيستلو ته وهڅېدل.**

**په ښارونو کې د نوملیکنې تمدیدي وخت لا پيل شوی نه و، چې جمهوري رياست او د ټاکنو کمېسيون اعلان وکړ، چې د تذکرو پر کاپۍ هم ټاکنيز سټيکر لګېدلی شي، دې کار هغو کانديدانو کې وينه وغوړوله چې تردې دمه د اړتيا وړ اصلي تذکرو راټولولو ته حيران دريان پاتې وو.**

**اوس راځو د اصلي تذکرې پرځای پرکاپۍ باندې د سټېکرو لګولو ګټو او زيانونو ته:**

## الف- ګټې:

*۱- لومړۍ ګټه يې داده، چې ووټر يا رايه ورکوونکی به د امنيت يا خونديتابه احساس وکړي، کله چې طالبان او يا نور مخالفين ورته په ټاکنو کې د احتمالي ګډون له امله ګواښ وکړي؛ نو دوی به اصلي تذکره ور ښکاره کړي او وايي به چې زه په ټاکنو کې ګډون نه کوم. دغه دی تذکره مې سټيکر نه لري.*

*۲- که چېرې پر اصلي تذکره سټيکر ولګوي او هغه ترې سر له همدې اوسه کوم کانديد واخلي، نو تر ټاکنو يا لږ تر لږه تر نوملیکنو پورې به دا تذکره نوماند سره پاتې وي او که د ده ورته اړتيا پېښه شي، نو د بيا ترلاسه کولو لپاره به يې طبعاً څو ورځې وخت ته اړتيا ولري.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ب - زيانونه:

۱- تر ټولو لومړی زيان يې نوماند ته دی چې يو ووټر کولای شي له خپلې اصلي تذکرې څخه څو کاپۍ واخلي، په بېلابېلو محلونو کې يې ثبت کړي، له بېلابېلو نوماندانو پيسې واخلي، ټول له ځانه خوشحاله او د هغوی د ووټ تقاضا لوره کړي، کېدی شي ووټ يو يا څو تنو ته استعمال کړي.

۲- د نوملیکنې پرمهال کېدی شي، غبرګون، تکرار يا ډوپليکېشن رامنځته شي. په يوه نوم او يوې تذکرې څو کانديدانو خپل نومونه ثبت کړي وي. کله چې د نوملړ د چک وخت راځي، نو د دوو کانديدانو ترمنځ به لانجه پېښېږي. د شکاياتو کمېسيون به مجبور وي د هغه چا په ګټه پرېکړه وکړي، چې تر ټولو دمخه يې ځان ثبت کړی وي، که څه هم اصلي او حقيقي رايې ونه لري. دا مهال به دواړو نوماندانو ته د اصلي تذکرې راوړل هم ستونزمن وي.

۳- يو سړی کولای شي په کاپي تذکرو د يو ښار او يا يو ولايت په بېلابېلو ټاکنيزو محلونو کې ځان ثبت کړي او خپلې ګڼې رايې څو بېلابېلو محلونو کې وکاروي.

٤- يو نوماند کولای شي سر له همدا اوسه خپل پنځه سوه (۵۰۰) اعتباري کسان په لسو بېلابېلو محلونو کې ثبت کړي او د ټاکنو پر ورځ يې د واحد ترانسپورټ په ذريعه پر اړوندو مرکزونو وګرځوي او په دې ډول د پنځه سوه تنو په وسيله پنځه زره جعلي رايې راخپلې کړي.

۵- ويل کېږي چې تر ټاکنو دمخه د لېست د چک په خاطر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېټابېس تکراري اشخاص تثبيتوي او يو تن چې په څو محلونو کې يې ځان ثبت کړی وي راباسي او يوازې يو واحد مرکز کې يې پرېږدي چې رايه ورکړي، دا يو ښه کار دی که عملي شي، خو که ډېټا انټري او ډېټابېس ته هم زورورو نوماندانو لاره پيدا کړه او د ټاکنيزو کمېسيونونو مامورينو هم ورسره لاس يو کړ، نو د ډوپلېکېشن په پلمه به د خپل مخالف کانديد پلويان له لېسته وباسي او په دې ډول به خپل ځان ته لاره هواره کړي. دا مهال به اصلي معترض کانديد د دې وخت هم ونه لري چې اعتراض وکړي او خپل اصلي ووټران بېرته ډېټابېس ته ور داخل کړي. هرڅه به د ټاکنو د ډېټابېس د مامورينو د ترحم او قضاوت قرباني شي.

٦- که احياناً ډېټابېس کې سم چک ترسره نه شي، نو تر ټاکنو وروسته به د ډبل رايو پر سر بيا هم جنجال روان وي. که چېرې په بېلابېلو محلونو کې په يوه نوم دوه رايې کارېدلې وي او يو کانديد پر بل کانديد د دې ډول رايې کارونې تور پورې کړي؛ نو بيا يې سپينول هم څه اسان کار نه دی، دا مهال به د شکاياتو کمېسيون د مامورينو غوا لنګه وي، چې د چا په ګټه فيصله کوي.

۷- وايي چې د ګوتې رنګ به هم د تکراري يا ډبل رايو مخه ډپ کړي. تېرو ټاکنو ته په پام سره دا وسيله به هم سل په سلو کې اغېزناکه نه وي.

۸- د اصلي تذکرې پرځای د هغې کاپي کارول به ځينو ملکانو، خانانو او په اصطلاح ځينو مدني فعالانو ته ډېره ښه زمينه برابره کړي، چې په ځينو کانديدانو تکراري، خو راجستر شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تذکرې خرڅې کړي.

۹- د فوتو کاپۍ د ماشين کارونکو بازار به هم ګرم کړي، ځکه چې ځينې ماشينونه د دې وړتيا لري چې يوه کاپي ځانته خوندي کړي، البته تر ستېکر مخکې حالت او هغه بيا بېلابېلو نوماندانو ته ورکړي چې ثبت او ستېکر يې کړي، په دې ډول به د راکړې ورکړې يو لوی بازار ګرم شي.

۱۰- هغه نوماندان چې اوس د نومليکنې يو زر اصلي تذکرې نه شي پيدا کولای، هغه به په دې بريالي شي چې په اسانۍ سره نومليکنه وکړي.

۱۱- يو شمېر کانديدان به بيا د پيسو په مقابل کې د نورو کانديدانو په ګټه تېر شي، خو انتخاباتي چاپېريال به ډېر ګډوډ کړي. هر سړی او نه سړی به هم نوماندۍ ته وهڅېږي.

۱۲- يو شمېر زورور او پانګوال نوماندان به د نېکو کانديدانو د نفوس په ساحه کې نا اهله کانديدان ور زيات کړي او د هغو د رايو د وېشنې سبب به شي.

۱۳- ټاکنيزو کمېسيونونو ته به هم د شفافيت او رڼاوي په پلمه زمينه برابره شي، چې ګڼو کانديدانو سره معامله وکړي او د نا مشروع پانګې څښتنان شي.

۱٤- د تذکرو د کاپۍ کارونې په حالت کې د ګاونډيو ولايتونو اوسېدونکي کولای شي، خپل ځان دوو ګاونډيو ولايتونو کې ثبت کړي. په تېره بيا د کابل شاوخوا ولايتونو اوسېدونکي کولای شي پر خپلو ولايتونو سربېره په کابل کې هم خپله دويمه رايه وکاروي، تر اوسه دا څرګنده نه ده، چې د هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



*ولايت ډېټابېس د همغه ولايت په کچه دی او که د ټول افغانستان؛ خو د ټاکنو کمېسيون له اوسني ظرفيت او کفايت څخه څرګندېږي، چې دوی نه د ټول افغانستان په کچه د يو شفاف ډېټابېس د جوړولو جوګه دي او نه هم د هر ولايت په کچه د ځانګړي ډېټابېس.*

**دوی اوس غواړي په اصلي تذکرو د نومليکنې کم شمېر، د تذکرو د کاپۍ له برکته د تکراري ستېکرو له لارې جبران کړي او خلکو ته وښيي چې موږ په ټاکنو کې زيات شمېر خلک ثبت کړي دي. که چېرې نومليکنه د ډېټابېس له مخې وروسته رڼاوي ته راوځي، نو که د ګڼ شمېر کسانو نومونه تکراري بڼه ولري او کمېسيون بيا هغه له ووټر لېست څخه وباسي، نو د ووټرانو شمېر به ډېر راکم شي دا خپله په ټاکنو کې د درغلۍ لومړۍ بېلګه ګڼل کېدی شي، خلک به ووايي چې په نومليکنه کې دې دومره درغلي ده، نو په ټاکنو کې به دې څه حال وي؟**

**د ټاکنو کمېسيون به دې ته حاضر نه شي، چې سم رڼاوی رامنځته کړي او که چېرې يې واقعاً رڼاوي ته زړه وای، نو نومليکنه بايد هم رڼه وای.**

## ج- حل لارې:

**يوه واحده او اصلي تذکره د حل لاره ده. د اساسي قانون له مخې ټاکنې بايد عادلانه، سري، مستقيمې او سراسري وي. حکومت بايد لومړی هر افغان (ښځه او نر) ته تذکرې ووېشي، هېڅ افغان بايد له تذکرې پاتې نه شي، مخکې تر دې چې ټاکنې ترسره شي په هر ځای کې بايد سوله ټينګه شي، که پر واحده ورځ په ټول هېواد کې سوله نه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شي ټېنګېدی، نو انتخابات دې ولايت په ولايت يا سمت په سمت ترسره شي، حکومت دې لومړی په يوه ولايت يا ساحه کې بشپړ امنيت ټينګ کړي بيا دې هلته ټاکنې ترسره کړي، ټاکنيز کمېسيونونه بايد ناپيېلي او مسلکي شي. حکومت بايد په ټاکنو کې هېڅ ډول لاسوهنه ونه کړي. ټاکنيز محلونه بايد د جغرافيې او نفوسو د اندول له مخې برابر، مساوي او متناسب وويشل شي. عامه پوهاوی او ځينې نور اړوند ضروري کارونه بايد ترسره شي.**

**که ټاکنيز کمېسيونونه حتماً د تذکرو پرکاپي د سټيکر ټينګار کوي، نو بيا بايد د رايه اچونې پر وخت د سټېکر شوې تذکرې له کاپي سره اصل هم موجود وي. کله چې يو ووټر ته ووټ کارت ورکړل شو، نو د اصلي تذکرې پر وروستي مخ دې انتخاباتي ټاپه ووهل شي، چې نوموړی شخص رايه ورکړه، په دې ډول به که چېرې يو شخص په سټيکر شوې تکراري کاپي بل ووټ استعمالوي، نو له اصلي تذکرې پرته بايد ورته جواز ورنه کړل شي، نو کله چې يې اصلي تذکره ټاپه شوې وي د بل ووټ حق له لاسه ورکوي او په دې ډول د غبرګې او تکراري رايې مخه نيول کېدی شي.**

## يادښت:

*دا ليکنه د نن ورځې د مهمې اړتيا له مخې په ډېره بېړه ليکل شوې، نورو توضيحاتو او څرګندونونو ته هم اړتيا شته، هغه به که خدای کول بل وخت تاسو سره شريک کړو.*

**اوس لپاره همدومره**

**مننه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زهير هم وکوچېده

*د (۲۰۱۸م) کال د می پر (۱۸)مه ماښام په ننګرهار کې ډېره دردوونکې حادثه وشوه، په دې پېښه کې زموږ ګڼ شمېر هېوادوال شهیدان شول او زیات شمېر نور ټپیان شول. پېښه په کرکټ لوبغالي کې د لوبې پر مهال رامنځته شوه، یوه ورځ مخکې ما ته خواږه ملګري (هدایت الله زهیر) زنګ راووهه، ویل یې استاده! د کرکټ رمضان کپ د سیالۍ پیل دی، غټ جشن دی، د ماښام تر روژه ماتې وروسته، نو که ورته راشې ډېر به خوشاله شم، ما ترې ښښنه وغوښته، ما ویل ډېر مصروف یم. د شپې مې خبرونه وانه ورېدل، سهار چې کله دفتر ته پر لاره وم، نو له ننګرهاره ټلېفون راغی، استاده خبر نه یې، ما ویل څه خبره ده؟ ویل یې (زهیر صیب) خو شهید شو، تر دفتره د تګ پر مهال پر ځان نه یم پوه شوی، کله چې دفتر ته لاړم، نو دروازه مې ځان پسې کلکه کړه، د زړه له درده مې وژړل، کله چې لږ په ځان شوم، نو د شهید زهیر په باب مې دغه څو کرښې ولیکلې:*

د الله هدایت او پر ملت زهير هم له يو ټولي ملګرو سره له موږه وکوچېد. ، له موږه ستړی مرور شو، د ابدي سفر لمن يې ونيوه. ننګرهار بې ځراغه شو، څوک به وي چې اوس د خپلواکۍ پر ورځ د ننګرهار فضا ګلورينه کړي ؟څوک به وي چې دغم په شپېو کې د ځوانانو پر شونډو موسکا راولي؟څوک به وي چې ننګرهار کې د مېلمه پالنې ټغر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خور کړي؟څوک به وي چې دلوی افغانستان لپاره ناره پورته کړي؟**



**زهيره! ته خو لاړې خو دا يوه ګيله مو خپل رب ته ورسوه چې ته خو رحمان او رحيم يې، موږ په وچه ګېډه ستا عبادت کړی او هېڅکله مو ستا له بندګۍ څخه بغاوت نه دی کړی، نو دا ستا د رحمت باران به کله پر موږ اوري؟**

**ای په دنګه ځوانۍ کې د لوی فکر خاونده! هېڅ فکر نه کوم چې ته به تللی يې، زه خو وايم چې زه به ننګرهار ته درځم (کمال) به وي (سهار) به وي، بنډار به وي. نه پوهېږم څه وليکم الفاظ راڅخه تښتي. داسې الفاظ به وي چې ستا د دنګې ځوانۍ انځور وکاږي؟ بنه به وي چې د خپلې خونې ور بند کړم او ستا پر غم يوازې له ځان سره په زوره زوره وژاړم...**

**د خدای پامان زهيره! پر ما زهيره، پر ملت زهيره، پر انسانيت زهيره او پر هر چا زهيره!!!**


(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما پهلوانه وروره!

*دا وره لیکنه مې د پاکستاني پوځیانو له خوا د پښتنو ژغورنې غورځنگ د ستر مبارز او د لوی افغانستان د جوړېدو ارمانجن (علي وزیر) د نیونې او ځورونې پر مهال لیکلې وه او د (۲۰۱۸م) کال د جون میاشتې پر (٦)مه نېټه، چې د (۱۳۹۷ل) کال د غبرگولي له (۱٦)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.*

**ای علي وزیره، ای ستره انسانه، ای ستره افغانه! څومره سخته ده چې زه یې د ونې تر شا له غبرگو لاسونو او پښو تړلی یم او زما د سترگو پر وړاندې ستا پر ملا د اغزنو متروکو گوزارونه کېږي، ستا پر ملا هر خرپ زما پر زړه یو پرهر جوړوي.**



**وروره بېوسه یم، په زنځیر تړلی یم. سبانی نسل دې پېغور نه راکوي چې ورور دې ونه گاته؛ پر هغه د تورو گوزارونه وو او تا یې ننداره کوله. کله چې زما سترگې پټې شوې، نو بیا دې تاریخ زما سترگې ببرته کړي چې زما په اوښکو کې ستا تصویر خوندي وو که نه؟ اوس درته پورته نه شم کتلای، د پلار او مور د لوی وطن د غم پېټی مې تول ستا پر اوږو ایښی، زما پهلوانه وروره اوږه ورکړه، زما رستمه وروره پورته شه، زما امیرحمزه جانانه توره دې پورته کړه...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ای د پخې ارادې خاوندانو!

*دا ليکنه د (۲۰۱۸م) کال د جون پر (٦)مه نېټه، چې د (۱۳۹۷ل) کال د غبرگولي له (١٦)مې نېټې سره سمون خوري له هلمند څخه د سولې ولسي حرکت د راپيل شوي سفر په باب ليکل شوې ده.*

**ای د امن پيغمبرانو!**
**ای د انسانيت د مذهب لارويانو!**
**چېرته روان يئ؟**
**له چا نه څه غواړئ؟**
**او چا ته څه غواړئ؟**
**ايا داسې څوک به وي چې ستاسو د مينې قافلې ته هر کلی ووايي؟**
**څومره مزل په سرو شگو کې او څومره واټن؟**
**ای د پخې ارادې خاوندانو!**
**د تاريخ يوه پاڼه مو واړوله**
**دلته خو تاريخ په وينو ليکل شوی، په اوښکو ليکل شوی**
**خو دا ځل مو د تڼاکو پښو په رڼو اوبو وليکه. ما د دې تڼاکو په هره هنداره کې د دې وطن د يوې ځورېدلې مور انځور وليد.**
**هو مور يادوم مور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې حقه روژه کې یې زامن مساپر دي
ایا د هغې خور او هغې مور انځور به څوک وکاږي چې د ماښام ډوډۍ له اوښکو سره خورينه؟
میندې به یې روژه ماتې ته په تمه وي
خور به یې ډېر ډول خواږه تیار کړي وي
خو په دسترخوان به یې گلالي گلالي ورونه نه ښکاري
ایا د هغې مور، هغې خور او هغه پلار له ستوني به د روژه ماتې مړۍ تېره شي چې زامن او ورونه یې له هلمنده تر کابله د یو سترې سفر لمن نیولې وي؟




ایا میندو به د خپلو زامنو د تناکو پښو هغه تصویرونه لیدلي وي چې رسنیو هغه د انسانانو له سترگو تېر کړي دي؟
ایا د هغې مور او خور د ټیکري پېڅکه څوک انځورولی شي چې په ماښام کې یې خپلو سترگو ته نیولې وي؟
ای د پخې ارادې خاوندانو!
د تکل پر دلدل ناستو سپاهیانو! د عقیدې معراج ته ورسېدلئ

څوک به وي چې ټوله روژه پلی مزل وکړي، روژه په خوله، عقیده په

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه او اراده په مزله کې عملي کړي؟ د کرامو صحابه وو مدارجو ته ورسېدلئ، د هغوی برید مو فتح کړ.

او، های د طلايي مرغيو په دې سترې سېل کې يوې وزرماتې مرغۍ! ستا ارادې ته سلام، تا خو د خپل ورور د جنازې کټ ته هم اوږه ور نه کړه، د هغه سترګې خو ستا پر لوري رڼې پاتې وې، پر هغو دې لاس هم راکش نه کړ او د خپل سېل لمن دې ونيوه، سلام، سلام ستا ارادې ته سلام.

سوله به راشي که رابه نه شي
خو تاسو خپل ايوبي پيغمبري هوډ څرګند کړ.
هو خبر شوم چې اختر به مو هم پر لاره وي.
روژه خو مو ټوله پر لاره تېره کړه، اختر خو هر څوک کور ته وړي، ستاسو اختر به چېرته وي؟ پر کوم کور د چا پر کور او پر څنګه کور؟ زه پوهېږم چې ستاسو ارادې پخې دي، د دې وطن هره تږه ستاسو کور دی، تاسو به ځان يوازې نه احساسوئ، مساپر به يې نه ګڼئ، خو ايا هغې مور ته څوک قناعت ورکولای شي چې د زړه ټوټې يې د اختر پر ورځ هم ورنه جلا وي؟ دا نو د امتحان داسې شېبې دي چې هېڅ انسان ورته تاب نه لري.

ای د لويو ارمانونو څښتنانو! کله چې کابل ته راورسېدئ، نو ګڼ خلک به مو هر کلي ته راووځي، فيسبوکيان به بازار ګرم کړي، د سولې په نوم جوړې شوې انجيوګانې به درته مېلمستياوې وکړي، د ولسمشرۍ ماڼۍ مامورين به هم تاسو سره عکسونه واخلي. جمهور رييس به هم يوه غرمنۍ يا ماښامنۍ درته تياره کړي. ستاسو ترڅنګ به نوي کاغذي اتلان هم وټوکېږي، تبصرې به هم خپرې شي، رسنۍ به څو ورځې ښې ګرمې شي، بهرني سفارتونه به هم تاسې سره ملاقاتونه وکړي، ستاسو د چاودلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تڼاکو دردونه به یو څه کم شي، خو پر زړه به مو داغونه لا ډېر وخت پاتې وي، خو ستاسو تر شا چې کوم اصلي اتلان ولاړ وو (میندې، خویندې او پلرونه) د هغو پوښتنه به هېڅوک و نه کړي، د هغوی تقاضا هم ډېره لوړه نه ده، د هغوی سترېا یوازې په دې دمه کېږي چې خپل ګلان یې بېرته په لمنه کې وغوړېږي.

نو ګورئ ای د اصیلو میندو زامنو! کله چې هم د زمانې له دې دود و دستوره وزګار شوئ، د خپلو میندو په پښو کې ورغړئ، لاسونه یې ښکل کړئ، پښې یې ښکلې کړئ، د ټیکري په پیڅکه یې خپلې تڼاکې پښې وتړئ، په غېږه کې یې دمه شئ، نو هله به د اصلي راحت احساس وکړئ، که زما مور ژوندۍ وای او ما د تاسو په شان توره کړې وای، نو حتمي به لکه د مرغۍ د بچي په شان د مور په لمن کې غوړېدلم.

تاسو دا کار وکړئ، بیا نو نور کار خدای ته پرېږدئ، خدای پوهېږي او خپل کارونه یې، جنت د مور او پلار تر قدمونو لاندې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ولسي جرګې نوماندانو ته خپله غاړه خلاصوم

*دا ليکنه د (۲۰۱۸م) کال د جولای پر (۷)مه نېټه، چې د (۱۳۹۷ل) کال د چنګاښ له (۱٦)مې نېټې سره سمون خوري، په کابل کې د ولسي جرګې تر ټاکنو وړاندې د نوماندانو شمېر د زياتېدو په اړه د يوې اندېښنې په توګه ليکل شوې ده.*

دلته د ټول هېواد په کچه د ولسي جرګې پر نوماندانو بحث نه کوم، يوازې له کابل څخه يادې جرګې ته احتمالي نوماندانو ته مخاطب يم.

کابل (۳۳) څوکۍ لري، (۲۴) يې د نارينه وو او (۹) يې د ښځو لپاره، دې څوکيو ته اوس څه د پاسه (۸۰۰) تنه نوماندان دي، چې اکثره يې د بېلابېلو ولايتونو کابل مېشتي پښتانه دي. که دا نوملړ تر پايه په همدې بڼه پاتې شي، نو زيات احتمال دی چې له پښتنو نوماندانو څخه به يوازې يو څو تنه بريالي شي. راځئ چې په دې باب په کابل کې د مېشتو پنجشېريانو او د ځينو نورو وړو قومونو له تجربو څخه ګټه پورته کړو، هغوی خپل نوماندان منسجم او کم کړل، په دې ډول يې احتمالي بريالیتوب باوري بریالیتوب ته نږدې کړ. څرنګه چې له کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځخه ولاړو نوماندانو کې اکثره شریف خلک او اکثره یې زما شخصي دوستان هم دي، نو په هېڅ وجه یې خفه کولای نه شو، چې ورته ووایو ته د هغه او هغه دې ستا په ګټه تېر شي، نو د دغه فیسبوکي پیغام له لارې ورځخه هیله کوم چې په خپلو کې جرګه شي او یا نورو بې طرفه مشرانو ته د جرګې واک ورکړي چې هغوی د کاندیدانو شمېر راکم کړي او یوازې هغه کاندیدان پرېږدي چې وړتیا یې هم لري او د ګټنې چانس یې زیات وي. زما په شخصي نظر که په کابل کې د مېشته کاندیدانو په ډله کې له ننګرهار ځخه درې تنه، له لغمان ځخه دوه تنه، له کونړ ځخه دوه تنه، له لوګر ځځه دوه تنه، له پکتیا ځخه درې تنه، له خوست ځخه دوه تنه، له غزني ځخه دوه تنه، له میدان وردګو ځخه دوه تنه، د کاپیسا له تګاب ځخه یو تن، له کندهار ځخه یو تن، له ارزګان او زابل ځخه یو تن، له هوتخېلو ځخه دوه تنه، په خپله له کابل مېشتو پښتنو ځخه شپږ اوه تنه او همدارنګه د (۹) ښځینه ځوکیو لپاره د هغو ولایتونو له جملې ځخه چې په کابل کې ډېر نفوس لري، لکه میدان وردګ، ننګرهار، پکتیا، لوګر، کونړ، لغمان، خوست، غزني او ځینو نورو ځځه یوه یوه او خپله له کابل ځخه ځلور پنځه تنه ښځینه ځانونه نوماند کړي، نو د ګټنې چانس یې اتیا سلنه پورته کېږي. له هغې پرته د ډېرو زیاتو کاندیدانو ناکامي له همدا اوسه یقیني ده، نو که زموږ درانه کاندیدان سر له همدا اوسه له نرمۍ، تعقل، فکر او سوچه کار واخلي، هم د دوی او هم د ټول ملت په ګټه ده. زموږ د غریبانو د ورورۍ دا یوه مشوره وه، منل او نه منل یې د کاندیدانو کار دی. د دې وړیا مشورې قیمت کېدی شي ډېر لوړ لاړ شي، د نه منلو په حالت کې ناکامو نوماندانو ته کېدی شي د درې ځلور لکه ډالرو په قیمت تمام شي، نو مخکې تر دې چې دومره لوړ زیان او تاوان وزغمئ، ښه ده چې دا مشوره عملي کړئ!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کابل د ټاکنو په باب
# يوه منته او بله څرګندونه

*دا ليکنه د (۲۰۱۸م) کال د جولای پر (۸)مه، چې د (۱۳۹۷ل) کال د چنګاښ له (۱۷) مې نېټې سره سمون خوري ليکل شوې ده.*

**پرون مې د فيسبوک پر خپو په کابل کې د ولسي جرګې لپاره د احتمالي نوماندانو د شمېر د کمښت په اړه خپل يو نظر ليکلی و، له هېوادوالو منته چې په پراخه کچه يې د دې طرحې ملاتړ کړی و.**

**له نوماندانو: ښاغلي احسان الحق حنفي، غورځنګ سيال، حاجي ميرزا محمد ساپي، انجنير عزت الله نيازي او نورو څخه هم ډېره منته چې دا طرحه يې خوښه کړې ده. د هېوادوالو پراخ ملاتړ، د موضوع په اړه نظر څرګندونه او معقول ملي نظريات د دې ښکارندويي کوي چې زموږ هېوادوال په تېره بيا ځوان نسل د سياسي شعور د پوخوالي پړاو ته رسېدلی او د ورځني سياست حساسيتونه يې ښه درک کړي دي، يو ځل بيا له ټولو څخه منته، اوس راځم د پرونۍ طرحې تطبيقي ميکانيزم ته:**

- **د مخورو يوه لس کسيزه- شل کسيزه جرګه بايد جوړه شي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د اړوندو ولایتونو، ناپېیلي، ژبور، مخور او ملي شخصیتونه په کې راټول وي.

• جرګه باید په کابل کې د هر ولایت د نوماندانو لېست برابر او په ترتیب سره هر یو ته د خپل ملي ماموریت هدفونه بیان کړي.

• له نوماندانو سره تر خبرو او جاج وروسته دې د هر ولایت هغه کاندیدان په نښه کړي چې په ترتیب سره په لومړۍ، دویمه او درېیمه کته ګورۍ کې راځي او تر نورو یې د ګټنې چانس زیات وي.

• د غوراوي لپاره باید دوه معیارونه زیات مطرح وي، د وکالت علمي وړتیا او د بریالیتوب عملي چانس. د ټولو کاندیدانو دا دوه عناصر دې په دقیق ډول وارزول شي.

• تر ارزونې وروسته دې یو ځل بیا د اړوند ولایت له نوماندانو سره یا په ډله ییز او یا هم په انفرادي ډول وګوري او د ځواکمن کاندید د بري څرنګوالی دې ورته تشریح کړي.

• هغه کاندید چې چانس یې تر هغه بل لږ کمزوری وي، که د جرګې په خوښه انصراف ته زړه ښه کړي، نو جرګه دې د هغه پوره درناوی وکړي او د یوې درنې غونډې په ترخ کې دې د بل نسبتاً قوي کاندید په ګټه په خپله خوښه د هغه انصراف اعلان کړي.

• د منصرف کاندید له همکارۍ پرته بیا هم په یوازې سر د ولاړ کاندید د بریالیتوب چانس ډېر کمزوری دی. په دې حالت کې باید جرګه منصرف کاندید دې ته وهڅوي چې له خپلو پلویانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وغواړي، د ده د خوښې کانديد ته رايه ورکړي. په دې حالت کې بايد د منصرف نوماند ټول انتخاباتي ټيم د ولاړ نوماند د ټاکنيز ټيم برخه شي. که جرګه لازمه وګڼي او ولاړ کانديد د مالي وس خاوند وي، د منصرف کانديد د شوي لګښت يوه يا ټوله برخه دې هم پرې کړي، نو په دې حالت کې به د ولاړ کانديد د انتخاباتي ټيم د استحکام او ګټنې چانس لا پسې زيات شي.

• که يو شمېر کمزورو نوماندانو د جرګې مخ و نه کړ، نو جرګه دې يو معيار وټاکي چې که د ټولو کارول شويو رايو (يوه يا صفر اعشاريه پنځه سلنه) پوره نه کړي، نو جرګې او ولس ته به ملامت وي.

• د دې احتمال هم شته چې د جرګې له خوا د منصرف شوي کانديد له انصراف سره سره غوره شوي کانديد هم بريالی نه شي، نو په دې حالت کې ډېر کرېډېټ منصرف کانديد ته پاتې کېږي، چې د جرګې مخ يې وکړ او له خپلې نوماندۍ تېر شو، جرګه هم دا استدلال کولای شي چې د نوماندانو له کمښت سره سره ځواکمن کانديد بريالی نه شو، نو که ټول نوماندان پر خپل ځای پاتې وای، حالت به څنګه و؟ لږ تر لږه خو جرګې د نورو نوماندانو د بې ځايه لګښت مخه ونيوله.

• يو شمېر هغه کانديدان، چې نه د ډېر نفوذ خاوندان دي، نه سياسي او اقتصادي ځواک لري او کېدی شي د ټاکنو تر پايه ډېر ستړي هم شي، د هغوی عزت په دې کې دی چې د جرګې خبره ومني او په دې ډول هم خپله پانګه او هم خپل عزت خوندي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



• په جرګه کې باید داسې مخور شخصیتونه وي چې پر حکومت هم خپل اغېز ولري او د ځینو هغو کاندیدانو د انصراف په حالت کې چې د جرګې له امله یې کړی، پر حکومت فشار راوړي چې د هغوی له شان سره سم یې پر یوه مناسبه حکومتي دنده وګوماري. په دې ډول به یو شمېر نوماندان بریالي شي، یو شمېر به د دولتي موقفونو خاوندان شي، د یو شمېر به عزت خوندي شي او د ځینو به د بې ځایه لګښت مخه ونیول شي.

• د نوماندانو تر منځ د جرګې مرکې او یو د بل په ګټه د هغو انصراف زیاتې ګټې لري، نه غواړم دلته ټولې بیان کړم او نه هم فیسبوک کتونکي د اوږدو لیکنو د لوستلو اوسېله لري. اوس همدومره.


• هغه ولایتونه چې پښتانه په کې په غوڅ اکثریت سره اوسېږي او همدارنګه هغه ولایتونه چې ګڼ قومیزه دي، د هغو د پارلماني ټاکنو په باب به لیکنه ان شاء الله وروسته ولولئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وړاندوينه

***په سياسي مسايلو کې وړاندوينه سخته وي، په تېره بيا د افغانستان په شان په يوه ناثباته ټولنه کې چې د سياست لپاره په کې معيارونه هم پاخه او مشخص نه وي، دا ليکنه ما د (۲۰۱۹م) کال د جولای پر (۲٦)مه نېټه، هغه مهال کړې وه چې زه له هېواده بهر په سفر کې وم او په کابل کې د حکومت او نظام پر ضد يو نوی ائتلاف جوړ شو، ما د خپلې شخصي تجربې له مخې د دې ائتلاف اړکلي عمر وټاکه، ليک مې په خپل لاسليک سره خپور کړ چې هېوادوالو ته د تاريخ حافظه کې د يو سند په توګه پاتې شي، ليک په دې ډول دی:***


وړاندوينه

د ملي ائتلاف په نامه اوسنی ملت ضد ائتلاف د متضادو
ائتلافونو مجموعه ده ، تر دېرو مياشتو زيات دوام نه شي
کولای ، حکومت بايد ورته هيڅ ډول امتياز ورنه کړي .
د سياسي لندغرو دا مافيايي ائتلاف حکومت ته مشروعيت ورکوي ،
کوم جنګسالاران که له دې ټلوالې بهر پاتې وي هغوی هم بايد
د دې ائتلاف غړي شي چې ولس يې له شره خلاص شي .
چې تر ډېره به يې څپلمنځي اختلافات برلاس پېدته شي او د دوی د نورو
ائتلافونو په شان به ديب و يب شي ، حاليک دې نښته وي ،
ولس دې د احه اوسي !

۱۳۹۷ ل کال زري ۴مه

له نېکه مرغه کله چې په ليک کې په ګوته شوی وخت رانږدې کېده، د ائتلاف مزي هم سستېدل او تر ټاکلې نېټې څه موده وړاندې يې نړېدل پيل شول او له يادې نېټې سره سم ياد ائتلاف هم درې وړې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزني کې ناورین

*دا ورځ لیکنه د (۲۰۱۸م) کال د اګست پر (۱۴)مه، چې د (۱۳۹۷ل) کال د زمري له (۲۳)مې نېټې سره سمون خوري، د غزني ښار د سقوط په اړه شوې وه.*

**د غزني پر مظلوم ولس د تپل شوي ناورین ملامت او سلامت لوري دواړه ملامت دي. تاریخ به د بې کفایته حکومت مشرتابه او تمدن**



**دښمنه مخالفین هېڅکله ونه بښي. د هېواد هغو رښتینو بچو او سرتېرو ته درناوی پکار دی چې د ګډوله حکومت د بې کفایته سیاسي مشرتابه له بې تفاوتۍ، ناغېړۍ او ناخبرۍ سره سره یې د ژوند تر وروستۍ سلګۍ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې د غزني دحيثيت او تمدن دخونديتابه لپاره مبارزه وکړه، خپل سرونه يې نذرانه کړل خو خپل راتلونکي نسل ته يې دپېغور داغ پرېنښود. اوس به د گډوله حکومت او گډوله طالبانو دواړو لورو مشرانو ته پته لگېدلي وي چې د جگړې نتيجه څه ده؟ کاشکې اوس لوی خدای پر مونږ دومره لورېدلی وای چې د غزني د ورانۍ د دواړو غاړو اصلي محرکين يې تر هغه پورې د غزني په واټونو کې له پښو ځړولي وای چې پلويانو او لارويانو يې دا سوی ښار بيا رغولای وای! غزنيوالو! مونږ د بېوسه ورونو او خواخوږو په توگه وبښئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ننگرهار غمیزه

*د (۲۰۱۸م) کال سپتمبر پر (۱۱)مه، چې د (۱۳۹۷ل) کال د (وږي) میاشتې له (۲۰)مې نېټې سره سمون خوري، د ننگرهار په مومندرې ولسوالۍ کې د اچین ولسوالۍ د سیمه ییزو پولیسو قومندان (بلال پاچا) پر ضد پر لاریون کوونکو ځانمرگی برید وشو چې په ترڅ کې یې تر (سلو) زیات هېوادوال ټپیان او شهیدان شول. دا لیکنه له همغې پېښې څخه د تاثر په نتیجه کې لیکل شوې ده.*

په ننگرهار کې د ننني غمیزې له امله باید جمهور رییس غني لږ تر لږه دوه ورځنی ملي ماتم اعلان کړي، ور سره سم دې په هر اړخیز ډول د پېښې څېړنه وکړي، اصلي عاملین دې معلوم او سزا دې ورکړي، که سزا




نه شي ورکولای ملت ته دې اعلان کړي. د دې تر څنگ جمهور رییس دې ژر تر ژره د ټول هېواد د رښتینو استازو او مخورو شخصیتونو په گډون د هېواد د اوسني بحران د هر اړخیزې څېړنې، شننې، ارزونې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حل لارو په موخه لويه عنعنوي مشورتي جرګه جوړه کړي. جرګه بايد د بحران ټول اړخونه وڅېړي. بهرنی او کورنی دواړه اړخونه بايد تحليل شي او د بهرني ملامت لوري د ضررونو د مخنيوي لپاره بايد د ملت متفقه عملي ميکانيزم وړاندې شي. کورنی اړخ او لوري بايد هم سم وڅېړل شي؟ څوک ملامت او څوک سلامت دی: شمالټلواله، طالبان، خپله جمهور رييس غني او که نورې ډلې ټپلې؟البته دا دوديزه لويه جرګه ده چې مشورتي بڼه لري او جمهور کولای شي د ملت مشورې ته د مراجعې په خاطر د يوې لنډې لارې په توګه هغه را وبولي. نه د اساسي قانون لويه جرګه چې حکم يې الزامي او اوس يې د جوړښت ارکان پوره نه دي.**



**له دې پرته د مشورې سر دومره انجړ دی چې د مفکراتو او نا مفکراتو سر پرې نه خلاصيږي. په لويه کچه د هېواد د بحران د پورتنۍ حل لارې تر څنګ په ننګرهار کې د حالاتو د ښه والي لپاره په کار دي چې جمهور رييس له غوړه مالو چارواکو او ابن الوقت مشاورانو پرته د ننګرهار داسې مشران او مخور د مشورې لپاره راوغواړي چې له جمهور رييسه يې سترګه و نه سوزي. جمهور رييس ته ټول واقعيتونه په ګوته کړي او حل لارې ووايي او دولتمشر هم د چغو او بغارو پر ځای په تعمق سره پر عملي لارو چارو لاس پورې کړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پکه دا دې لا بله سپکه

*دا لیکنه د (۲۰۱۸م) کال د اکتوبر پر (۱۱)مه نېټه، چې د (۱۳۹۷ل) کال د (تلې) میاشتې له (۱۹)مې نېټې سره سمون خوري، په غزني کې د ولسي جرگې د احتمالي ټاکنو د ځنډوالي په اړه شوې ده.*

**د ټاکنو کمېسیون له خولې ویل شوي چې د ولسي جرگې په شپاړسمه دوره کې د غزني وکیلان به د تلې د اته ویشتمې نېټې تر ټاکنو وروسته هم د یاد ولایت د وکیلانو په توگه پاتې شي. که څه هم هېڅ سالم عقل دا نه شي منلای، خو کله چې د چارو واگې د ناسالمو او ناروغو اشخاصو په لاس کې وي، د هر نامعقول کار د پېښېدو امکان شته.**



**لکه هغه تېر ځل چې د انتخاباتو په نامه د غزني پر مظلوم ولس ایران خوښي انتصابات وتپل شول، دا ځل هم د ورته توطیې امکان شته.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



عجيبه خبره لا په دې کې دا ده چې له غزني د راغليو (يوولسو) په اصطلاح وکيلانو له جملې څخه يې يو څو تنه همدا اوس له کابله هم کانديدان دي. که چېرې دا کسان له کابله بريالي شي څه به کېږي؟ يو وکيل به دوه څوکۍ خپلوي او که يوه؟ او هغه بله به بيا د غزني کوم همقومي او يا هم تنظيمي شخص ته پرېږدي؟ ځکه چې دا څوکۍ خو په واقعيت کې د هغوی ميراث ګڼل کېږي او که کابل کې ناکام شي، نو غزني کې خو تياره ريزرف څوکۍ لري. يوه حل لاره دا ده چې د تلې تر اته ويشتمې وروسته سملاسي د غزني څوکۍ معلق شي، د يوې يا دوو مياشتو په بهير کې غزني کې عادلانه سراسري انتخابات وشي، البته سوله، امنيت او د دولت ټول خدمات هم په عادلانه، مساوي او متناسب ډول د غزني ټولو سيمو ته ورسېږي. که په لنډ وخت کې د سولې او د خدماتو عادلانه وېش شونی نه وي، نو بيا دې غزني د نفوسو د حقيقي وېش په تناسب پر څو حوزو ووېشل شي او هره حوزه کې دې ځانګړې ټاکنې وشي. له دې پرته د غزني پر اکثريت ولس د ايران خوښو اشخاصو تحميلول، ايران ته له څرګندې غلامۍ پرته بله مانا نه لري. که د ټاکنو کمېسيون د اوسني دريځ له مخې همدا اشخاص د غزني د وکيلانو په نامه پاتې شول، نو ايران به د همدغو وکيلانو د څوکيو د خونديتابه لپاره د کورنيو جاسوسانو په مرسته د غزني حالت وخت پر وخت همغه حالت ته بيايي چې مونږ يې مياشت دوه وړاندې شاهدان وو. نو د غزني مظلوم خو با غيرته ولسه! را پورته شئ او دتلې تر اته ويشتمې وروسته د خپل حق لپاره پر يوې اساسي مبارزې لاس پورې کړئ. زه د يوه افغان او مسلمان په توګه ستاسو د حقوقو يو ملاتړی او لاروی يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ننګرهار نړیوال اسلامي پوهنتون او یوه توطیه

*د (۲۰۱۸م) کال د اکتوبر پر (۲۴)مه نېټه د کابینې غونډې یوه ناسنجول شوې پرېکړه وکړه، د دې پرېکړې مطابق باید نړیوال اسلامي پوهنتون له ننګرهار څخه کابل او یا بل ځای ته انتقال شوی وای، ځمکه ورته پیدا شوې وای او بیا یې کال وروسته ودانیزې چارې پیل شوې وای، کله چې زه له دې پېښې خبر شوم، نو یوه ورځ وروسته د اکتوبر پر (۲۷)مه نېټه مې د لوړو زده کړو وزارت له وزیر سره وکتل، د کتنې د جزیاتو لنډیز په دې ډول دی:*

همدا څو شېبې دمخه مې د ننګرهار د نړیوال اسلامي پوهنتون په اړه د



لوړو زده کړو وزارت له وزیر ښاغلي (خواجه عمري) سره وکتل. هغه تفصیلي خبرې وکړې چې لنډیز یې په دې ډول دی:

۱- د اسلامي هېوادونو کنفرانس نړیوال پوهنتون په ولایاتو کې نه جوړوي، په مرکز کې یې جوړوي.

۲- که تر (۲۰۱۹ م) کال پورې موږ هغوی ته په مرکز کې د هغه د جوړېدو خبر ور نه کړو (۳۵۰) ملیونه ډالره چې دې پوهنتون ته بېل شوي، هغه د افغانستان له لاسه ووځي.

۳- د پیسو د نه ور کړې خبر د اسلامي هېوادونو کنفراس د بهرنیو چارو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وزارت او هغوی د کابينې غونډې ته وړاندې کړی او د لوړو زده‌کړو وزارت په کې هېڅ دخالت نه لري.**

## زما (يون) د دلايلو لنډيز:

**۱- پخواني ولسمشر په ننګرهار کې د دغه پوهنتون د جوړولو حکم کړی، که اسلامي هېوادونو ورسره اختلاف درلودلای هغه دا پرېکړه نه کوله.**

**۲- لوړو زده کړو وزارت هلته په عملي توګه ډېره ايښې او څه کار هم شوی دی.**

**۳- په ننګرهار کې د دې پوهنتون لپاره پراخه ځمکه شته او د نور انکشاف امکانات هم لري.**

**۴- په کابل کې نه دومره ځمکه شته او نه يې حکومت په څه کم يو کال کې پيدا کولای شي. بيا به هم يادې پيسې د افغانستان له لاسه ووځي. لکه د شاه فيصل مسجد او جامعې لپاره چې په سوونو مليونه ډالر منظور شوي وو او ټاکل شوې وه په مرنجان غونډۍ کې يې کار پيل شي، خو غاصبينو او نورو توطيه ګرو يې مخه ونيوله.**

## حل لاره:

**۱ - د وزير نظر: پوهنتون دې په کابل کې جوړ شي او څانګې يا دوه پوهنځي دې په ننګرهار کې.**

**۲- زما يون نظر: دلوړو زده کړو، بهرنيو چارو او جمهوري رياست يو ملي او مسلکي هيئت دې و ټاکل شي او اسلامي کنفرانس ته دې قناعت ورکړي او د ننګرهار پراخ امکانات دې ورته تشريح کړي. که بيا يې هم قناعت حاصل نه شو، نو بيا دې پر نورو لارو چارو بحث وشي، پوهنځي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او تدریسي برخه دې په ننګرهار کې وي او که کومه اداره يې په کابل کې وي هم پروا نه کوي. په دې باب نورې خبرې هم وشوې چې دلته يې د ټولو ليکل ضروري نه دي. ښه ده چې پر حل لارو يې سبا په يوه کاري غونډه کې اساسي بحث وشي او بيا همغه حل لارې جمهور رييس ته ولېږو او هغه خپله ژر تر ژره د لوی ننګرهار د حقوقو په پام کې لرلو سره اقدام وکړي.**

**يادښت: يوه ورځ وروسته مو په ژوندون ټلوېزيون کې د دې موضوع د جزياتو د څېړنې لپاره يوه مسلکي غونډه جوړه کړه. د لوړو زده‌کړو وزارت پخواني مشاور، د ننګرهار پخواني والي (ګلاب منګل) او د دې موضوع پخوانيو او اوسنيو څارونکو ټولو په کې ګډون کړی و.**



**موضوع په اساسي ډول روښانه شوه چې نه اسلامي کنفرانس د دې غوښتنه کړې او نه هم هغوی د دې پوهنتون د جوړېدو ژمنه کړې ده. يوازې د ماليزيا نړيوال اسلامي پوهنتون د حق الزحمې په بدل کې د دې پوهنتون ماستر پلان جوړ کړی او دا پوهنتون په خپله د افغانستان دولت له ملي بوديجې څخه جوړېږي چې اوس يې د احاطې چارې هم تر يوه حده سرته رسولي دي.**

**دا موضوع په هر اړخيز ډول دلته روښانه شوه چې دا موضوع يوازې د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو تنو د تنګنظرۍ پر اساس رامنځته شوې او غواړي ننګرهار له دې نړيوال اسلامي پوهنتون څخه محروم کړي.

په ژوندون کې د غونډې تر خپراوي وروسته مې د جمهور رييس د مشاورانو په نامه يو ليک هم وليکه، هغه کې مې له جمهور رييسه د خپلې پرېکړې د بېرته اخيستلو غوښتنه کړې وه، ليک يا مکتوب په دې ډول دی:

# د جمهور رييس د سترو مشاورانو د جدي پاملرنې وړ

د دولتمشر او يا هم جمهور رييس په دغو درنو، ښاغلو او سترو مشاورانو کې به داسې څوک وي چې په ننګرهار کې د نړيوال اسلامي پوهنتون په اړه د لوی ننګرهار او په ټوله کې د ټول افغان ولس غږ او دا غوښتنليک د جمهور رييس مېز ته ورسوي، هغه ته قناعت ورکړي، خپلې تېړۍ وشلوي او يا هم هغه ته په زغرده د مسلې حقانيت بيان کړي؟

ستر مشاور صاحبان په دې ډول دي:

۱- اسد الله غضنفر په فرهنګي چارو کې
۲- عبدالغفور لېوال په قبايلي چارو کې
۳- ډاکټر اکرم خپلواک په سياسي چارو کې
۴- نبي مصداق په مطبوعاتي چارو کې
۵- پوهنوال لعل پاچا ازمون په ټولنيزو او علمي چارو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**٦- مولوي قمر الدين شينواری په قومي چارو کې**

**٧- ملالۍ شينوارې په ټولنيزو چارو کې**

**٨- شميم کټوازی په ځوانانو چارو کې**

**٩- ضياء الحق امرخېل په سياسي او ولسي چارو کې**

**١٠- عبدالستار سعادت په انتخاباتي چارو کې**

**١١- حاجي فضل الکريم فضل په مطبوعاتي چارو کې او ځينې نور...**

**له دغو ښاغلو څخه په جدي ډول غوښتنه کوو چې يا جمهور رييس ته خپله قناعت ورکړي او که د دې ځواک او جرئت ورسره نه وي او هغه ته مخامخ د دې حق يادونه نه شي کولای، نو د لوی ننگرهار د علمي کدرونو او د لوړو زده کړو وزارت هغه هيئت چې د دې پوهنتون ډېره يې ايښې، په گډه هڅوی ته له جمهور رييس سره د کتنې زمينه برابره کړي او که دا کار يې هم په وس پوره نه وي، نو بيا دې اعتراف وکړي، چې موږ په کال کې يو ځل هم جمهوررييس سره کتلای نه شو او نه مو هم مشوره اوري، بيا دې په يوه لويه علمي او ولسي غونډه کې په شرافتمندانه ډول خپلې استعفاوې وړاندې کړي، فکر کوم تر دې به ورته د عزت بله لوړه مرتبه نه وي. موږ ځکه ښاغلو مشاور صاحبانو ته دا تکليف ورکړ چې جمهور رييس ته د ولس د پيغام او فرياد رسولو نورې ټولې لارې بندې دي.**

**په درنښت**

**محمد اسمعيل يون**

**د غونډې د برخوالو په استازی**

***اصل: د جمهور رييس د دفتر عالي مقام ته!***

***کاپي: د جمهوري رياست د چارو ادارې ته!***

***کاپي: د ملي امنيت شورا دفتر ته!***

***کاپي: ټولو يادو سترو مشاور صاحبانو ته!***

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په ننګرهار کې د نړيوال اسلامي پوهنتون برخليک

**د افغانستان اسلامي جمهوريت د جمهوري رياست محترم مقام ته!**

**د (۱۳۹۷ل) کال د لړم پر (۳)مه نېټه د کابينې غونډې، د بهرنيو چارو وزارت د مکتوب پر اساس چې ګنې (OIC) ننګرهار کې نړيوال اسلامي پوهنتون ته بېلې کړې پيسې نه ورکوي او غواړي د ننګرهار پر ځای ياد پوهنتون په کابل کې جوړ شي، کنه بېلې کړې پيسې به د افغانستان له لاسه ووځي، نو ځکه خو د کابينې غونډې په کابل کې د ياد پوهنتون لپاره د ځمکې د تدارک لارښوونه کړې ده. د دې خبر په اورېدو سره د افغانستان ملي تحريک په کابل کې د لويې مشرقي د علمي کدرونو، مخورو شخصيتونو او باخبره اشخاصو يوه مشورتي غونډه راوبلله، په غونډه کې دا څرګنده شوه چې اصلاً نه (نړيوال اسلامي پراختيايي بانک)، نه (OIC) او نه هم کوم بل سازمان د دې پوهنتون لپاره د پيسو ژمنه کړې ده. نړيوال اسلامي پراختيايي بانک يوازې (دوه سوه زره ډالر) د سروې لپاره مرسته کړې وه، (پنځه سوه زره ډالر) نور د لوړو زده کړو وزارت له بوديجې څخه د دې پوهنتون پر دېوال لګول شوي او د ماليزيا نړيوال اسلامي پوهنتون يې ماستر پلان بشپړ کړی دی. (زر جريبه) ځمکه ورته په ننګرهار کې مختص شوې او د (دوه زره جريبه) نورې الحاقيه ځمکې امکانات هم شته. په غونډه کې د مستندو دلايلو او اسنادو له مخې ثابته شوه چې له ننګرهار څخه کابل ته د نړيوال اسلامي پوهنتون انتقال سياسي انګېزه لري او په مرکز کې يو شمېر کړۍ هڅه کوي، هم د لوی ننګرهار ولسونه له دې حقه او هم په ټوله کې ټول افغان ولس د دې پوهنتون له ګټو محروم کړي.**

**په دې برخه کې د ټولنيزو رسنيو له لارې هم پوره او کره مستند اسناد نشر شوي دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یادونې وړ ده چې نه په کابل کې د دې پوهنتون د جوړېدو لپاره ځمکه شته، نه د بیا سروې لپاره پیسې شته، نه هم د کوم بهرني ډونر له خوا د مرستې ژمنه شوې او نه هم کوم شرط ایښودل شوی دی. دا ډول پلمې د (مرنجان غونډۍ) پر سر (د شاه فیصل مسجد او جامعې) پر وړاندې هم مطرح شوې او په پای کې یې د هغې گټورې پروژې مخه ونیوله، اوس ستاسو له محترم مقام څخه هیله کوو د لوړو زده کړو وزارت ته لارښوونه وکړئ چې د مالیزیا نړیوال اسلامي پوهنتون له خوا د جوړ شوي ماستر پلان او هم د دې وزارت د تېرو اجرااتو مطابق پاتې کارونه پسې تعقیب کړي، هم ورته دولتي بودیجه په پام کې ونیسي او هم د بهرنیو ډونرانو مرسته راجلب کړي، له دې پرته به د لوی ننگرهار او په ټوله کې ټول افغان ولس، د دې ناقانونه پرېکړې پر ضد راپاڅي او د توطیه گرو پر وړاندې به هر هغه څه چې له واک و ځواک یې پوره وي، هغه به ترسره کړي.

په پای کې یو ځل بیا ستاسو له محترم مقام څخه هیله کوو چې د توطیه گرو مخه ونیسئ او په دې برخه کې قانوني او عاجل اقدام وکړئ.

په درناوي

د لوی ننگرهار د ولسونو په استازۍ د غونډې برخوال

وروسته د نورو رسنیو په تېره بیا د فیسبوک له لارې هم دا موضوع ښه پسې روښانه شوه، په حکومت کې یو شمېر هېوادپالو عناصرو هم په کې مثبت رول ولوباوه او حکومت مجبور شو چې پر خپلې پرېکړې له سره غور وکړي. د حکومت همغې کابینې چې څه موده وړاندې یې له ننگرهاره د دې پوهنتون د انتقال پرېکړه کړې وه، یو ځل بیا پرېکړه وکړه چې پوهنتون دې په ننگرهار کې موقعیت ولري او د ودانیو د چارو پروسیجر دې تعقیب شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په ترخو شېبو کې ((ساړه بادونه))

*((ساړه بادونه)) د ښاغلي (سيد منتظر شاه هاشمي) شعري ټولګه ده، دا ليکنه د (۱۳۹۷ل) کال د لېندۍ مياشتې پر (۲۱)مه نېټه پر همدغې شعري ټولګې ليکل شوې ده.*

په کوم زماني بهير کې چې ښاغلي (سيد منتظر شاه هاشمي) ژوند کړی او په تېره بيا، فکري بلوغ ته رسېدلی، هغه ډېره ترخه زمانه وه او لا هم ډېره ترخه زمانه ده. د دې زمانې هره شېبه په وينو رنګ ده؛ د ((عقايدو بحران او د معنويت سقوط))، سياسي کړکېچ او د هغو پر بنسټ د جګړې تداوم د دې زمانې ترخه واقعيتونه وو، چې ټولنه يې له سختو ناورينونو سره مخامخ کړه. شاعر چې د ټولنې د حالاتو مصور دی، د دې پېښو پر وړاندې بې تفاوته نه پاتې کېږي، څه چې په ټولنه کې پېښېږي، هغه د ده پر ذهن او ضمير ژور اغېز کوي او بيا همدا تاثر د شعر په هنداره کې بېرته انعکاس پيدا کوي. دا ((ساړه بادونه)) چې اوس موږ ګورو دا زموږ پر ټولنه تېر شوي او ټولنه يې لړزولې ده. شاعر يوازې د دې سړو بادونو نندارچي نه دی، بلکې دې بادونو د شاعر ډېرې هيلې له ځان سره وړي، ډېرې يې مړاوې کړي، نو ځکه خو هغه د يوه حساس انسان په توګه مجبور دی چې د دې سړو بادونو انځورونه وکاږي.

څه شی چې په ټولنه کې وي او څه چې پر هغې تېرېږي د شاعر په شعر کې همغه انځورېږي، که په دې وطن کې ((ساړه بادونه)) نه وای تېر شوي، نو کېدی شي، دې ټولګې اوس بل نوم لرلای وای. دلته که په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې شعري هينداره کې (انګار، باد، باران، باندګۍ، بلهاري، پرخې، تاوجن اقليم، تناکې، تنده، توپانونه، تور ښکاري، چاړه، د مرګي زړه، ډاکوان، رژېدلې پاڼې، ساړه، ښکار و ښکار، لمر و غم، ملال غړونه، نهيله اوښکه، واټن، ويرژلی) او نور ګورئ دا داسې نه ده چې دا مفاهيم شاعر پنځولي، بلکې دا په ټولنه کې پېښ شوي او شاعر يوازې د انځورګر په توګه انځور کړي او تر موږ يې رارسولي دي. کله چې څوک دا (ساړه بادونه) ګوري او يا دا ساړه بادونه پرې لګېږي، نو د يو رنځور وطن او يوې رنځورې ټولنې سوي اوسېلي يې له نظره تېرېږي.

منتظر شاه پاچا د جګړې د نسل شاعر دی، کله چې دی د ځوانۍ منګ ته رسېدلی، نو جګړه پيل شوې، اوس چې نږدې شپېتو ته نږدې شوی لا هم جګړه او غميزه دوام لري، يانې نږدې څلوېښت کاله يې په جګړه کې او له جګړې سره مزل کړی. پاچا صيب که څه هم په جګړه کې رالوی شوی انسان دی، خو په شعر کې يې د کرکې او د جګړې د منفي غچ اخيستنې پر ځای ډېر زيات انساني عواطف ځلېږي. د ده شعرونه او نظمونه ډېر ارام دي، ډېر ستر بشري پيغامونه په کې دي. د ده په شعر کې د نفرت کلتور نه تبليغېږي، انساني عواطف په کې په څپو دي.

شاعر طبيعتاً له قيد و بنده ازاد موجود دی، نو هاشمي صيب هم خپل فکر د مقيد شعر او نظم په چوکاټ کې را ايسار کړی نه دی. ده د مقيدې دوديزې شاعرۍ پر ځای تر ډېره حده ازاد شعر ته مخه کړې او ازاد شعر کې يې چې هم مقيد وزن زړه تنګ کړی، نو د ده په خپله اصطلاح (سپين شعر) ته يې مخ اړولی دی. د پاچا صيب شاعري لکه د سېلاب او چړ په شان تېزه نه ده، بلکې د ارام سيند په شان روانه ده. تاثيرات يې اني او ګړندي نه دي، بلکې متداوم او ژور دي. شاعري يې د عوامو لپاره هم نه ده او د احساساتي مشاعرو لپاره هم نه ده، دا شاعري د خواصو لپاره ده، په خواصو کې بيا هم د خاصو اشخاصو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېره بيا په خپله د شاعرانو لپاره. دی په پښتو کې د ګوتو په شمار هغو شاعرانو په جمله کې دی چې له عربي څخه د راغلو مقيدو شعري فورمونو څخه يې بهر شاعري کړې ده. ده ډېر ازاد شعرونه ليکلي دي، که يو نيم غزل او څلوريزه يې ليکلې، نو هغه يې هم ښايسته ليکلي دي.

ده نه يوازې يو شعري بهير تعقيب کړی، ترڅنګ يې د همدې شعري قوت په مټ يو نږه ژبپوهنيز او ژبرغاونيز بهير هم ورسره پيل کړی دی. د پوهاند زيار، ډاکټر اکبر اکبر او څو تنو نورو شاعرانو په شان يې دا ثابته کړې چې په نږه پښتو ويونو هم ښايسته شاعري کېدی شي، ده که نږه پښتو ويونه او ترکيبونه کارولي، نو ښايسته يې کارولي، کليشه يي کلمې او ترکيبونه په کې نه شته، اکثره نوي، خواږه او سوچه ترکيبونه او ويونه دي. (سترګرپ، کشنوټی، للمينه، مرګ مزل، خوږو ويونو باران، ليدن، بلهاري، وزګوړو، بې نياوه، لارلودن، ښادنامه، پنځګر، رڼوې، پناځی، تاند غړونه، ستوري ويده شول، يو څو پيمخو انځورونو لا ټالۍ وهلې، برميال، دودیالي، لوني، د مړو اوښکو اقليم، ويرغالو، د شعر پرمړوندونو، د باورونو ځالې، پاړېژ، غند لغاړې) او نور چې ګورئ اکثره يې داسې لغتونه او ترکيبونه دي چې نورو ډېرو کمو شاعرانو کارولي او ده چې په کومه صيقل شوې بڼه کارولي، دا نو بيا د ده خپل ځانګړی کمال او هنر دی.

د ((خدايا!)) شعر کې له لوی خدايه د خلاصون هيله لري چې له وړو خدايانو يې خلاص کړي. د ((لارې سړی)) بيا بل داسې يو ازاد نظم دی چې دی په کې د يو ورک برخليک لپاره ورته هيله‌من دی چې مقصود منزل ته يې ورسوي او د ((لمر سړی)) بيا دې ته راغواړي چې د تورې شپې له تورتمه يې وژغوري. د ((مرګ زړي)) نظم کې بيا د يوه بوډا په خېره کې د مرګ تصوير کاږي. دا اسانه هنر نه دی چې څوک دې د معنوي مفاهيمو تصوير په مجسمو شيانو کې انځور کړي، خو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې ازاد شعر کې دا کمال موجود دی، دا نظم له پيله تر پايه د عيني انځورونو يو تسلسل دی:

... ((مرگ مې وليد
چې لرونه په لاس گرځي
د هر گل تر سيوري لاندې
د غوټيو جرړې باسي
راربېي ترې
د ماشومو راشنو شوو بزغليو
د موسکاوو تنکی فصل... .))

شاعر پر دې پوهېږي چې په کلي کې ((ساړه بادونه)) لگي، خو دی، هغوی ته هم يو پيغام لري:

((يه سړو سړو بادونو!
يو قلم يوه شپېلۍ لرم زه
مه اخلئ يوه هم رانه
په يو نوم د خپل جانان ليکم
او په بل
کلي او کېږدۍ پاڅوم!))

د دې شعر مانا او تصوير ته که ژور شو، نو ډېر لوی پيغام په کې پروت دی، د ابادۍ او وېښتابه پيغام، د علم او هوښيارۍ پيغام، د تعليم او تعلم پيغام، چې همدا اوس ورته زموږ ټولنه تر هر څه زياته اړتيا لري.

((سيلاني)) شعر يې بيا د خپل هېواد د سياسي او تاريخي برخليک يا د سياستوالو په اصطلاح د جيپولولټيک جوړښت او موقعيت يو واقعي

(c) ketabton.com: The Digital Library



انځور دی، ((بې نياوه ورمند)) شعر يې د زمانې د قضاوت پر وړاندې يو غبرګون دی. ((انځورګري)) کې يې بيا رښتيا هم ښه انځوګري پرته ده. ((پلرنۍ مينه)) بيا د پلرنۍ مينې او عاطفي احساس ځرګندونه کوي. ((تنده)) لنډ شعر کې د شهيد شوي ګودر انځور کاږي:

((که پر تالا والا ګودر
د مات منګي په کوم کودړي کې
را پاتې اوبه هېرې نه کړې
څه که دې تنده پرې خړوبه نه شي
شهيد ګودر به دې
دا نيکي پر ياد ولري))

د ازاد شعرونو ترڅنګ يې غزل او څلوريزې هم له نوښته ډکې دي، د بېلګې په توګه:

د ((غندلغاړې)) غزل يو څو بيتونه يې وګورئ:

د هلمند د سيـــــن تر غاړې، د جانان کېــړدۍ ولاړې
د سپوږمۍ تر سيوري لاندې، يو دوه هيلې شاړې واړې

دغسې يې (ګلپاڼې ته) غزل کې هم د پېړيو پېړيو د نادرمانه رنځونو يو تصوير خور کړی دی:

عجيبه شانتې فطرت لـرم ګلپاڼــې د خپل ځان يو حکايت لرم ګلپاڼې
خپلې متې او لاسونه پـــرې کومه له پـــېړيو دا عـادت لـــرم ګـــلپاڼې
نور مې هېڅ پر نړۍ نه زده بې نفاقه د دې چـارې مهارت لرم ګلپاڼې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاچا صيب د دې جونګ شعرونه چې څومره سپړو، خوند يې زياتېږي، څومره چې يې لولو لذت يې ډېرېږي، دا داسې شعرونه دي چې څو څو ځله بايد ولوستل شي، پاچا صيب دا تجربه په ډاګه کړه چې په نړه پښتو کې هم شاعري کېدلای شي او ښه شاعري کېدلای شي. په دې شعري جونګ کې نه يوازې شعري انځورونه او ډېرې هنري تابلوګانې خوندي شوي، بلکې زموږ د نړه پښتو ډېره نړه پانګه هم په کې خوندي شوې ده. پاچا صيب د يوه فني او مسلکي ليکوال او شاعر په توګه د ژبنې رغښت، ليکنې سمون او معيار په ګډون د شعر او په تېره بيا د ازادې شاعرۍ ټول رغنده توکونه په پام کې نيولي او دغه شعري جونګ يې د همدغو پخو معيارونو يوه پخه ټولګه ده. په دې کتاب کې ډېرې نورې نوې خبرې، انځورونه، دردونه او پيغامونه خوندي دي، ما يې يوازې څو بېلګو ته په ډېر لنډيز سره نغوته وکړه، نور نو کتاب خپله تاسو سره خبرې کوي او خپل رازونه او پيغامونه درته سپړي. دا هم تاسو او دا هم د نړه پښتو شاعرۍ يوه بريالۍ بېلګه.

په درنښت

په پښتو کې د نورې داسې بريالۍ شاعرۍ په هيله

محمد اسمعيل يون

۱۳۹۷ل کال، د لېندۍ (۲۱)مه

کابل- ژوندون ټلوېزيون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ټاکنيزو کمېسيونونو د جدي پاملرنې وړ

*دا ليکنه د (۲۰۱۸م) کال د دسمبر پر (۲۳) مه نېټه، چې د (۱۳۹۷ل) کال د مرغومي له (۲)مې نېټې سره سمون خوري، ليکل شوې ده.*

**د جمهوري رياست د نوماند لپاره د اساسي قانون دوه شپېتمه ماده ځينې ځانگړنې مشخصوي، خو د همدې مادې دويمه فقره څو اساسي ځانگړنې په گوته کوي چې له هغو پرته يو شخص د دې حق نه لري چې د ياد مقام لپاره ځان نوماند کړي.**




**دا فقره وايي، د جمهوري رياست نوماند بايد: ((د افغانستان تبعه، مسلمان، له افغان مور او پلار څخه زېږېدلی وي او د بل هېواد تابعيت و نه لري)).**

**اوس خبر شولو چې د لطيف پدرام په نامه يو شخص چې هېڅکله يې ځان افغان نه دی بللی او تل يې په ډاگه د افغان او افغانستان له نامه او سياسي جوړښت سره مخالفت کړی او نورې ملت ضد څرگندونې يې کړي دي، غواړي ځان د افغانستان ولسمشرۍ مقام ته نوماند کړي، نو کله چې يو څوک خپله ځان افغان نه بولي نو طبيعي خبره ده چې له**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**افغان مور او پلاره به هم نه وي زېږېدلی او که مور و پلار يې افغانان وي او دی له افغانيته منکر وي دا خو لا بله ګناه ده. په ډاګه بايد ووايو چې ولسمشرۍ ټاکنو ته د لطيف پدرام او د ده په شان د نورو اشخاصو ودرېدل د اساسي قانون د دوه شپېتمې مادې د اکثره فقرو په تېره بيا د دويمې فقرې له ټولې محتوا سره څرګند مخالفت دی. زه د يوه افغان او د اساسي قانون د يو پلوي په توګه پر ټاکنيزو کمېسيونو غږ کوم چې له قانون سره سم دې ولسمشريزو ټاکنو ته د لطيف پدرام او د ده په شان د نورو اشخاصو د نوماندۍ مخه ونيسي او که دوی دا کار و نه کړ، نو دوی خپله په جرم او لاقانونيت کې شريک ګڼل کېدی شي. په داسې يو حالت کې به زه د يو افغان په توګه د افغانستان د اساسي قانون ملاتړ خپل يو اساسي مسووليت وګڼم، پر عدلي او قضايي ارګانونو کې به پر ټاکنيزو کمېسينونو خپل شکايت ثبت کړم او خپله قانوني او ملي داعيه به پر مخ يوسم. له ټولو ملتپالو او هېوادپالو افغانانو په تېره بيا له ځوانانو څخه مې هيله ده چې زما دا غږ بدرګه کړي. څرنګه چې زه اوس په بهر کې يم او هلته په کابل کې نومليکنه روانه ده نو زما تر راتګ پورې له قدرمنو ورونو هر يو: عبدالستار سعادت، شېرعلم املهوال، مجيب الرحمن لحاظ، ميرويس ستانيکزي او نورو ټولو با شعوره او قانونپاله افغانانو هيله کوم چې دا موضوع تعقيب کړي او پرې نږدي چې لطيف پدرام او دده په شان نور پردیپالي، هم د افغانستان شيره وشربت وزبېښي او هم بېرته د افغانستان پر ضد غږ پورته کړي، هم له همدې اساسي قانون څخه ناوړه ګټه پورته کړي او هم بېرته د همدې قانون محتوا تر پښو لاندې کړي. د يوويشتمې پېړۍ تر ټولو رزيلانه منطق: افغان نه يم، افغاستنان نه منم، خو د جمهوري رياست مقام ته يې ولاړ يم. که مونږ اوس ددغسې رزايلو مخه و نه نيسو، نو راتلونکی افغان نسل به زمونږ پر قبرونو لاړې راتو کړي...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يو ځل بيا د قانون د ملاتړ غږ

*دا ليکنه د (۲۰۱۸م) کال د دسمبر پر (۲۶)مه، چې د (۱۳۹۷ل) کال د مرغومي له (۵)مې نېټې سره سمون خوري، ليکل شوې ده.*





ښاغلي خالد او ښاغلي صالح خو غټې څوکۍ اشغال کړې، دلته پر دې بحث نه کوم چې دې ښاغلو پخوا څه کړي، يا به راتلونکې کې څه وکړي او يا به هم د څه کولو لپاره څومره وخت او څومره مجال ولري؟خو زه د قانون بېچاره غم وړی يم، څومره چې څوک د خدای(ج) په نامه قسمونه خوري همغومره د الله(ج) له لارې تېری کوي او څومره چې د قانون او په تېره بيا د اساسي قانون د تطبيق چغې وهي، همغومره له قانونه سرغړاوی کوي. دولتمشر غني په سوونو ځله ويلي چې پر اساسي قانون معامله نه کوم او دا معامله راته د اولاد پر سر معامله ښکاري او د دې تر څنګ يې بار بار د امنيتي سکتور پر ((غير سياسي)) کولو ټينګار کړی دی. اوس چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوو سیاسي ګوندونو مشران د دوو امنیتي ارګانونو د مشرانو په توګه و ټاکل شول، نو سړی حیرانېږي چې یا ښاغلی غني حافظه نه لري، یا ورته دا دېرش ملیونه افغانان د سړي زامن نه ښکاري او یا یې اساسي قانون لوستی نه دی. د اساسي قانون په (۱۵۳) ماده کې راغلي دي: ((قاضیان، څارنوالان، د وسلوالو ځواکونو د پولیسو منصبداران او د ملي امنیت کارکوونکي نه شي کولای د دندې د تصدۍ په موده کې په سیاسي ګوندونو کې غړیتوب ولري)). اوس خو دې مادې ته نه دولتمشر او نه دولتکشر وکتل، هر څه د نامشروع سیاسي ضرورتونو قرباني شول. اوس که دا دواړه یاد ښاغلي له خپلو سیاسي ګوندونو ظاهري استعفاوې ورکوي، هم له یو لړ ستونزو سره مخامخېږي، که ګوندونه یې ګوندونه وي کېدی شي ورته ووایي چې موږ مو د څوکۍ لپاره وسیله کړو، د غني پر وړاندې له نظریاتي اختلاف سره سره یو سلو اتیا درجې بدلون له ګوندي اصولو سره اړخ نه لګوي او که چېرې دا کوم اغېزناک ګوندونه نه وو او هسې وړې وړې ډلې او بیا نورو پسې تړلي فرکسیونونه وي، نو بیا یې په دومره درنه تیږه تلل بله تېروتنه ده. ښاغلی صالح خو همدا اوس د دولت د یو اجرایي مامور تر کچې پورته د دولت د یو پالیسي میکر شخص په توګه خبرې کوي. د سولې په باب د هغه څرګندونې د نظار شورا له پخوانۍ نظریې الهام اخلي، دا چې جمعیت او طالبانو کې به کومې ډلې افغانستان ته ډېر زیان رسولی وي دا بېل بحث دی چې اوس پرې دلته بحث نه کوو، خو دلته غواړو یو ځل بیا د قانون پر حاکمیت ټینګار وکړو. یو نیم درباري غوړه مال لیکوال او میکوال کېدی شي د دولتمشر د دې تېروتنې د پټونې لپاره دا سپېروني ور پورې کړي چې د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو د مقامونو پوستونه خو اوس ملکي شوي دي، نو څه پروا کوي که دا کسان دلته مقرر شي. دلته باید وویل شي چې د دې پوستونو سیاسي کېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اصل کې د قانون خلاف کار دی. دويمه خبره دا ده چې دا دواړه ښاغلي پوځي رتبې هم لري، دا ښاغلي که ملکي رنګ هم ولري اصلي خبره همدا ده چې دواړه سياسي خلک دي او دلته هم د سياسي انګيزې له مخې مقرر شوي. د اساسي قانون محتوا بيا په څرګند ډول د دغې سياسي انګيزې مخالفه ده. نور نو د ولس او مفکر صيب خوښه چې د اساسي قانون محتوا مني او که خپله خبره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغانستان کې: څوک د چا میراث دی؟

*دا لیکنه د اوربند اوونیزې په (۱۳)مه گڼه کې چاپ شوې ده او د (۲۰۱۸م) کال د دسمبر پر (۲۹)مه نېټه، چې د (۱۳۹۷ل) کال د مرغومي له (۸)مې نېټې سره سمون خوري، پر بېلابېلو وېبپاڼو او فیسبوکپاڼو خبره شوې ده.*

**ډېر وړاندې ماضي ته نه ځو؛ د خپلې اوسنۍ زمانې پر قضاوتونو قضاوت کوو، په همدې تېر څلورنیم کلن حکومت غږېږو، هر کار چې د اوسني حکومت په وس پوره نه وي؛ په هغه کې پاتې راشي او یا یې هم په کار کې څرگنده نیمگړتیا احساس شي، نو وایي دا خو د تېر حکومت میراث دی. په همدې یو لنډ او نا معقول ځواب، ټولې خاورې پر تېر حکومت واړوي او په دې ډول خپل ځان له مسوولیته وژغوري، خو که چېرې د همدې حکومت رغښت، جوړښت، واکمنو چارواکو، د کورني حالت څرنگوالي او بهرني ملاتړ ته وگورو، نو له تېر حکومت سره په کې ډېر زیات توپیر نه لیدل کېږي.**




**په تېر حکومت کې هم فساد په څپو و، اوس هم دی، هغه وخت هم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړه روانه وه، اوس هم روانه ده، هغه وخت هم حکومت ائتلافي و، اوس هم ائتلافي دی، هغه وخت هم حکومت له بهرني ملاتړ پرته خپل ژوند نه شو تضمینولای، اوس یې هم نه شي خوندي کولای، هغه وخت هم ځانساتي، غوړه مالان او د وخت زامن په حکومت کې واکمن وو، اوس هم دي. هغه وخت هم د جنګسالارانو واک او راج چلېده، اوس هم چلېږي، هغه وخت هم زورواکو ولسمشر ته مخامخ کنځلې کولې، اوس یې هم کوي، همغه وخت هم د سنبلې (اتلسمه) په وحشت او دهشت نمانځل کېدله، اوس هم نمانځل کېږي، هماغه څېرې چې همغه وخت په ټلوېزیونونو کې ځلېدلې، اوس هم ځلېږي. ډېر کم کیفي او یو څه ظاهري بدلونونه محسوسېدی شي. کومې څېرې چې د بن تر کنفرانس وروسته پر هېواد واکمنې شوې، د کرزي په لنډمهاله، منځمهاله او دوو انتخابي دورو کې یې امتداد پیدا کړ، له یوې دورې بلې ته لا پسې وغوړېدلې، البته په طبیعي ډول به ځینې عمر خوړلې څېرې د ژوند له مداره وتلې وې، خو همغه فکري او سیاسي جریان چې له همغې ورځې حاکم و، تر نن ورځې په ډېر کم تغیر او توپیر سره دوام لري. زه د هغو اشخاصو له جملې څخه یم چې له لنډ مهالې دورې څخه بیا تر ننه پورې د حکومت ټوله اډانه په دقت سره څارم. له همغه پیله او تر دې دمه چې زما په ګډون هر شخص د وخت د ناخوالو پر وړاندې بغاوت کاوه، نو د همغې زمانې واکمنو غوړه مالانو، ځانخوښو به د متعصب، ژبپال، نشنلیست او فاشیست په ګنو نومونو تورنولو. کله چې د اشرف غني د حکومت بڼه راجوړه شوه، نو موږ فکر کاوه چې ظاهراً د یو تریخ او غوڅ سړي په وجود کې به د کرزي د وخت غوړه مالان وده ونه کړي، ځای به یې رانه‌ه، ژورلیدي او زړور خلک ونیسي، خو کله چې دا حکومت خپل لومړني ګامونه پورته کړل، نو پخواني غوړه مالان هم ګام پر ګام له دې حکومت سره همغږي شول. زه په دې حکومت کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو ډېرو ترخنګ يو دوه داسې ځرګند غوړه مالان پېژنم چې د ولسمشر کرزي د حاکمیت په وروستیو کې یې په پټه او ځرګنده زموږ د هغو ملي مبارزو او مظاهرو مخالفت کاوه چې موږ د ملي هويت د خونديتابه او ځلا لپاره کولې، دې خلکو به همدا ویل چې: [تاسې ((رییس صاحب)) ته مشکلات جوړوئ، دا وخت اوس د دې خبرو نه دی، رییس صیب پرېږدئ چې ملت راټول کړي، اوس د هويت د پورته کېدو وخت نه دی.] موږ به یې ((ماجرا جو)) معرفي کولو او خپل ځانونه به یې د وخت پر سیاستونو او رمزونو پوه ګڼل.

کله چې د ملي هويت د خونديتابه ستونزه د کرزي له حاکمیته د غني حاکمیت ته راورسېده، نو موږ بیا هم لاریونونو ته اړ شولو، غني بیا د ښاغلي کرزي همغو پاتې شونو ښاغلو ته دنده وسپارله چې موږ سره په دې باب وغږېږي، هغوی بیا موږ ته وویل چې: [اوس د دې وخت نه دی چې تاسې دا مسئلې راپورته کړئ، ملک بحران ته ځي. ((رییس صاحب)) نورې ډېرې ستونزې لري، له دې مسئلې ښخه تېر شئ او تاسې خو پوهېږئ چې دا ځینې ستونزې موږ ته له تېر نظامه په میراث پاتې دي، دا باید همغه وخت حل شوې وای، د تېر نظام مشکلات اوسنی حکومت او رییس صاحب نه شي حل کولای. ] دا مهال نو زما اوسېله ختمه شوه، ما ویل تاسې نه پوهېږئ چې د تېر نظام میراث څه شی دی او څوک دي؟ د تېر نظام میراث خو همدا تاسې یاستئ، چې په هغه حکومت کې هم والیان او وزیران وئ او اوسني کې هم، دا مشکلات خو هغه وخت کې هم وو، اوس هم دي، هغه وخت هم تاسې چارواکي وئ او اوس هم یاست، هغه وخت هم تاسې موږ په بېلابېلو نومونو تورنولو او اوس هم همدا کار کوئ، هغه وخت به مو هم ویل چې ((رییس صاحب)) ته جنجال جوړوئ او اوس یې هم وایئ، چې ((رییس صاحب)) ته جنجال جوړوئ، که چېرې د تېر حکومت او یا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرزي صيب د ميراث خبره وي، نو خو ستاسو دواړو په ګډون ډېر د کرزي ميراث ياستئ، خپله همدا ښاغلی اوسنی جمهور رييس د کوم نظام ميراث دی؟ ايا د بن له کنفرانسه رانيولې بيا تر ننه پورې د همدې حکومت برخه نه وه؟ ايا دی د مرستو د انسجام ادارې مشر نه و؟ د ماليې وزير نه و؟ د کابل پوهنتون رييس نه و؟ د واک د لېږد بهير مشر نه و؟ چې په دومره واک کې څوک د تېر حکومت ميراث نه وي، نو بيا يې نور څوک ميراثيان دي؟

ما هغه وخت دې ښاغلو ته دا خبره هم وکړه، ګورئ چې سبا بل حکومت راځي، هسې نه چې موږ بيا محکوميت کې او تاسې بيا حاکميت کې اوسئ او بيا به مو موږ د تېر حکومت د ميراثيانو په توګه د مجرمينو په تور تورن کړي يو، ايا تاسې به موږ ته داسې تضمين راکړئ چې پر همدې دوو حکومتونو بسنه وکړئ او بل کې شريک نه شئ؟

دا مې يوه بېلګه راوړه، اوس ټول حکومت له داسې بېلګو ډک دی، اوس خبره دا کوم چې د اوسني حکومت اصلي جوړښت په سلو کې (نوي) همغه کسان دي چې په تېر حکومت کې راټاله وو. واکمن، مداحان، فسادګر او نور همغه د وخت زامن دي چې پرون هم په حاکميت کې وو، نن هم دي او سبا به هم وي. ډاکټر غني کېدی شي يوازې (لس) سلنه اشخاص چې په هغه کې يو شمېر ځوانان او ځينې هغه اشخاص چې له دې ټولنې څخه لرې او له لويديځه راغلي دي، د حکومت پر ځينو مهمو څوکيو ګومارلي وي، نور نو هماغه غر او هماغه کربوړي دي.

اوس پوښتنه دا ده چې د تېر حکومت ميراث خو اوسني حکومت ته پاتې شو، د اوسني به هم سباني ته پاتې شي که نه؟ په خواشينۍ سره بايد ووايو چې ځواب يې (هو) دی، هغه څوک چې د وخت پر نبض

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوه دي، هغوی د زمانې له باد سره سم چلېږي، د وخت د توپان مخې ته نه ودرېږي، خو هغوی چې د وخت نادودې نه شي زغملی، له هغو سره مقابلې ته وردانگي، یا یې د وخت توپان له ځان سره وړي او یا د توپان مسیر بدلوي، خو د وخت زامن له وخت سره سم زېږي، بیا ژوندي کېږي او د وختونو له رنگونو سره خپل رنگ بدلوي، تر موږه ډېر ((هوښیار)) دي.

## مـــوږه لېونو د زمانې گـــرېوان نیولی دی
## خلک هوښیاران دي له وختونو سره ځي

ډېر حکومتونه او ډېر نظامونه همدغه ډول اشخاصو له گړنگه غورځولي. د وروستۍ پایلې په توگه مې وړاندیز دا دی چې د اوسني حکومت د مهمو سیاسي او اداري چارواکو یو اوږد لېست باید د رسنیو او زمانې حافظې ته وسپارل شي چې دا ډول اشخاص بل حکومت ته د متواتر میراث په توگه په میراث پاتې نه شي، په دې مانا چې هغه حکومت به هم دغسې ریشخند کړي، لکه دا دوه تېر حکومتونه چې یې هم وخوړل او هم یې ملامتي پر نورو وربار کړه. هدف دا دی چې د ((غني حکومت)) ((غني میراث)) کوم ((غریب ولسمشر)) ته پاتې نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغانستان کې د مشورې قيمت

*دا ليکنه د (۲۰۱۹م) کال د جنوري پر (لومړۍ) نېټه، چې د (۱۳۹۷ل) کال د مرغومي له (۱۱) مې نېټې سره سمون خوري، ليکل شوې ده.*

**مشوره يو اسلامي اصل دی، هر کله چې يو کار له ستونزو سره مخ شي، نو په مشورې يې غوټه خلاصېږي، ياني مشوره د بحراني مسايلو د حل يوه اساسي لاره ده، خو دا نه چې مشوره او مشاور په خپله د بحران پر يوه عنصر بدل شي. زموږ په هېواد کې چې له هر ارزښت سره سرسري، متضاد او معکوس چلند شوی، نو هغه ارزښت يې لاپسې پيکه کړی دی.**




**اوس نو د مشورې او مشاور وار را رسېدلی دی. اوس ارګ يا جمهور رييس غني په مجموعي ډول (۵۸۳) تنه مشاورين لري او سپيدار ماڼۍ يا اجراييه رييس ډاکتر عبدالله (۴۵۷) تنه. د جمهور رييس غني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وروستی مشاور اقبال عزیزي و چې تر (٢٠١٩م) کال یوازې دوه ورځې دمخه یې د اقبال وزرونه وغوړېدل او د جمهور رییس په حکم د مشاورانو له ستر کاروان سره وصل شو. د ځینو ارقامو له مخې د جمهور رییس د هر مشاور میاشتنی معاش له (٢٠٠٠-١٠٠٠٠) او د اجراییه رییس د هر مشاور میاشتنی معاش له (١٠٠٠-٦٠٠٠) امریکایي ډالرو پورې دی. البته په دې کې هغه نور لګښتونه او معاشونه لکه د ساتونکو او اشپز معاشونه او دفتري لګښتونه شامل نه دي.**




**که دا ټول سره محاسبه شي، نو د هر مشاور میاشتنی لګښت په اوسط ډول لس زره امریکایي ډالرو ته پورته کېږي چې په ټولیز ډول د ټولو (١٠٤٠) تنو مشاورینو میاشتنی لګښت لس ملیونه او څلورلکه (١٠٤٠٠٠٠٠) ډالره کېږي، چې د کال ورځخه یو سلو څلیرشت ملیونه او اته لکه (١٢٤٨٠٠٠٠٠) ډالره جوړېږي او که دا بیا په پنځو کلونو کې ضرب کړو نو شپږ سوه او څلیریشت ملیونه (٦٢٤٠٠٠٠٠٠) ډالره ور څخه جوړېږي. یانې زموږ هېواد په پنځو کلونو کې یوازې د جمهوري او اجراییه ریاستونو په کچه شپږ سوه وڅلیریشت ملیونه ډالره مشورتي لګښت زغمي. دا خو د مشاورینو د مشورو مستقیم زیان دی او تر دې اخوا که د اکثرو مشاورینو نا مستقیم زیان لکه له همدې نامه څخه ناوړه ګټه اخیستنه، فساد کې ښکېلتیا، رشوت او نور ډېر مسایل په پام کې ونیسو خبره تردې هم خرابېږي. د ریشخندۍ بله خبره خو لا داده چې د دې مشاورانو اکثره یې په کال کې یو ځل هم جمهور رییس لیدلای نه شي، مشوره خو لا پر ځای پرېږده، نو د افغانستان مشاوران مشوره نه شي ورکولای، خو د معاش مستحق ګڼل**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کېږي. دا په داسې حال کې ده چې ښاغلي غني بار بار ويلي چا ته وړيا معاش نه ورکوم، غواړم اداره ځوانه، منسجمه، موثره او اداري تورم ختم کړم. خو دې سره سره د دې دومره مشاورينو شتوالی زموږ په ټولنه کې څو اړخيز متضاد واقعيتونه را برسېره کوي:**

**لومړی- جمهور رييس د ژوند په هېڅ ډګر کې پر هېڅ نه پوهېږي، نو ځکه يې په هر برخه کې دومره ګڼ شمېر مشاورين ټاکلي دي.**



**دويم- جمهور رييس پر هر څه پوهېږي، خو دا ښاغلي يې يوازې ددوی د خوشالۍ په خاطر مقرر کړي او مشورې ته يې هېڅ اړتيا نه لري.**

**درېيم- جمهور رييس مشاورين لري، خو مشوره ورڅخه نه اخلي، ياني غلي او بې مشورې مشاورين دي.**

**څلورم- مشاورين د مشورې اهليت، کفايت او زړورتيا نه لري او يا هم جمهور رييس ورته وخت او ارزښت نه ور کوي.**

**پنځم- دوی په مشاورت او جمهور رييس يې په نه مشوره خوشاله دي، دواړه خپله ګوزاره کوي او وخت تېروي.**

**شپږم- په دې دومره مشاورانو، مشاوراتو او مفکراتو کې بيا هم د مشورې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر ورک دی او پړی لاپسې انجرېږي.
دا ټولې خبرې چې سره را ټولې کړو، ګټې او زیانونه یې سره پرتله کړو، نو دې نتیجې ته سره رسېږو چې له دې مشورو څخه (نه مشوره) ښه او ولس ته په ګټه ده. حقیقت خو دا دی چې جمهور رییس څلورو پنځو مشاورینو ته اړتیا لري چې په فرهنګي، ټولنیزو، سیاسي، اقتصادي، امنیتي، بهرنیو او نورو ضروري چارو کې جمهور رییس ته لازمې مشورې ور کړي، نور نو د مشاورینو دا لښکر هسې د ملت او بیت المال پر اوږو بار دی او نور دوام یې د نور زیان په مانا ده، نو که ښاغلی مفکر صاحب رښیتا هم مشورې ته غوږ ږدي، نو ښه لاره دا ده چې هم له جمهوري ریاست او هم د حکومت له نورو ارګانونو څخه د مشاورانو دا زوړ او ګوزڼوهلی کاروان ژر تر ژره رخصت کړي، که اکثره لوړ پوړي دولتي چارواکي دومره کمزوري وي چې په هره برخه کې یو یو مشاورته اړتیا لري، نو بیا خو دې دا بېکاره خلک لرې او پر ځای دې هماغه هوښیار مشاورین مقرر شي چې په خپله خپلې مشورې په ښه ډول عملي کړي.
د اوسنیو مشاورینو په میاشتني معاش موږ کولای شو په هر ولایت کې هره میاشت د یو مسجد، یو روغتیایي مرکز او یو ښوونځي ودانۍ جوړې کړو. اوس یوازې لګښتونه دي او معاشونه، نه مشوره شته نه یې کارونه. دا بحث تردې هم غځېدلی شي خو څرنګه چې زه په یو سفر یم او دا دی درې ساعته د نوي کال له پیله تېر شول او درې ساعته وړاندې هر یو د فیسبوک په څپو د (۲۰۱۸م) کال په وروستیو شېبو کې خپل خپل انځور د یادګار په توګه وړاندې کړ، نو ما د خپل تصویر پر ځای د خپل هېواد د مشاورینو د یو بې هدفه کاروان یو رنځور تصویر هېوادوالو ته وړاندې کړ. هیله ده (۲۰۱۹م) کال مو دتېر کال په شان خونړی او بې هدفه نه وي. د خپل ملت د سوکالۍ او د خپل هېواد دا بادۍ په هیله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ولسمشريزو ټاکنو معادله

*دا ليکنه د (۲۰۱۹م) کال د جنوری پر (۱۱)مه، چې د (۱۳۹۷ل) کال د مرغومي مياشتې له (۲۱) نېټې سره برابره ده، ليکل شوې ده.*

**تر اوسه لا وخت شته چې سړی په څرګند ډول د ټاکنيزو ټکټونو په باب غوڅ نظر څرګند کړي، خو کوم څه چې لا تر مخه ښکاره دي، هغه په ټاکنو کې د قوميتي عنصر څرګند اغېز دی. د بېلګې په توګه که کرزی او غني اکثريت پښتنو ته منسوب نه وای، نو دا څوکۍ به يې په خيال کې هم نه وه ليدلې، خو د اکثريت پښتنو تر څنګ د نورو قومونو او قومي لږکيو شتوالي هم ټاکنو ته خپل خاص جذابيت ورکړی او د ګټونکي نوماند په ګټه يې د يو کټليست رول اجرا کړی دی.**



**ځينې اقليتونه او د هغوی مشران پر دې نزاکت ښه پوهېږي، په داسې حال کې چې اکثريت پښتون مېشته سيمې د جګړې په اور کې سوزي او په دې حالت کې يې د طبيعي ووټ ساحه راتنګېږي، نو داسې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرایط د دوی لپاره یو طلایي چانس دی، چې خپل قیمت تر اصلي حالته څو ځله لوړ کړي. له دې واقعیتونو سره سره د تاجکانو په نامه له مطرح شویو ځینو څرګندو څېرو پرته نور قومونه د لومړۍ څوکۍ لپاره سیالۍ ته زړه نه ښه کوي. په دې کې د پنجشیر درې نظار شورا ډېره زیاته مطرح ده. دوی هم جمهوري ریاست ته کاندید ورکوي او هم احتمالي ګټونکي کاندید سره خپل یو یو مرستیال ملګری کوي. دوی وایي که موږ وګټله، نو جمهور رییس به زموږ وي او که موبایلوله، نو مرستیال خو مو تیار خوندي دی. که اوي شوه که للمي ددوی برخه خوندي ده او د دې تر څنګ اپوزېشن هم له لاسه نه ورکوي. د کرزي صیب د حاکمیت په دوو دورو کې ما د یو ملتپال افغان په توګه هڅه وکړه چې د جمعیت او نظار شورا دا طلسم مات شي، خو د کرزي صیب په څېر ګڼ شمېر ځانساتو پښتنو سیاستوالو زموږ خبرې ته کوم ارزښت ور نه کړ. کله چې د کرزي صیب د واکمنۍ تر دوو دورو وروسته د ډاکټر صیب غني د نوماندۍ وخت را ورسېد، نو ما ورته په زغرده وویل چې که د کرزي صیب په شان دې له نظار شورا او یا جمعیت څخه څوک د لومړي مرستیال په توګه راوست موږ دې سر له همدا اوسه مخالف یو او ګټلی یې هم نه شې. ما ورته وویل چې د جمهوري ریاست ټاکنیز ټکټ د یو مثلث بڼه لري، هر چا چې د دې مثلث درې واړه ضلعې د اکثریت پښتنو په ګډون ددوو نورو مطرح قومونو (ازبکو او هزاره‌وو) په استازو ډکې کړې، همغه کاندید ګټونکی دی او همدا د ټاکنو سیاسي ریاضي ده. هغه وخت زما خبرې پر غني او نورو ناستو مصلحتي او ډارنو سیاستوالو ښې و نه لګېدې، خو وروسته یې بیا همدا خبره ومنله. څه موده وروسته ښاغلي غني راته د یوې غونډې د پیل په بهیر کې په غوږ کې په ورو وویل: ((ستا فورمول خو مې عملي کړ ښه فورمل دی اوس خو به مې ملاتړ کوې؟)). هدف مې دا دی چې په تېرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټاکنو کې د غني د بري راز په دې کې و چې د جمعيت د بې رايو مرستيال پر ځای يې د ازبکو رايې را خپلې کړې. دا چې دوستم له اخلاقي او علمي پلوه د دې پوست لپاره ځومره ور و کنه دا بېل بحث دی. خو رايې يې غني ته ډېرې په ګټه وې. زما خپل هدف هم هغه مهال هم دا و او اوس هم دا دی چې ازبک قوم بايد په ټوليز ډول د سياسي قدرت په دايره کې داخل شي. هدف مې له شخص ځخه نه و او نه موږ غوندې خلکو ته د دوستم جرمي سابقه د زغم وړ وه. غني بيا دا مهال له احمد ضيا مسعود سره بله معامله هم روانه کړې وه، هغه سره يې په پټه د درېيم معاونيت او يا هم د هغه د معادل پوسټ د جوړولو ژمنه کړې وه. ما همغه وخت د غني خوا ته د احمدضيا مسعود له راتګ سره ځکه مخالفت وښود چې د دې راتګ قيمت خورا زيات او د اساسي قانون له محتوا ځخه د سرغړاوي په بيه و. زه پر دې پوهېدلم چې احمدضيا مسعود لکه ځنګه چې کرزي ته رايې را نه وړې دغسې يې غني ته هم نه راوړي، خو دا ځو رايې چې راوړي هم، دا د ډاکتر عبدالله هغو لسګونو زرو جعلي رايو ته مشروعيت ور کوي چې هغه يې په پنجشېر او نورو تاجک مېشتو سيمو کې د درغلۍ له لارې د ځان په ګټه کاروي. تر ټاکنو وروسته غني له عبدالله سره ګډ حکومت جوړ کړ، احمد ضيا ته يې د قانون خلاف خپل امتيازات ور کړل، خو موږ يو ځل بيا د قانون لار ونيوله او تر ننه همدا لاره پالم. اوس چې يو ځل بيا د ولسمشرۍ ټاکنو لپاره ټاکنيز ټکټونه خپله بڼه خپلوي، نو دې يادښت ليکلو ته اړ شولم. کله چې خبر شولم چې اتمر صيب په خپل ټکټ کې يونس قانوني ته ځای ور کړی، نو ما ورته مشوره ور کړه چې قانوني نه يوازې تاته د رايې د راوړنې سبب نه کېږي، بلکې ستا رايې به خرابې کړي. ما ورته وويل چې دوی يو ځل بيا همغه لوبه تکراروي چې مخکې يې کړې وه، يو کار چې درې ځله تجربه شي هغه بيا ولې تکرار

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، ما ویل قانوني به درته دومره رايې راوړي لکه انجنير محمدخان چې ډاکتر عبدالله ته ور کړې وې، تر هغو به لا هم کمې وي. ځکه تاجک به وايي له اتمر سره خو مو له رايو پرته څوکۍ خوندي شوه اوس نو راځه د ولسمشرۍ لپاره خپل کانديد ته رايه ور کړه. دې ورځو کې چې يونس قانوني خپل عزيز او بيا ويديويي پيغام نشر کړ، نو خبره تر مرستيالۍ هم پورته لاړه. هم له اتمر سره اول معاونيت غواړي، هم د جهاد او مقاومت له حوزې يو بل کانديد ودروي، هم د صدارت پوست ايجادوي، هم درېيم معاونيت رامنځته کوي، هم واليان نيمه انتخابي کوي او هم رايې نه ور کوي. نو اوس به څوک وي چې ورته ووايي چې کله هم احمد ولي مسعود ستاسو د جهاد او مقاومت د حوزې کانديد وي، نو همغه ښاغلی بريالی کړه، ټولې غوښتنې مو په يو وار عملي کېږي، نو ضرورت څه دی چې اتمر او غني سره هم يو يو مرستيال پينه کوئ. کله چې قانوني خپله اعتراف کوي چې د ولسمشرۍ مقام ته نه شي رسېدلی، نو بيا ولې هغه سره د اکثريت ولس د هيلو خلاف معامله وشي؟ قانوني خو اتمر صيب له ګړنګونو ګوزار کړ، خو اوس وار د غني صيب دی چې د بل کوم جمعيتي له لاسه به ورته ګوزار خوري. ښاغلي غني خپل مخلوع وزير (صلاح الدين رباني) ته تر اوسه پورې په لسګونو جرګې ور لېږدلي دي چې د ده مرستيالي ومني، دا چې د هغه مرستيالي به ښتنو ته په څومره سرټيټۍ او هېواد ته به په څومره قانون ماتونې تمامه شي دا به څو ورځې وروسته روښانه شي. همدا رنګه له عبدالله سره هم د معاملې څرکونه ښکاره کېږي. اوس د نتيجې په توګه وايم هر کانديد چې له جمعيت او نظار شورا سره د خپل قدرت لپاره معامله کوي له دې وطن سره خيانت ګڼل کېږي. جمعيت او نظار شورا په افغاني سياست کې يوه منفي پديده ده او دا چې له هرې بلې مثبتې پديدې سره يو ځای شي هغه پر منفي پديدې بدلوي، نو غني او يا اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



که غواړي په ټاکنو کې بريالي شي او يا په لومړي او دويم مقام کې راشي، نو له ازبکو، هزاره وو او يا نورو ورونو قومونو څخه دې غوره اشخاص د مرسيتالانو په توګه غوره کړي. احمدولي مسعود، قانوني، صلاح الدين رباني، عطا محمد نور، جمعيت او نور تاجک ورونه دې دا ځل پرېږدي چې له کوم تشويش او ابهام پرته د خپلې خوښې خپل کانديد ته رايه ورکړي او تر ټاکنو بل ښه بديل خو لا دا دی چې ټول په ګډه د سولې لپاره کار وکړو. ، هر چا که په افغانستان کې سوله ټينګه کړه له ووټونو پرته هغه د خلکو په زړونو کې ولسمشر دی، هم محبوب دی، هم اتل دی او هم د ابدي عزت څښتن. نورې خبرې بيا بله ليکنه کې. خو په پای کې د غني او اتمر له اورپکو پلويانو هيله کوم چې ډېره ګرمه او ډېره سړه يې مه خورئ چې دواړه حالته ستوني ته زيان رسوي، د اشخاصو پر ځای د سستمونو او قانون ملاتړ وکړئ، راځئ څوک چې له قانونه سرغړاوی کوي مخه يې ونيسو. زموږ د خلاصون لار قانون دی، د قانون پلي کېدنه او قانونپالنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library




# د نن اړتیا

*دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د جنورۍ پر(۱۴)مه نېټه، چې د (۱۳۹۷ل) کال د مرغومي له (۲۴)مې نېټې سره برابره ده، لیکل شوې ده. دا مهال د پښتون ژغورنې غورځنګ له خوا په محکوم افغانستان کې لوی لاریونونه روان وو.*

**نن چې په محکوم افغانستان کې د ازادۍ نارې خورې دي، که ملنګ جان ژوندی وای، نو لکه بلبل به ورته چغېدلی و او ضرور به یې دا ترانه زمزمه کوله:**

**نن زلمیان د پښتنو تجربه کېږي**
**تماشو له یې ولاړ دی ټول جهان**
**دا یادګار به تر قیامته پاتې کېږي**
**مېړنیه دا دې وخت دی د میدان**

**او نن چې سردار محمد داود خان ژوندی وای، نو بیا خو به د لښکرکشۍ او سفربرۍ غږ وای، نو د پنجاب به څه حال و؟**



**خو اوس موږ په ډېره پیکه زمانه کې ژوند کوو، د ډیورند پر کرښې اغزن تار تېرېږي، خو موږ لا ورته سپینې سپینې ګورو، لا هم د وطن د ګټو د غوړېدو پر ځای شخص ته دعاګانې کوو چې زرکلن شې. که زر کاله پر همدې چوپتیا او بې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننګۍ تېرېږي، نو خدای^(ج) دې دا عمر کال او مياشتې ته را لنډ کړي. د وخت واکمنه غاړه دې د ډيورند په اغزن تار وتړل شه چې د دې تار او ناتار پر ضد څه نه پورته کوې او د له منځه وړلو لپاره يې عملي ګامونه نه اخلې. وخت تېرېږي، زمانه چاته نه ګوري، پورته شه د منطق او جنګ توره تر ملا کړه، خپل ځان وګټه، خپل ورور وګټه، خپل جانان وګټه، هغه کسان چې تا له داودخان سره پرتله کوي او تشبه کوي هغوی هم په خپله افرطي ستاينه کې مه شرموه، پورته شه يو داودخانی او پاچاخانی شنګ دې معلوم کړه. د ارګ له څلورو دېوالونو سر را بهر کړه، د شمشاد څوکې ته پورته شه پر خيبر غږ وکړه:

موږ ياران د بدې ورځې به در دانګو
په دوســـتانو دې ډاډه اوسه خيـــبره

او که دا هم نه شې کولی او دجنګ توريالی هم نه ياست، نو د نړۍ دويم مفکر خو يې، لاړه شه په ملګرو ملتو کې خپل ګرېوان وشلوه، د خپلې ځمکې او خپل ورور د ګټنې دعوه او داعيه دې را ژوندۍ کړه، دا مهمه نه ده چې ستا په يوه چغه به موږ (١٢٦) کلنه دعوه او داعيه وګټو، خو لږ تر لږه به اينده نسل د پنجاب له هغه توره خلاص وي چې ستاسو هغه مفکر واکمن په خپل وخت کې توره و نه کړه، توره څه چې چغه يې پورته نه کړه، نو تاسې لا د چا زامن ياست؟ښاغلی مفکر صيب! هيله ده د ډيورند ظالمانه کرښې په باب اساسي فکر وکړې، لکه د اوس په شان يې له سره تېره نه کړې. واک او زمانه تېرېږي خو تاريخ ليکل کېږي... مرحوم داودخان او مرحوم ملنګ جان دې په ګلونو کې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کابل ټاکنې

## (ما خپله غاړه خلاصه کړې وه)

*دا ليکنه د (۲۰۱۹م) کال د جنوري پر (۱۵)مه نېټه، چې د (۱۳۹۷ل) مرغومي له (۲۵)مې نېټې سره سمون خوري، ليکل شوې ده.*

**د (۲۰۱۸ م)کال د جولای پر (۷) مه نېټه مې د ولسي جرگې لپاره په کابل کې له مېشتو پښتنو او هېوادپاله نوماندانو څخه د يوې ليکنې «د ولسي جرگې نوماندانو ته خپله غاړه خلاصوم» له لارې هيله وکړه چې خپلو کې جرگه شئ او شمېر مو را کم کړئ، کنه سخته ماته به وخورئ او زيات اقتصادي زيان**




**به هم ووينئ. تر ليکنې وروسته مو د دوی ځينو تر منځ جرگې هم وکړې، خو ډېره مطلوبه نتيجه يې ور نه کړه. يو ځل بيا نوماندانو او لوستونکو ته د هغې ليکنې يادونه کوم چې ټول پرې قضاوت وکړي. ددې تر څنگ زه چې کله کله پر جمهور رييس ښاغلي غني نيوکې کوم نو هدف مې دا وي چې خپله غني او ولس له زيانه و ژغورل شي، خو دې منځ کې بيا د ښاغلي غني تر وخت مخکې زېړېدلي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اورپکي مداحان اور واخلي او پر سپکو خوله خلاصه کړي. سبا به يې هغه هم له زيانونو سره مخ کړي وي او دوی به د خير پر غونډۍ ناست وي. هغه وخت چې به ما د نوماندانو تر منځ جرګه کوله نو هغوی چې به مې د يو بل په ګټه انصراف ته متمايل کړل، نو اورپکو کمپاينرانو او غوړه مالانو به يې را ودانګل؛ نه ته په موږګټلي انتخابات بايلوې تا له مقابل لوري سره خبره پخه کړې، هغه ولې زموږ په ګټه نه تېرېږي چې موږ د هغه په ګټه تېرشو؟ دې کې به خبره همداسې ګډه وډه پاتې شوه. ښه به وي چې لوستونکي دا ليکنه يو ځل بيا د يوې تجربې په توګه له نظره تېره کړي.

د دې ليکنې نوم و (د ولسي جرګې نوماندانو ته؛ خپله غاړه خلاصوم)، چې اوس د دې کتاب په تېرو مخونو کې راغلې ده.

کله چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون له خوا د کابل د ټاکنو لومړنۍ پايلې اعلان شوې، نو اکثره هغه نوماندان چې تر ټاکنو د مخه موږ ورسره مشوره کړې وه چې له خپلې نوماندې تېر شي، اکثره يې په ټاکنو کې پاتې راغلي وو، مالي زيانونه او سختې ستړياوې يې هم وزغملې، چې دا وخت به زموږ مشورې ور يادې شوې وي، که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د یووالي غږ

*دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د جنوری پر (۱۹)مه، چې د (۱۳۹۷ل) کال د مرغومي میاشتې له (۲۹)مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې ده.*

که دا سیاسي شخصتیونه (غني، اتمر، حکمتیار) یو بل سره د یووالي لاسونه ورکړي او د ټاکنیزو اسنادو د ارزونې او انصراف په ټاکلې بهیر کې د یو بل په ګټه تېر شي؛ یو تن غوره کړي او بیا یو تن ښه کاري شخص له ازبکو او یو تن بل له هزاره ورونو څخه د لومړي او دویم مرستیال په توګه خوښ کړي، نو بیا د جمعیت او نظار شورا لنډغر د دې څواک



لري چې له دوئ او زموږ له ملت څخه دا ناوړه باج واخلي؟یا هم دومره نازونه، چلونه، نخرې او توطیې وکړي؟یا به هم کرایي لیکوالو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فيسبوکيانو ته د دې زمينه برابره شي چې فيسبوک د شخصي عقدو او کنځلو پر ډګر بدل کړي؟ نو راځئ چې د لنډغرو او کنځلمارو مارکېټ ختم کړو، د دې ډول او دې ته ورته نورو اشخاصو تر منځ د پخلاينې او نږدېوالي لپاره کار وکړو، له دوی څخه خپله طرحه وغواړو، موږ هم خپله طرحه ورکړو، د هر چا طرحه چې پوره اوکره وه او دوی يې د عملي کولو وس درلود، د بريا عملي او نظري امکانات او دلايل يې څرګند وو، ټول د هغه ملاتړ وکړو او که په دې ډول دا او داسې نور ښاغلي روان وي، نو موږ باندې دې نور لېوان نه روږدي کوي، موږ ته د دوی تر ټاکنو او ولسمشرۍ سوله او امنيت ډېر ضروري دی، راځئ چې تر ټاکنو سولې ته لومړيتوب ورکړو، خپله ټوله انرژي د سولې د ټينګښت لپاره ولګوو، کله چې په ټول هېواد کې سوله راشي بيا به نه شمالټلواله وي نه به يې دا نازونه او نه يې هم دا چلونه؛ نه به دا ناصرخان وي او نه به يې دا سره سره اوښان او هغه وخت به ولس هم ازاد وي او مشر به يې هم؛ دوی به له جبري مرستيالانو خلاص شي او موږ به له جبري مشرانو...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مقابله که معامله؟

*دا لیکنه د (۲۰۱۸م) کال د جنوری پر (۲۰)مه نېټه، چې د (۱۳۹۷ل) کال د (مرغومي) میاشتې له (۳۰)مې نېټې سره برابره ده، لیکل شوې ده.*

**نن د ګډ حکومت دوو مشرانو ښاغلي (غني) او ښاغلي (عبدالله) دواړو په جلا جلا ټکټونو کې ځانونه راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو ته نوماندان کړل. ښاغلي غني د قانون د حاکمیت ډاډ څرګند کړ او ښاغلي عبدالله د اوس په شان تر قانون اخوا د اجراییه ریاست پوسټ یو ځل بیا تثبیت کړ.**



**لکه څنګه چې کاندیدي د هر افغان حق دی، دغسې پر هغو تبصره او بحث هم د هر افغان حق دی. لیکوال مسوولیت لري چې د ټولنې د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسنيو حقيقتونو تصوير ننني او سباني نسل ته په ډاګه کړي. زموږ او د کانديدانو ترمنځ د مناسباتو او معاملاتو لپاره د وصل او فصل کړۍ همدا اساسي قانون او نور وضعه يي قوانين دي. د جمهوري رياست په ترکيب کې د اجراييه رياست پوستې د اساسي قانون له مخې مشروعيت نه لري، هر کورني او بهرني عنصر چې دا پوستې له هرې وجې رامنځته کړ، له ملت سره يې خيانت او له اساسي قانونه يې سرغړاوی وکړ.

د اساسي قانون له مخې له جمهور رييس پرته هر هغه دولتي شخص چې د ولسمشرۍ په ګډون په نورو هر ډول ټاکنو کې د نوماند په توګه ګډون کوي، بايد خپله دولتي دنده خوشې کړي، خو جمهور رييس او مرستيالان يې له دې امره ځکه مستثنی دي چې هلته د قدرت خلا رامنځته کېږي، اوس چې اجراييه رييس نن نومليکنه وکړه او ورځ دوه دمخه يې مرستيال (محقق) نومليکنه کړې وه، پوښتنه دا ده چې دوی له خپلو دولتي دندو استعفاوې وکړې که نه؟ که نه يې کوي، د کوم دليل له مخې يې نه کوي؟ جمهور رييس غني چې په راتلونکي کې د اجراييه رياست د لغوې او د اساسي قانون د حاکميت ژمنه کوي، نو ايا دا اوس چې اساسي قانون تر پښو لاندې کېږي، د دې مسووليت د چا پر غاړه دی؟ که څه هم واقعيتونه ترخه دي، خو که و نه ويل شي، زيان يې تر دې ترخه حالته څو ځله زيات دی. د نظر خاوندانو سره يو ځل بيا يو لړ سوالونه پيدا کېږي: يو شک او ګومان دا دی چې شمالټلواله په تېره بيا نظار شورا او د هغې فعال کرکټرونه تر غني، اتمر او بل هر کانديده په معامله، توطيه، سازش او دسيسه کې دمخه دي. ويل کېږي چې د غني په ټاکنيز ټکت کې د (امرالله صالح) او د اتمر په ټاکنيز ټکټ کې د (يونس قانوني) ځايونه د دې ډلې يو دقيق، محاسبه شوی او ستراتيژيک هدف و چې په اسانۍ سره پرې بريالي شول. نظار شورا په راتلونکي کې د غني او اتمر د احتمالي ريفورمونو له احتمالي ګواښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېغمه شول او اوس د نور لا زيات امتياز په لټه کې دي. داسې احتمال شته چې د غني او عبدالله تر منځ داسې يو نا ليکل شوی تفاهم موجود وي چې عبدالله ځان نوماند کړي، که په دويم رونډ کې غني او عبدالله سر ته ووتل او د عبدالله د ګټې چانس کم وي، نو عبدالله به د غني په ګټه تېر شي او اجراييه رياست به يو ځل بيا همداسې پاتې شي. که چېرې اتمر او غني سرته ووتل، نو عبدالله به بيا له غني او اتمر سره يوه معامله وکړي او وبه وايي چې دومره رايې درکوم، زما لپاره اجراييه رياست خوندي کړئ. هغه وخت به دا دواړه نوماندان په نازک حالت کې وي، نو لکه د تېر په شان به په اسانۍ سره يو ځل بيا نامشروع امتياز ته غاړه کېږدي، نو که غني رښتيا هم اساسي قانون ته ژمن وي، نو ولې بيا راتلونکې دورې ته د قانون د تطبيق مسله غځوي، همدا اوس يې ولې نه تطبيقوي؟ اوس خو دا اجراييه رياست نه ولس ته، نه ملي شورا ته او نه هم کوم بل ارګان ته هېڅ ډول مسووليت نه لري، يوازې جمهور رييس تر خپل سوګند پنځه لس دقيقې وروسته د يو فرمان له لارې رامنځته کړی او بېرته بايد د يو فرمان له لارې له منځه لاړ شي.

غني اوس برحال جمهور رييس دی او راتلونکي کې احتمالي، اوس دی د خپلې واکمنۍ په حالت کې د اساسي قانون تطبيق نه غواړي، خو ګانده کې چې يې کاميابي يو احتمال دی، ولس سره د اساسي قانون د تطبيق ژمنه کوي؟! د غني په راتلونکي حاکميت کې د اجراييه رياست نشتوالی دا حقيقت په ډاګه کوي چې په اوسنۍ دوره کې اساسي قانون تر پښو لاندې شوی، خو په راتلونکې کې به دا کار نه تکرارېږي.

زه فکر کوم چې غني د نظار شورا د خطرناک دام په لومه کې ګير دی، د يوه قوي مرکزي حکومت د جوړېدو مفکرين ده ته د پيغام رسولو لار نه لري او دولتي غوړه مالان بيا د داسې يو فکر د لېږد ظرفيت او جرئت

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه لري.

تاريخ به دا ثابته کړي چې راتلونکو شپږو مياشتو کې به هم غني او هم عبدالله دواړه له دولتي امکاناتو څخه د ځان په ګټه پوره کار واخلي، يو ځل بيا به د قانون حاکميت د معاملې مسير ته ولوېږي.

د کانديدانو پر پلويانو به زموږ دا خبرې ښې ونه لګي، خو موږ د قانون د حاکميت پلويان يو. د قانون حاکميت اصلاً د جمهور رييس يوه اساسي دنده ده، خو که خپله چارواکي له قانونه سرغړاوی وکړي، نو په ملت کې بايد داسې يو څوک هم وي چې د هغوی پر وړاندې خپل غږ پورته کړي. دا ليکنه د اوسنيو ټاکنيزو جوړښتونو يو نسبي انځورنه کوي، د دې زيات اټکل هم شته چې د دې ټيمونو اکثره يې تر ټاکنو پورې خپل ژوند تضمين نه شي کړای، دا ترکيبونه به ماتېږي، ځينې برخې به يې يو بل ته اوړي، ځينې ټيمونه کېدای شي تر ټاکنو لږ وړاندې له خپلو نازولو مرستيالانو بې برخې شي او نور زيات ادلون بدلون په کې راشي. طالبان او د سولې بهير لا بل اساسي عامل دی چې دا ټيمونه خپلخوښو ټاکنو ته پرېږدي او که نه؟ په پای کې جمهور رييس غني ته وروستۍ مشوره دا ده، که غواړې اساسي قانون حاکم شي او سولې ته لاره اواره شي، سر له سبا دې اجراييه رياست له خپل ټول تشکيل سره لغوه کړي او ژر تر ژره دې طالبانو سره د سولې خبرې له هرې ممکنې لارې چې وي، پيل کړي، هر چا چې افغان ولس ته سوله راستنه کړه، هغه هم د ټاکنو ګټونکی دی، هم رښتينی اتل دی، هم د ولس خدمتګار او هم د زړونو واکمن.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# که شینواري ولایت شي څه ګټې لري؟

*دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د جنورۍ پر (۲۱)مه نېټه، چې د (۱۳۹۷ل) کال د سلواغې له (لومړۍ) نېټې سره سمون خوري، د شینوارو سیمې ته د ولایت درجې د اوازو په باب لیکل شوې وه.*

**دا د شینوارو د ولسونو یوه اساسي هیله وه او هیله ده.**

**لږ تر لږه اتلس کاله کېږي چې زه د شینوارو د یو شمېر مخورو، ځوانانو، سیاسیونو او روښنفکرانو د پرلپسې هڅو شاهد یم، د کرزي صیب په حاکمیت کې خبره د هغه تر مېزه ورسېدله.**



**د ننګرهار د هغه وخت بېلابېلو چارواکو ځکه د دې سیمې د ولایت**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدو مخه ونيوله چې تورخم ګمرک يې له لاسه ونه وځي، کرزي د شمالټلوالې له وېرې دا کار نه کاوه او پلمه يې دا کوله چې ننګرهار وړوکی کېږي. زه چې د کيسې په جريان کې يم، د دې کيسې بيان زيات تفصيل ته اړتيا لري چې بل وخت به پرې رڼا واچوم، خو څرنګه چې اوس موضوع عاجله ده، نو غواړم پر ګټو يې لنډه رڼا واچوم:

۱- د امنيتي پرسونل تشکيل به يې زيات شي، امنيت به يې ښه شي.

۲- د روغتيايي، تعليمي او نورو برخو تشکيلات به يې زيات شي، هم به دې برخه کې ودانۍ جوړې شي او هم به اړوند پرمختګونه وشي.
۳- دولت مجبور دی لکه د نورو ولايتونو په شان شينوارو ولايت ته هم يو ځانګړی پوهنتون منظور کړي.

۴- شينواري به مشرانو جرګه کې د دوو منتخبو استازو خاوندان شي.
۴- شينواري به په ولسي جرګه کې له يوې ښځينه استازې برخمن شي او د نارينه استازو له غړيتوبه به هم نه محرومېږي.

۵- شينوارو کې به د جلال اباد په شان يو نوی ښار ظهور وکړي او هلته به يو مدني مرکز جوړ شي.

٦- په بېلابېلو برخو کې به د اداري تشکيلاتو په زياتېدو سره هلته بوديجه منظوره شي او خلکو ته به کار پيدا شي.

۷ - شينواري به په ولايتي کچه د يو روغتيايي کمپلکس او لوی روغتون خاوندان شي.

۸-شينوراي به د اساسي قانون په لويه جرګه او نورو لويو جرګو کې خپل استحقاق ولري.

۹-شينواري به په اسانۍ سره خپله جغرافيه کنترول کړي او په اسانۍ سره به د ډيورنډ کرښې له اخوا او دېخوا څخه د ورانکارو عناصرو مخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونیسي او په لسګونو نورې ګټې چې ضرور نه ده ټولې دلته بیان شي. که چېرې د اداري واحدونو زیاتون ګټه نه لرلای، نو له پنجشېر او دایکندي څخه هغوی هېڅکله ولایتونه نه جوړول، نه یې د بدخشان شپاړس ولسوالۍ (۳۲) اداري واحدونو ته پورته کولې او نه یې هم د نورو اداري واحدونو د زیاتولو غوښتنه کوله. اوس به د اساسي قانون په لویه جرګه کې د بدخشان استازي تر بل هر لوی ولایته زیات وي.

د ځینو ننګرهاریو بې ځایه اندېښنې او وسوسې او د هغو ځوابونه:

۱- ننګرهار به تجزیه او کمزوری شي!

خوست چې له پکتیا، پنجشېر چې له پروان، نورستان چې له لغمان او کونړ څخه جوړ شول دا جغرافیه بل هېواد ته لاړه او که دې خلکو ته اداري سهولتونه او امتیازونه زیات شول؟

۲- مومند او نور قومونه نه غواړي شینوارو سره یوځای شي! نو شینوارو کله ویلي چې دوی دې موږ سره یو ځای شي؟دلته حل لاره دا ده چې نه یوازې مومند او نور قومونه چې جلال اباد ښار ته نږدې پراته وي او ان د شینوارو هغه سیمې چې جلال اباد ته نږدې وي، ټولې باید د اوس په شان د ننګرهار د فعلي تشکیلاتو برخه وي. یوازې د شینوارو د شپږو ولسوالیو هغه برخې چې له مرکز جلال اباده لرې دي هغه باید د شینوارو د نوي ولایت برخه شي او د دې تر څنګ دې په یادو سیمو کې نفوس او جغرافیې ته په پام سره نوې ولسوالۍ جوړې شي.

۳- ننګرهار څخه چې تورخم لاړ، نو ننګرهار کې نور څه پاتې شول؟ د تورخم ګمرګ د افغانستان ملکیت دی، خو موقعیت یې په ننګرهار کې دی، که د شینوارو مربوط شي که د ننګرهار عواید به یې مرکز ته انتقالیږي. یا هم کله چې د شینوارو مربوط شي له جلال اباد ښار څخه به یې واټن زیات شي که کم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شينوارو ولايت په دې مانا نه دی چې خدای مه کړه شينواري به له جلال اباده پوپناه کېږي، بلکې شينواري به هم په ننګرهار کې وي او جلال اباد به يې مدني مرکز وي او هم به په شينوارو کې د يو بل مدني او اقتصادي مرکز جوړېدو ته لاره اواره کړي. کله چې لغمان او کونړ له ننکرهاره مستقل اداري واحدونه يا ولايتونه شول، نو نه له ننګرهاريتوبه ووتل او نه له مشريقيوالۍ. اوس په جلال اباد مدني مرکز کې دومره لغماني او کونړي اوسي چې د کونړ او لغمان په مرکزونو کې نه اوسي، ان ملکي او وکالت هم په کې کوي، نو تکړه شئ شينوارو عزيزانو همدا مو وخت دی خولا چې که بيا چا ولايت در کړ. خوند خو به هله وکا چې شينواري ولايت شی لومړی والي يې ياغيستان حاجي، کريټ حاجي، پېښوری، کابلی، کندهاری جرمنی، مېړی، هندوستان حاجي او لومړۍ ښاروالـه يې خموزوره ترور، بي بي سي خور، پلوسه ترور او داسې نور سوچه شينواري وي چې سوچه پښتانه بسلمانان وي او وروسته که بيا نوبت اديانو والاوو لکه: قمرالدين، جلال الدين، مفتاح الدين او ښاري شويو شينوارو، لکه غيرت، ننګ، پرتم او نورو ته رسېده هم پروا نه کوي. سلامالیکړم شينوارو عزيزانو! ستاسو د ولايت د ليدو په هيله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یو ځل بیا د شینوارو ولایت په باب

*دا لنډ یادښت د (۲۰۱۹م) کال جنورۍ پر (۲۲)مه نېټه، چې د (۱۳۹۷ل) کال د (سلواغې) میاشتې له (۲)یمې سره سمون خوري، لیکل شوی دی.*

**زما د تېرې لیکنې په باب اکثرو دوستانو مثبت نظر ورکړی و، خو ځینو سره تشویشونه هم وو، چې هغه کېدی شي رفع شي. ددې ولایت د نامه په باب هم د ملي فکر خاوندانو سره مقعول وړاندیزونه وو چې قومي رنګ باید ونه ولري. عبدالنافع همت صیب او ډاکتر صیب شېرولي شېر دا سمونپالی نظر څرګند کړی و. زه اوس دا وړاندیز کوم چې جمهوررییس دې په اصولو کې د دې سیمې لپاره ولایت ومني، نوم یې کېدی شي (سپینغر) شي او یا کوم بل غوره نوم، هغه باید شینواري عزیزان، مومند، خوګیاڼي، پشه یان، د ننګرهار نور قومونه، ولایتي اداره، فرهنګیان او متخصصین او نور سره کیني هم یې پر مرکز، هم یې پر نوم، هم یې پر جغرافیایي حدوداتو او هم یې پر نورو نویو اداري واحدونو فکر وکړي. نور اړوند ضروري توضیحات بل وخت...**

**یادښت: د شینوارو ولایت په باب زما د پورتني یادښت تر خپرواي وروسته ګڼ شمېر هېوادوالو خپل نظرونه څرګند کړل، اکثره یې مثبت نظرونه وو، خو ځینو کې اندېښنې او اختلافي نظرونه هم وو، چې د هغو د ځوابونو په خاطر مې دغه بل لنډ یادښت هم خپور کړ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د قانون د حاکمیت لپاره یو نیم ګام

*دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د جنورۍ پر (۲۴)مه، چې د (۱۳۹۷ل) کال د سلواغې له (۴)مې نېټې سره برابره ده، لیکل شوې ده.*

**د ټولنې د کنټرول او د یوه نظام د حاکمیت لپاره تر ټولو غوره وسیله د قانون تطبیق دی، د څلورنیمو کلونو په بهیر کې جمهور رییس غني کله کله د اساسي قانون د تطبیق لپاره یو نیم ګام پورته کړی چې د ولس د هرکلي وړ ګرځېدلی دی، خو زیاتره وخت قانون تر پښو لاندې شوی دی.**




**کله چې ډاکټر اشرف غني له ډاکټر عبدالله عبدالله سره یو ځای ګډوله حکومت جوړ کړ او له اساسي قانونه یې سرغړاوی وکړ، نو له همغه پیله ما د یوه افغان په توګه د اجراییه ریاست او نورو ناقانونه کارونو مخالفت وکړ او دا لړۍ لا هم دوام لري، خو یو شمېر غوړه مالانو به هغه وخت زموږ دا قانونپاله حرکت په ناسم ډول تعبیراوه او خپله ځان ساتنه به یې هم توجیه کوله. د ټاکنو د شفافیت د تضمین په خاطر ما څو میاشتې د مخه وړاندیز کړی و چې د ټاکنیزو کمېسیونونو کمېشنران باید د ټاکنو له**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځې رانيولې بيا د ټولو دوسيو او جنجالونو تر پايته رسېدو څو مياشتې وروسته پورې هم له هېواده ممنوع الخروج شي او کله چې د درغليو د نشتوالي په باب بشپړ ډاډ ترلاسه شو، نو بيا دې دوی ته د نورو افغانانو په شان د ټولې ازادۍ حق ورکړای شي. څو موده دمخه مې وليکل چې ډاکټر عبدالله عبدالله او حاجي محقق دواړه د ټاکنيزو ټکټونو اساسي برخې دي، بايد له قانون سره سم له خپلو دندو استعفاوې وکړي او که دوی دا کار نه کوي جمهور رييس دې د يوه فرمان له مخې له خپلو دندو لرې کړي.

له نېکه مرغه چې جمهور رييس د ټاکنيزو کمېسيونونو غړي ممنوع‌الخروج اعلان کړل او حاجي محمد محقق يې هم له دندې گوښه کړ.

اوس ډاکټر عبدالله د محقق په اړه د غني فرمان نه مني، خو غني ته په کار دي چې ډاکټر عبدالله عبدالله هم د يوه فرمان له مخې له خپلې دې ناقانونه دندې لرې کړي. غني اجراييه رياست د خپل يوه ناقانونه فرمان په ترڅ کې رامنځته کړی، نو اوس ورته په کار دي چې د يوه قانوني فرمان له لارې يې ببرته له منځه يوسي.

غني په دې برخه کې له قانوني پلوه ځکه برلاسي لري چې ياد ښاغلي د ولسمشرۍ ټاکنو ته ولاړ دي. عبدالله او ډله يې کېدی شي، استدلال وکړي چې اجراييه رياست خو د غني او عبدالله د گډ تفاهم له مخې رامنځته شوی و، نو کله چې غني په حاکميت کې وي، اجراييه رياست به هم په حاکميت کې وي. د دې دليل په مقابل کې بايد وويل شي چې دا گډوله حکومت له سره هم د اساسي قانون له روحيې سره مخالفت کې رامنځته شوی و، بل دا د دوو گروپونو تر منځ توافق و، نه د قانون حکم. دې گروپونو نه يوازې له اساسي قانون څخه سرغړاوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړ، بلکې په خپله د ملي وحدت حکومت له توافق لیک څخه یې هم سرغړونه وکړه، هلته ویل شوي وو چې د دوو کلونو په بهیر کې به لویه جرګه جوړېږي او دا پوسټ به په اجرایي صدارت بدلوي، خو دواړو ګروپونو خپله دا ژمنه هم عملي نه کړای شوه، نو هغه اشخاص او ډلې چې هم له اساسي قانون او هم له خپلمنځي توافق څخه په متواتر ډول سرغړونې کوي، ایا افغان ولس ته په کار دي چې لا نور هم دوی ته صبر وکړي؟ اوس اصلي خبره دا ده چې د ټاکنیزو قوانینو له مخې له جمهور رییس او مرستیالانو پرته یې هر دولتي چارواکی چې غواړي ځان هر ډول انتخابي بهیر کې نوماند کړي، باید له دولتي څوکۍ څخه استعفا وکړي، جمهور رییس باندې دا حکم ځکه د تطبیق وړ نه دی چې هلته قانوني خلا رامنځته کېږي.

نو اوس له اجراییه رییس (عبدالله)، مرستیال یې (محقق) او نورو څخه پوښتنه کېږي چې تاسې د اساسي قانون له مخې ځان کاندیدوئ، که د ملي وحدت د حکومت د تړون له مخې؟ د ملي وحدت حکومت خو د ټاکنو لپاره کوم بل خاص قانون نه لري چې ټولو نوماندانو او ملت ته د منلو وړ وي، خو یوازېنی لار همدا اساسي قانون او نور ټاکنیز قوانین دي، نو په هغو کې خو د حکومتي چارواکو استعفا حتمي ده، نو که چېرې قانون نه منئ، بیا ځان مه کاندیدوئ، تر هغه پورې پر همدې پوستونو بسنه وکړئ، چې ځای مو بل قانوني او انتخابي حکومت ونیسي.

د وروستیو خبرو په توګه یادونه کوم چې د جمهور رییس وروستۍ دوه پرېکړې که څه هم د هر نیت له مخې دي او ډېرې ناوخته دي، خو بیا هم د قانون د حاکمیت لپاره یو ښه اقدام دی. موږ هیله لرو چې تر محقق وروسته ډېر ژر د عبدالله عبدالله د عزل لپاره هم ورته فرمان صادر کړي، چې لږ تر لږه خو د قانون د حاکمیت لپاره یو دوه ګامه مزل وهل شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يو قانونپاله تاريخي مسووليت

***دا ليکنه د (۲۰۱۹م) کال د جنورۍ پر (۲٦)مه نېټه، چې د (۱۳۹۷ل) کال د سلواغې له (٦) مې نېټې سره سمون خوري، ليکل شوې ده.***

**اساسي قانون د هېواد سياسي چارو د سمبالښت مهمه سرچينه ده، ټاکنيز کمېسيونونه مکلف دي چې د همدې اساسي قانون په رڼا کې د خپل فعاليت مسير وټاکي. د ولسمشرۍ او نورو انتخاباتي بهيرونو کانديدان مجبور دي، هم د اساسي قانون احکام او هم د ټاکنيزو کمېسيونونو شرايط ومني، خو اوس د ولسمشرۍ ټاکنو ته ځينې داسې نوماندان هم ولاړ دي چې ځينې يې په مطلق ډول د اساسي قانون محتوا او د ټاکنيزو قوانينو شرايط نه مني او ځينې يې بيا په ځينو برخو کې سرغړاوی کوي.**

**په همدې نيت زه (يون) د نورو همفکره قانونپاله افغانانو په استازۍ د ټاکنو خپلواک کمېسيون ته لاړم چې د ځينو نوماندانو پر کړنو،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرګندونو او له قانون څخه پر سرغړونو هغو ته خپل اعتراض وړاندې کړم.

کمېسيون ته زموږ تر ټګ وړاندې د ټاکنو کمېسيون غړي زموږ د اعتراض د اورېدو لپاره يوه خوله نه وو، د نظر اختلاف يې درلود. د خبرو په ترڅ کې دې نتيجې ته رسېدلي وو چې زموږ له خوا ليکل شوي دلايل واخلي او بيا پرې غور وکړي. موږ يوه نيمه بجه کمېسيون ته ورغلو، د کمېسيون په استازی مو د کمېسيون مشر ښاغلي (عبدالبديع صياد) سره وکتل، هغه ته مو خپل اسناد تسليم کړل، هغه وويل چې موږ به يې خپلې اړوندې کمېټې ته ورکړو، خو له چلند او خبرو يې داسې ښکارېدله چې نه د دې اعتراضونو د ارزونې جرئت لري، نه هم په کمېسيون کې دی د ځانګړي واک څښتن دی او نه هم نور کمېشنران د ملي مسايلو د پاللو او د قانون د تطبيق په برخه کې يوه خوله دي. دلته غواړم تر اعتراض لاندې نوماندانو په باب خپل اعتراضونه په مسلسل ډول درنو لېدونکو ته وړاندې کړم او په دې ډول د قانونپالنې په برخه کې خپل مسووليت ادا کړم.

پر دې هم پوهېږم چې نه به څوک دا اعتراضونه واوري، نه به قانون عملي شي او نه به هم په اسانی سره سمون رامنځته شي، خو دا د هر افغان حق دی چې تاريخ ته خپله غاړه خلاصه کړي او خپل قانوني او ملي مسووليت ادا کړي.

په درناوي

محمد اسمعيل يون

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دواړو انتخاباتي کمېسيونونو محترمو مقامونو ته!

**څرنګه چې انتخابات يوه ملي پروسه ده، اساسي قانون او انتخاباتي قوانينو يې مسير او څرنګوالی مشخص کړی دی، نو ملت، نوماندان او ټاکنيز کمېسيونونه مجبور دي چې انتخاباتي قوانينو ته غاړه کېږدي او د سرغړاوي په حالت کې په قوانينو کې راغلي مجازات پرې تطبيق شي.**

**اوس چې د جمهوري رياست لپاره د نوماندانو د نومليکنې بهير بشپړ شوی او د هغوی اسناد تر ارزونې لاندې دي، نو داسې ښکاري چې يو شمېر نوماندانو تر نومليکنې دمخه هم د اساسي قانون او هم د انتخاباتي قوانينو له محتوياتو سرغړونه کړې او تر نومليکنې وروسته هم د دې احتمال شته چې دې لړۍ ته ادامه ورکړي، خو د ملت غوڅ اکثريت په تېره بيا قانونپاله افغانان غواړي د جمهوري رياست پر نوماندانو باندې قانون په بشپړ او عادلانه ډول تطبيق شي. ګڼ شمېر هېوادپالو او قانونپالو افغانانو سره دا انديښنه ده چې که چېرې پر يادو نوماندانو قانون تطبيق نه شي او دوی د چل، فريب، زر او زور له لارې واک ته ورسېدل، نو بيا خو به د قانون ماتونې پرله پسې لړۍ پيل شي او په نتيجه کې به هېواد له لوی بحران او ملت له لوی زيان سره مخامخ شي، نو ځکه خو ما محمداسمعيل يون د زرګونو قانونپاله افغانانو په استازې دا ضروري وګڼله چې د قانون د تطبيق لپاره تر ټولو لومړی ټاکنيزو کمېسيونونو او بيا وروسته عدلي او قضايي ارګانونو ته عارض شم.**

**ستاسو له محترمو مقامونو څخه هيله کوم چې که چېرې زموږ دلايل، اسناد او شواهد قانع کوونکي نه وو او له قانون سره يې سمون نه درلود، په دلايلو سره يې رد او مسترد کړئ او که چېرې دې دلايلو د اساسي قانون او د انتخاباتي قوانينو له محتوياتو سره سمون درلود، نو بيا ستاسو له مقاماتو څخه جدي غوښتنه کوو چې د نافذو ټاکنيزو قوانينو په رڼا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې سرغړوونکي له لېسته حذف او يا پرې اړونده جزا او انظباط تطبيق کړئ! زه دلته غواړم له قانونه د ځينو نوماندانو د سرغړونو په باب مشخص دلايل وړاندې کړم، هيله ده په جدي ډول يې وڅېړئ او په پای کې له قانون سره سمه پرېکړه وکړئ!

يادښت: په دې عرضپاڼه کې د عبدالطيف پدرام، ډاکټر محمد اشرف غني، ډاکټر عبدالله عبدالله او محمد حنيف اتمر انتخاباتي ټکټونه زموږ تر اعتراض لاندې دي.

په درنښت

محمد اسمعيل يون

د قانونپاله افغانانو په استازۍ

## عبدالطيف پدرام:



لطيف پدرام په تېره يوه نيمه لسيزه کې د ولسواکۍ له نامه څخه ناوړه ګټه پورته کړې، په متواتر ډول يې اساسي قانون او نور قوانين نقض کړي، خو چا پرې د قانون د تطبيق هڅه نه ده کړې. د ده ګوند (کنګره ملي) د اساسي قانون له محتوا او د ګوندونو د قانون له روحيې سره مخالف دی. ده خپله په لسګونو ځله قومي تفرقې ته لمن وهلې او د هېواد د وېشنې او پاشنې ګواښ يې کړی دی.

پر ده باندې بايد وار له مخه قانون تطبيق شوی وای، خو اوس چې دی يو ځل بيا د اساسي قانون او انتخاباتي قوانينو له ازاديو او مزاياوو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېرته د همدغو قوانینو پر ضد ګټه پورته کوي، نو په کار ده چې د قانون د مجازاتو برخه هم پرې تطبیق شي، په دې برخه کې په لنډيز سره څو دلایلو ته نغوته کوو:

۱- د اساسي قانون (۴، ۲۲، ۲۴، ۳۹، ۴۲، ۴۸، ۴۹، ٦۲)او نورو مادو کې د (افغان) کلمه د دې هېواد د هر فرد لپاره کارول شوې او د ټولو اوسېدونکو ملي هویت ګڼل شوی دی، خو پدرام په هېڅ وجه د اساسي قانون دا محتوا نه مني او په څرګنده یې په تېرو وختونو کې د اساسي قانون د دې محتویاتو پر ضد څرګندونې کړي او راتلونکي کې یې هم د دا ډول عملونو امکان شته، نو څوک چې په څرګند ډول د اساسي قانون له دومره مادو څخه سرغړاوی کوي، نو بیا ولې د اساسي قانون له نورو مزایاوو څخه ناوړه ګټه پورته کړي؟

۲- د اساسي قانون (۳۵)مه ماده وایي: ((د قوم، سیمې، ژبې او فقهي مذهب پر بنسټ د ګوند جوړول او فعالیت کول جواز نه لري.))

خو عملاً لیدل کېږي چې د عبدالطیف پدرام ګوند (کنګره ملي) د اساسي قانون د دغې مادې خلاف جوړ شوی او ناقانونه فعالیت کوي او بیا د همدغه ناقانونه ګوند په نامه په هر ډول ټاکنو کې ګډون کوي.

۳- د اساسي قانون (۵۹) ماده وایي: ((هېڅوک نه شي کولای، په دې اساسي قانون کې له راغلو ازادیو او حقوقو څخه په ناوړه استفادې د هېواد د خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتیا، ملي واکمنۍ او ملي وحدت پر ضد عمل وکړي.))

که د پورته مادې محتویاتو ته ځیر شو، نو عبدالطیف پدرام په لسګونو ځله د دې مادې د محتویاتو پر ضد څرګندونې او عملونه ترسره کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴- د اساسي قانون د (٦٢)مې مادې لومړۍ فقره وایي؛څوک چې جمهوري ریاست ته کاندیدېږي، باید د لاندنیو شرطونو لرونکي وي: ((د افغانستان تبعه، مسلمان، له افغان مور او پلار څخه زېږېدلی وي.))**

**لطیف پدرام په لسګونو ځله ویلي چې دی (افغان) نه دی او دا یې یو جعلي هویت بللی، نو څوک چې خپله وایي زه افغان نه یم، نو طبیعي خبره ده چې له افغان مور و پلاره به هم زېږېدلی نه وي او که مور او پلار یې افغانان وي او دی ترې منکر وي، نو دا خو لا ښخې بده ګناه ده چې سړی له خپل نسب څخه منکر شي، نو یو څوک چې خپله له خپل ملي هویت او د خپل پلار او مور له هویت څخه منکر وي او اساسي قانون هم د نوماندۍ لپاره دا یو اساسي شرط ګڼلی وي، نو څوک چې دا شرط نه مني او یا یې نه وي پوره کړی، هغه ته بیا ولې اجازه ورکړای شي چې جمهوري ریاست ته نوماند شي؟**

**۵- د سل زره ستېکر شویو تذکرو په باب هم موږ شک لرو چې د پدرام انتخاباتي ټکټ او یو شمېر نورو کاندیدانو به دا تذکرې له ښلاښلو سیمو او د ټاکنو له قانون سره سمې راټولې کړې وي که نه؟ موږ غوښتنه کوو چې د تذکرو او د ګوتو چک ښېر له تخنیکي پلوه په دقیق او ډاډمن ډول ترسره شي.**

**نور ګڼ شمېر داسې دلایل هم شته چې موږ د ټولو له راوړلو ډډه کوو. موږ یو ځل بیا له ټاکنیزو کمېسیونونو څخه په جدي ډول غوښته کوو چې د عبدالطیف پدرام د نوماندۍ په باب د اساسي قانون (٦٢)مه او نورې مادې په بشپړ ډول تطبیق کړي او له قانون سره سم جمهوري ریاست ته د هغه ناقانونه نوماندي فسخه کړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ډاکټر محمد اشرف غني:

**د ډاکټر محمد اشرف غني په شعار او عمل کې هم ځينې تېروتنې او قانون ضد عملونه ليدل کېږي، داسې ډېر اسناد او شواهد شته چې ډاکټر اشرف غني هم له خپل دولتي مقام او صلاحيتونو څخه د ټاکنيزو قوانينو خلاف د خپلې نوماندۍ لپاره ناوړه ګټه اخلي. دلته غواړو ځينو سرغړونو ته يې نغوته وکړو:**



**۱- نوملیکنه: د نوملیکنې پر مهال د اساسي قانون خلاف، درېیم معاون او یا هم هغه ته د ورته مقام د ممثل په توګه د ښاغلي (محمد یوسف غضنفر) شتوالی د غني له خوا د اوسني قانون خلاف عمل دی. د نوملیکنې پر مهال د ځینو دولتي چارواکو شتوالی هم د قانون خلاف کار دی. غوره بېلګه يې د قومونو او قبايلو چارو وزارت د وزير (ګل اغا شېرزي) شتوالی دی. له جمهور رييس څخه په ډاګه د اجراييه رياست د لومړي مرستيال انجنير محمد خان ملاتړ هم د قانون خلاف عمل دی.**

**۲- شعار: د غني انتخاباتي شعار هم د اساسي قانون د لومړۍ مادې خلاف دی. د اساسي قانون لومړۍ ماده، د افغانستان د دولت بڼه او محتوا تثبيتوي: ((افغانستان خپلواک، واحد او نه بېلېدونکی اسلامي جمهوري دولت دی)). خو د غني انتخاباتي ټيم وايي چې موږ ((دولت جوړوونکي)) يا ((دولت ساز)) يو. دا خو دا مانا ورکوي چې دلته دولت نه شته او يوازې همدا ښاغلي دي چې موږ ته دولت جوړوي. دا د افغانستان تېر تاريخ، تېرو دولتونو او په تېره بيا د اوسني اساسي قانون او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د هغه لويې جرګې ته چې ډاکټر غني د هغو په برکت همدا نن جمهور رييس او بيا هم ولسمشرۍ ته نوماند دی، يو توهين دی.**

**دولت جوړونه د ټول ملت کار دی، نه د درېو افرادو، دوی کولای شي د دولت د استحکام لپاره کار وکړي، نه دا چې څوک د دولت جوړونې دروغجن شعار ورکړي. که دلته دولت نه وي، نو دوی د کوم دولت جمهوري رياست مقام ته نوماندان دي؟**

**۳- ژمنه: تېر ځل ټاکنو کې د ډاکټر غني شعار (تحول او تداوم) و، ده ويلي وو چې د تحول لسيزه (لس کاله) دوام کوي، اوس په خپله هم له (تحوله) تېر شو او هم له (تداومه). له اساسي قانون څخه پر سرغړونې سربېره يو څوک چې له کوم فشار پرته له خپل شعار او کړې ژمنې تېر شي، نو د هغه پر راتلونکې ژمنې او حافظې څه باور په کار دی، له دې خبرو مو هدف دا دی چې کانديدان بايد داسې لوړو شعارونو ته پرېنښودل شي چې د عملي کولو وس يې نه لري او د ولس د اذهانو د تېر ايستلو سبب ګرځي.**

**۴- دولتي زورو ځواک: جمهور رييس غني له کوم مسلکي ضرورت پرته په بې درېغه ډول د خپلې خوښې افرادو پر تقرر او تبديلۍ لاس پورې کړی، د مشاورينو لښکر يې ورځ تر بلې زياتېږي او له دې ټولو څخه په څرګند ډول د ټاکنيزو مبارزو لپاره ګټه اخلي، د دې ترڅنګ يو شمېر دولتي مامورين له دولتي امکاناتو څخه ناوړه ګټه پورته کوي، په ډله ييزو او نورو رسنيو کې د غني په ګټه ناقانونه او تر وخت دمخه کمپاين کوي او خپلواک شخصيتونه او رسنۍ تهديدوي. موږ د ټاکنيزو شکايتونو له کمېسيونونو څخه غواړو چې دې ټولو سرغړونو ته متوجه اوسي، پر غني او د ده پر انتخاباتي ټيم قانوني او انضباطي جزا تطبيق کړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ډاکټر عبدالله عبدالله:

ډاکټر عبدالله عبدالله هم له ټاکنيزو قوانينو څخه سرغړاوی کړی دی. دلته يې څو مهمو برخو ته اشاره کوم:

۱- د استعفا نشتوالی: د ټاکنيزو قوانينو له مخې بايد ښاغلي ډاکټر



عبدالله عبدالله له خپلې دندې استعفا کړې وای، ځکه چې د دندې د تصدی پر مهال له خپل موقف څخه د ځان په ګټه کار اخلي. دی کېدی شي ووايي چې د ملي وحدت حکومت خو د دوو ټيمونو د توافق پر اساس رامنځته شوی و، نو زه د دې حکومت تر پايه خپلې دندې ته دوام ورکوم. دلته بايد څرګنده شي چې دا خو د هغه وخت د دوو کانديدانو ترمنځ شوی هوکړه ليک يا توافق و، نه له اساسي قانون سره توافق و او نه هم له ټاکنيزو قوانينو سره. اوس خو ډاکټر عبدالله د اساسي قانون او ټاکنيزو قوانينو له مخې ځان کانديدوي او له نورو کانديدانو سره مساوي الحقوقه دی، نو د ټاکنو لپاره خو د ملي وحدت حکومت کوم ځانګړی قانون نه لري چې دی دې له نورو نوماندانو څخه مستثنی وي. بله عجيبه خبره دا ده چې په خپله د ملي وحدت حکومت جوړوونکي ټيمونه په خپله هم خپل تعهد ته ژمن پاتې نه شول، دوی ژمنه کړې وه چې د دوو کلونو په بهير کې به لويه جرګه دايروي او اجراييه پوستې به پر صدارت بدلوي، دوی هېڅکله هم خپلې خپلمنځې ژمنې عملي نه کړای شوې، نو څوک چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې ژمنې عملي نه کړي، نو بیا هغه ولې پر همغو ژمنو اسناد وکړي؟ د ټاکنیزو کمېسیونونو مسوولینو ته په کار دي چې پر ټولو کاندیدانو اساسي قانون او د ټاکنیزو کمېسیونونو قوانین تطبیق کړي او له دې پرته څوک حق نه لري چې ځان د جمهوري ریاست مقام ته کاندید کړي، نو تر هغه پورې چې ډاکټر عبدالله عبدالله له خپلې دندې استعفا نه وي کړې، دی حق نه لري ځان نوماند کړي.

**۲- د قوانینو تهدید:** عبدالله عبدالله سره له دې چې اوس غواړي د همدې اساسي قانون له مزایاوو ګټه پورته کړي، خو پر ورته مهال یې پر خلاف ګام هم پورته کوي، اجراییه ریاست چې په اساسي قانون کې هېڅ ځای ځایګی نه لري، ده په خپل انتخاباتي ترکیب کې هغه ته ځای ورکړی او غواړي سر له همدا ننه اساسي قانون تهدید کړي، اوسنی اساسي قانون هر ډول قومي مسایلو ته لمن وهل منع کړي، خو دوی سر له اوسه د قومیت پر اساس د دولتي څوکیو وېش په پام کې نیولی دی.

له ټاکنیزو کمېسیونونو څخه جدي غوښتنه کوو چې د ډاکټر عبدالله عبدالله د استعفا د نشتوالي په حالت کې د هغه نوماندي فسخه کړي.



## محمد حنیف اتمر:

د محمد حنیف اتمر له انتخاباتي ټیم څخه هم ځینې داسې تېروتنې شوي چې د اساسي قانون او ټاکنیزو قوانینو له روحیې سره په ټکر کې دي، دلته یې د ځینو یادونه کوو:

**۱- د استعفا نشتوالی:** د ښاغلي محمد حنیف اتمر دویم مرستیال

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(حاجي محمد محقق) چې د ملي وحدت د حکومت یوه برخه ده، باید له نوملیکنې سره سم یې له خپلې دندې استعفا کړې وای. ټاکنیزو قوانینو د نوماندۍ په حالت کې له جمهور رییس او د هغه له مرستیالانو پرته د ټولو حکومتي یا دولتي چارواکو د استعفا شرط قید کړی دی. که دا اشخاص یا په ائتلافي ډول، یا هم په تنظیمي ډول او یا هم د خپل لیاقت له مخې د حکومت برخه وي، هلته دا فضا خلاصه نه ده چې څوک دې د کومو روابطو او ضوابطو پر اساس د حکومت برخه شوې وي، خو چې حکومتي شخص وي، استعفا یې حتمي ده. ښاغلی محقق د افغانستان د اساسي قانون او ټاکنیزو قوانینو په رڼا کې د یو نوماند انتخاباتي ټکت برخه ده، دا قوانین د ملي وحدت د حکومت تر خپلمنځي توافق لوړ دي او د ټولو هېوادوالو حقوق تمثیلوي.**

**اوس چې جمهور رییس د هر نېت له کبله ښاغلی محقق له خپلې دندې عزل کړی، دا یو قانوني کار دی، خو د جمهور رییس تېرو متزلزلو پرېکړو ته په پام سره که چېرې ښاغلي محقق او ښاغلي عبدالله بیا هم د کومې سیاسي معاملې په ترڅ کې پر خپلې دندې پاتې شي، نو ټاکنیز کمېسیونونه باید تر هغه پورې د دې انتخاباتي ټکت اسناد بشپړ و نه گڼي چې محقق خپله لیکلې او منظور شوې استعفا نه وي وروړې.**

**۲- تر وخت مخکې د اساسي قانون د بدلون ژمنه:** **سره له دې چې ښاغلي اتمر د خپل ټاکنیز ټیم له ملگرو سره د اساسي قانون له مندرجو احکامو سره سم د قانون د بدلون ژمنه کړې او په هغې کې یې ویلي چې د صدارت پوست به ایجادوي، خو دا ژمنه له یو لړ ناسالمو امتیازاتو سره مله ده چې د اوسني اساسي قانون اکثره پلویان یې مخالف دي.**

**زموږ په نظر د اساسي قانون بدلون باید د هېڅ ډول نامشروع امتیازاتو د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ورکړې په نتيجه کې رامنځته نه شي، دلته بايد هېڅ ډول فشار نه وي او که چېرې د اساسي قانون د بدلون اړتيا وي، نو دا کار بايد د ولس او د اساسي قانون د لويې جرګې په خوښه خپله د اساسي قانون د مسير له لارې ترسره شي، نه د ائتلافونو او سازشونو له لارې.**

**۳- د درېيم معاونيت ايجاد: د ښاغلي اتمر انتخاباتي ټيم ژمنه کړې چې تر برياليتوب او د اساسي قانون تر تعديل وروسته به د (ترک تبارو وروڼو) لپاره يو درېيم معاونيت هم رامنځته کوي. دا هم د اوسني قانون خلاف عمل ګڼل کېږي، د اساسي قانون تر تعديل دمخه هرې قومي، سياسي او اتنيکي ډلې ته د ځانګړو امتيازاتو منل تر وخت وړاندې يو ډول سياسي رشوت ګڼل کېږي، هر څه بايد قانوني مسير ته پرېښودل شي. د قوم په نامه د معاونيت ايجاد په افغانستان کې د لبنان تجربه تکراروي، موږ وايو، ټول هېوادوال بايد د نظام په اډانه او ملي برخليک کې دخيل وي، خو نه د کوم مشخص سياسي او قومي ادرس له لارې. هر ټيم چې دا او دېته ورته کارونه ترسره کوي او دا ډول ژمنې کوي، دا کار اوسمهال د اساسي قانون او په اينده کې د ملي ګټو خلاف عمل ګڼل کېدی شي.**

**موږ له ټاکنيزو کمېسيونونو څخه په درنښت هيله کوو چې د (سولې او اعتدال) پر ټيم هم انتخاباتي قوانين او انضباط تطبيق کړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سوله، نظام او قانون

*دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د جنوری پر (۲۹)مه نېټه، چې د (۱۳۹۷ل) کال د سلواغې له (۹)مې نېټې سره برابره ده، لیکل شوې ده.*

**۱- سوله: سوله د افغانانو د پرون ضرورت هم و، د نن هم دی او د سبا به هم وي، نو څه شی چې زموږ د ټول عمر اړتیا ده، نو بیا ولې د هغه د تامین لپاره هلې ځلې و نه کړو؟ تر اتلس کلنې جګړې وروسته اوس یو ځل بیا خبره د مېز سر ته رارسېدلې. له دې طلایي چانس څخه باید اعظمي ګټه پورته شي. طالبان هم باید داسې شرایط کېنږدي چې میم زر ما ټوله زما.**




**طالبان اصلاً یو نظامي او مذهبي قوت دی چې ورو ورو سیاسي رنګ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هم اخلي. طالبان باید له سیاسي تدبیره کار واخلي، ځان د پاکستان له اسارته خلاص کړي، لومړی له نړیوالو (امریکایانو) سره خپل مشکل یو طرفه کړي او دویم له افغان حکومت سره غاړه یوسي. د نویمو کلونو پېښې باید بیا تکرار نه شي، پوځ او نظام باید ونه پاشل شي. د غني تر مشرۍ لاندې حکومت باید هم له ډېر احتیاط څخه کار واخلي، په انقلابي شعارونو او متضادو څرګندونو، ځان د سولې د بهیر پر وړاندې ونه دروي، دا کوم انتخاباتي بهیر نه دی چې د کوم کاندید پر وړاندې درېځ ونیسي او فیسبوکي مجازي لښکر د هغه پر وړاندې پرازیت خپاره کړي، سوله د ملت غوښتنه او اړتیا ده، هر څوک چې د دې بهیر پر وړاندې ودرېږي، هغه باچا وي که امیر، غني وي که فقیر، د عام ولس له محسوس او نامحسوس غبرګون سره مخامخېږي. د ډاکټر غني حکومت ته په کار دي چې پر امریکایانو ډېره ډډه ونه لګوي، هغوی جنوبي ویتنام کې خپل پلویان په ډاګ پرېښودل او پښې یې سپکې کړې. هغوی خپلو ګټو پسې ګرځي. غربي ټولنه کې سیاسي شرم، اخلاق، دوستي او ژمنه کومه مانا نه لري. روسانو ډاکټر نجیب نه یوازې په ډاګه پرېښود، بلکې پر ضد یې ورته د جبل السراج کودتاه هم پلان کړه.**

**۲- نظام: سوله او نظام یو بل سره تړلي دي. که سوله نه وي، نو نظام ته به ګواښ وي، د چا ژوند به خوندي نه وي، خو که نظام نه وي، نه سوله شته، نه هم پرمختګ او نه هم خوندیتوب، نو د دې لپاره چې سوله ټینګه شي، د نظام پایښت ورته ډېر ضروري دی. سوله کېدی شي د یوه تړون پر اساس ډېره ژر رامنځته شي، خو نظام جوړونه اوږدې زمانې ته اړتیا لري، موږ په شلمه پېړۍ کې دوه ځله له نظامه بې برخې شوي یو، لومړی ځل (سقاوي اړو دوړ) او دویم ځل د (ډاکټر نجیب الله) حکومت تر ړنګېدو وروسته حالت، چې دواړه ځله راغلي حالتونه افغانستان ته په ډېر لوړ قیمت تمام شول. اوس یو ځل بیا حالات**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کړکېچن دي، د ډاکټر نجیب الله د حکومت له زمانې سره ورتوالی لري؛ نن ډاکټر اشرف غني احمدزی د ډاکټر نجیب الله احمدزي په موقعیت او طالبان د مجاهدینو په موقعیت کې واقع دي. نظار شورا او دېته ورته ځینې نورې ډلې اوس د حکومت په داخل کې د ببرک کارمل گروپ او ستمیانو په بڼه فعالې دي او جمعیت، دوستم ملېشې، وحدت ډلې او نور گروپونه هم په حکومت او هم تر حکومته بهر فعال حضور لري. ایران، پاکستان او نور گاونډیان هم څار ته ناست دي، نو که غني او طالبان ډېره وړه او جزیې تېروتنه وکړي، نو د غني برخلیک به د ډاکټر نجیب په شان شي او د طالبانو برخلیک به د اسلامي حزب په شان، نظام به هم وپاشل شي، پوځ به هم متلاشي شي او په کابل کې به یو ځل بیا همغه ډلې واکمنې شي چې په نویو کلونو کې یې د جگړې اور بل کړی و. امریکایان به د پخواني شوروي یا روسیې د رول بڼه خپله کړي او افغانان به یو ځل بیا په اوږدې او نا مفهومه جگړه کې راښکېل شي، نو ټولو ډلو په تېره بیا طالبانو او د اوسني حکومت مشرتابه ته په کار دي چې د سولې او توافق په هر ډول خبرو کې تر ټولو دمخه د نظام بقا تضمین کړي. د نظام داخلي سمون که له هر لوري مطرح کېده باید ومنل شي، که هغه د غني په گوښه کېدو او یا هم د طالب د داخلېدو په قیمت تمام شي او یا هم د ثالث حاکمیت په رامنځته کېدو سره، خو د حکومت او نظام عمومي اډانه باید روغه پاتې شي. هر چا چې تر سولې خپل مقام او غرایز قربان کړل، تر هغه بل رښتینی اتل نه شته، خو که د نظام محسوس او نامحسوس تخریب له هر لوري و، باید مخه یې ونیول شي. موږ دا خبره یو ځل بیا تکراروو چې طالبان یو مذهبي او پوځي قوت دی، قهریه قوه د دوی د مطرح کېدو سبب شوې، د نظام چلونې لپاره پوره سیاسي تجربه او کادر نه لري، دې خوا بیا د غني حکومت د اضدادو یو مجموعه ده چې اکثره یې په خپله د حکومت د کمزورۍ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبب شوي. که د ډاکټر نجيب الله د حاکميت په وروستيو کې نجيب الله، حکمتيار او نور جهادي مشران ټول سره يو سالم تفاهم ته رسېدلي واى، د کودتاوو مخه به نيول شوې وه، نو د هغه وخت د حکومت وسايل او د مجاهدينو امکانات چې سره يو ځاى شوي واى افغانستان به په سيمه کې يو لوى ځواک و، خو اوس هغه خبرې يو خيال او خوب دى. اوس يو ځل بيا له ورته واقعيت سره مخامخ يو، که د غني حکومت او طالبان سره پخلا شي او دواړه لوري له نرمښت او ژور تعقل څخه کار واخلي، نو افغانستان به يو ځل بيا په سيمه کې يو مطرح سياسي، اقتصادي او پوځي ځواک شي او که نه خبره بيا د نويمو کلونو د پېښو تکرار ته ځي. غني بايد له امريکا، روسيې، چين، سعودي عربستان، غربي او اسلامي نړۍ څخه يو نړيوال عملي تضمين واخلي چې د امريکايي پوځيانو تر وتلو وروسته ګاونډيان په تېره بيا پاکستان، د افغانستان په کورنيو چارو کې هېڅ ډول لاسوهنه نه کوي.

طالبان بايد په افغانستان کې د غربي نړۍ سياسي او اقتصادي حضور تضمين کړي، مخالفت يې ونه کړي، امريکايان بايد نور د پاکستان له عينکو مطالعه نه کړي او نه هم بيا پاکستان ته د سيمې د ژاندرام رول ورکړي.

غني بايد له داخلي ناندريو، فيسبوکي مبارزې، انتخاباتي شعارونو او تداركاتي جلسو راووځي، له خپل نړيوال اغېز څخه ګټه پورته کړي، د نړۍ دروازې وټکوي، افغانستان تر سولې وروسته له نړيوالې هېرېدا او انزوا څخه وژغوري، طالبان بايد د کورني نظم او امنيت په ټينګښت کې مرسته وکړي، د شرعي قوانينو تر څنګ مدني قوانينو ته غاړه کېږدي. هغه انرژي چې د يوه بل پر رفع او دفع مصرفېږي، هغه بايد د هېواد پر ودانۍ ولګول شي. د غني حکومت او طالبان دواړه بايد له امريکا څخه د افغانستان د اقتصادي بسپړازۍ تضمين هم واخلي. هغه پيسې چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړه کې لګېږي، د هغو لسمه برخه چې افغانستان ته ورکړي، د هېواد د پرمختګ سرعت (۵۰) ځله زیاتېږي.

**۳- قانون:** که سوله هم وي، نظام هم وي، خو چې قانون نه وي او یا هغه تطبیق نه شي، نو سوله هم له ګواښ سره مخامخېږي او نظام هم. که قانون حاکم شي، نو د ټولو ژوند به خوندي وي، هم به پاچا خوندي وي، هم ګدا، هم به غني خوندي وي، هم غریب، هم به امیر ته ځای وي، هم به فقیر، افغانستان لوی هېواد دی، ټولو ته اړتیا ده او ټولو ته په کې ځای شته، طالب، ملا، روښنفکر، هوجره، دېره او وستل، ټول د دې وطن اړتیا او ښکلا ده.

د بدمرغۍ خبره دا ده چې وطن موږ ته هر څه راکړي، خو موږ دې وطن ته هېڅ نه دي ورکړي، راځئ چې په هر ځای او هر مقام کې یو د وطن پور ادا کړو، د زمانې هم ډېر پوروړي یو، په (۲۱) پېړۍ کې د منځنیو پېړیو شعارونه ورکوو. د اخرت حسابونه په دې دنیا کې تصفیه کوو، نو لږ باید ګرېوان ته سر ښکته کړو، قانون ته غاړه کېږدو، قانون زموږ هر څه تضمینوي، نور مو نو خپله خوښه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کله چې ارمان شهيد شي...

*دا ليکنه د (۲۰۱۹م) کال د فبرورۍ پر (۳)مه، چې د (۱۳۹۷ل) کال سلواغې له (۱۴)مې نېټې سره برابره ده، ليکل شوې ده. د ارمان شهادت ډېر ودردولم او همغه شېبه مې دا څو کرښې وليکلې.*

**کله چې خور شهيده شي نو ورور يې جنازې ته اوږه ورکړي تر ابدي کوره يې ملګرتيا وکړي او کله چې ماښام راستون شي نو ګردنۍ تر ملا کړي شپه لا وتې نه وي چې د خپلې خور غچ واخلي.**



**خو کله چې ورور شهيد شي، نو خور د دېوال غاړې ته کېني، خپل**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وېښتان وشلوي، ورور په ساندو کې یاد کړي، د ورور د جنازې کټ ته اوږه نه شي ورکولی، نو اوس چې د لوښې خور ورور شهید شو څه به کوي ؟ جنازه به یې خپله پورته کوي که نور به یې وړي؟ او های د ارمان خورې! ای د پښتانه قام وړانګې! جګه شه پورته شه! د خپل ورور جنازې ته دې خپله اوږه ورکړه، تر هدیرې ور سره لاړه شه، پر قبر یې وغوړېږه، خپل پړونی پرې خپور کړه، ستا پړوني کې بېشانه قوت دی، پام چې د ژړا غږ دې پورته نه شي، ته خو ارمان د یو ارمان لپاره روزلې وې، ته خو یې یوازې خور نه وې، ورور یې هم وې د مورچل ملګرې یې هم وې، نو د ورور غچ خو پر ورور فرض وي. ته د یوه ویده او تیاره قام وړانګه یې، ته به سوزې، ته به ویلې کېږي. دا قام به ډېره کلونه وروسته راویښېږي، وړانګه به نه وي ارمان به نه وي، خو د ارمان ارمانونه به غوړېږي. کله چې له سړي څخه ژوندی ارمان لاړ شي، نو الفاظ بې روحه شي. تر دې به د زیاتې بېوسۍ حد څه وي چې ورور مې خاورو ته سپارل کېږي او زه یې په جنازه کې ګډون نه شم کولی؟ ټول بار پر تا دی خورې! د پنجاب له قصده، غریو و نه کړې، فریاد و نه کړې د ارمان پر قبر دارمان ارمانونه بیان کړه. موږ که په دې دنیا کې ستا د پړوني پور ادا نه کړ، نو د صراط پول راته ونیسه یو یو ته په جګو سترګو وګوره! ته به جګ ګورې یې او هر پښتون به کوز ګوری... بیا هم: پام چې وار دې خطا نه شي...**


(c) ketabton.com: The Digital Library



# منظور په نن او سبا کې

*دا ليکنه مې د (۲۰۱۹م) کال د فبرورۍ پر (۵)مه نېټه، چې د (۱۳۹۷ل) کال د سلواغې له (۱٦)مې نېټې سره برابره ده، له منظور پښتون سره تر ټلېفوني خبرو اترو لږ وروسته ليکلې ده.*

**نن مې د پښتون ژغورنې غورځنګ له مشر ښاغلي منظور احمد پښتون سره د ټلېفون پر ليکه تفصيلي خبرې وکړې، ځينې خبرې به يې په دې خاطر دلته راوړم چې د تاريخ د حافظې برخه شي او د افغان ملت ځوان قشر ورڅخه روحيه او الهام واخلي او ځينې به يې د وخت د ښامار له غضبه د خونديتوب په خاطر په خپله حافظه کې خوندي وساتم.**



**۱- د منظور مننه: منظور له ټول لر و بر افغان ولس څخه مننه وکړه چې د شهيد ارمان د شهادت په غبرګون کې راپاڅېدل او په يو غږ يې په ټولو ښارونو کې مظاهرې وکړې.**

**۲- د منظور اوسېله: ما ورته ووېل چې لرو بر افغان وطن له سختو ستونزو او کړاوونو سره مخ دی، تاسو ته خورا ډېر زيات مشکلات دي، په کمه موده کې مو ډېر کار**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی، سترې به یاست، خو ګوره چې اوسپله ونه بایلې، خبره مو د بریا پولې ته نږدې کړې ده.

منظور پښتون وویل، د اوسپلې د بایللو خبره به هېڅ نه کوې، دا به هېڅکله رښتیا نه شي، خو دا خبره کېدی شي رښتیا شي چې د لوی وطن د جوړېدو او د پښتانه قام د ویښېدو لپاره خپل سر بایلم.

**۳- د منظور خوشالي:** ما ورته وویل چې له څو ورځو راهیسې او نن دې د خپل لوی کور په ټولو لویو ښارونو؛ کابل، ننګرهار، کندهار، کونړ، پکتیا، غزني، پکتیکا، خوست، لغمان، هرات، بلخ، زابل او نورو کې لاریونونه دي او دا لړۍ لا روانه ده، په خپل لوی کور دې ډاډه اوسه: مورې یاران د بدې ورځې به دردانګوـ په دوستانو دې ډاډه اوسه خیبره. او پام چې وار دې خطا نه شي ـــ ما منلې غرغرې دي.

منظور پښتون وویل چې ما ته خو دې خبرې ډېر خوند راکړ چې د لر او بر وطن په ټولو ښارونو کې یو غږ پورته کېږي، د پیوستون او یووالي غږ، دا کار په تېرو سلو کلونو کې په دې شان نه و ترسره شوی، په همدې خاطر مې ملګرو ته وویل چې د کوزې او برې پښتونخوا د مظاهرو ښارونه په جلا جلا ډول مه اعلانوئ، یو ښار د برې او یو د کوزې پښتونخوا یو په بل پسې په اعلان کې ولیکئ، چې دنیا پوه شي دا یو وطن او یو ملت دی.

**۴- د منظور لرلید:** ما او منظور پښتون د راتلونکي لرلید او مبارزو په باب هم خبرې وکړې، نظر یې ډېر معقول و، ویې ویل چې یو ځل مونږ په کوزه پښتونخوا کې خپلې لیکې منظمې کړو، بیا به د مبارزې دویم پړاو ته داخلېږو. دا چې د مبارزې دویم پړاو څه و؟ نه غواړم، هغه دلته بیان کړم، هغه به په خپله حافظه کې وساتم، خو ډېر هیله مند پیغام و، ټینګ عزم، یو منظم فکري او عملي پلان په کې پروت و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په داسې حال کې چې منظور پښتون د ابراهيم ارمان د شهادت له امله له څو ورځو راهيسې ستړی او بې خوبه و، خو په ټليفون کې په يو ناڅاپي ډول د لويو ارمانونو په باب د نظر له څرګندونې څخه يې داسې ښکاره شوه چې منظور پښتون داسې يوه پخه ککرۍ ده او داسې يو کاري سړی دی چې هم فکر لري، هم اوسپله، هم تعقل لري، هم پلان او هم لرليد، دا نو د لوی ښتن يوه خاصه مهرباني ده چې د زمانې په دې تاوجن بهير کې يې داسې يو شخصيت پر لر او بر افغان ولس لورولی دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د يو ټولمنلي مشرتابه لپاره ستاسو نظر او رايه غواړم

*دا ليکنه د (۲۰۱۹م) کال د فبرورۍ پر (٦)مه نېټه، چې د (۱۳۹۷ل) کال د سلواغې له (۱۷)مې نېټې سره سمون خوري ليکل شوې ده.*

نږدې نيمه پېړۍ کېږي چې په ټول افغان ولس په تېره بيا په پښتنو کې د يوه ټولمنلي ملي او سياسي مشر خلا موجوده ده.

هر کله چې خبره د مشرۍ بريد ته رسېدلې، نو اختلاف پرې پيدا شوی دی. اوس چې تر لسيزو وروسته په کوزه پښتونخوا او يا محکوم



افغانستان کې منظور احمد پښتون د پښتنو د حقوقو، ژوند او ازادۍ ناره پورته کړه، د پښتنو ځوانانو يو لښکر يې تر شا ودرېد او د پنجابي ښکېلاک د اټوم بم تر وزرونو لاندې يې د لر و بر افغان د يووالي چغه پورته کړه، نو ډېرې هيلې په ټوکېدو شوې. منظور پښتون د محکوم افغانستان تر کرښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې ووت، د برې پښتونخوا يا ازاد افغانستان د ولسونو زړونه يې هم راخپل کړل او تر دې اخوا د نړۍ په نورو هېوادونو کې هم د مېشتو افغانانو او پښتنو مينه پرې ماته شوه، نو بيا خو يې د يوه ملي مشرتابه لپاره اکثره معيارونه د بشپړېدو په حال کې دي. نو څنګه مو خوښه ده چې يو اخلاقي، ايماني او افغاني جرئت وکړو او منظور پښتون ته د ټولو افغانانو؛ که لر دي او که بر دي، سياسي او ملي مشر ووايو؟

له تېر يو کال څخه مې ډېر ځله دلته او هلته دا اورېدلي او لوستلي چې په محکوم افغانستان کې خو د پښتنو د حقوقو لپاره منظور پښتون پيدا شو، په بر افغانستان کې هم يو بل منظور پښتون ته اړتيا ده او دا هم په دې خاطر چې په نتيجه کې لر او بر افغان سره يو شي. نو کله چې د لر او بر افغان د يووالي هيله لرو، نو لر او بر دواړو ته د ځانګړو ځانګړو مشرانو څه اړتيا ده؟ يو واحد او لوی افغانستان، يو واحد، يو مدبر او يو زړور مشر ته اړتيا لري. زما په نظر منظور احمد پښتون اوس په لر او بر افغانستان کې په زړه پورې محبوبيت لري؛ ښځې او نر، ځوانان او پېغلې، واړه او زاړه، مشران او کشران ټول يې تائيدوي، نو دا يو ښه طلايي وخت دی چې د بر افغانستان د مشرۍ لپاره هم پر همدې منظور پښتون دعا وکړو. ښه به وي چې د نوي کال په پسرلي کې منظور پښتون خپل لوی کور (ازاد افغانستان) ته دعوت کړو، يا په کندهار کې خرقې مبارکې ته ورڅېرمه د احمدشاه بابا د مبارک قبر، يا د ميرويس خان نيکه د مزار په محوطه، يا په جلال اباد کې د غازي امان الله خان د مقبرې ترڅنګ او يا هم د کابل په عيدګاه جومات کې د ټولو افغان قومونو د مخورو شخصيتونو په شتوالي کې منظور پښتون ته د لوی افغانستان د سياسي او ملي مشرتابه پګړۍ پر سر کړو او په دې ډول هغې خلا ته د پای ټکی کېږدو چې له نږدې نيمې پېړۍ راهيسې په ژور ډول احساسېږي. دې کار سره به موږ د متعددو او مصنوعي مشرانو له اضرارو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم بې غمه شو او د عملي مبارزې یو نوي پړاو ته به هم داخل شو.

موږ چې کله په شعار کې د لر او بر افغان د یووالي خبره کوو، راځئ چې دا په عمل کې ثابته کړو. د یو واحد مشرتابه رامنځته کېدل د لر او بر افغان د یووالي لپاره لومړی گام دی، که کښته یو مشر وي او دلته بل، بیا دوی څوک سره جوړوي؟ نو راځئ چې یو گام وړاندې لاړ شو؛ د لر او بر لپاره یو مشر غوره کړو.

زه د لوی افغانستان د یو ارمانجن په توگه له ټولو افغانانو سره ژمنه کوم چې د یوه قلموال سپاهي او سرتېري په توگه به د دې لښکر غړی یم او تر هغه پورې به خپلې مبارزې ته دوام ورکوم چې خپل وروستي هدف (لوی افغانستان جوړېدو) ته ورسېږو.

له ټولو افغانانو څخه هیله کوم چې زما د دې وړاندیز په باب خپله رایه او نظر څرگند کړي، خو مخکې تر دې چې موږ د مبارزې بل پړاو ته داخل شو، د لوی افغانستان مینوالو او سرښندونکو ته یو دوه زېري هم لرم:

لومړی کار او زېری دا دی چې د یوه کال په بهیر کې به د ټولو پښتنو افغان پوهانو له نظرونو څخه (د پښتو ژبې د ودې ماسټر پلان) جوړوو.

دویم کار به دا وي چې د لوی افغانستان د جوړېدو او د افغان ملت د سوکالۍ مارشال پلان ترتیبوو، د همدې دوو پلانونو په رڼا کې به د خپلو مبارزو مسیر ټاکو او وروستي هدف ته به ځان رسوو. د ماسټر پلان او مارشال پلان جزیات به ډېر ژر درسره شریک کړو. خو اوس یو ځل بیا خپل لومړني وړاندیز ته راگرځم چې راځئ د لر او بر افغان د رښتیني یووالي لپاره د همدغه منظور پښتون پر مشرتابه، لکه د شېرسرخ د جرگې په شان دعا وکړو او د غنمو وږی یې په لونگۍ کې وروټومبو. پاچاخان په مرگ د لر او بر افغان د یووالي تصویر وړاندې کړو، راځئ چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدغه ژوندي پاچاخان په وجود کې په ژوندوني د لر او بر افغان د يووالي او د لوی افغانستان د جوړېدو انځور وړاندې کړو.

منظور پښتون، هم د فکر سړی دی او هم د عمل، هم د خبرې سړی دی او هم د ډگر. په عمر کم، خو په عقل پوخ دی، زغم، استقامت، غيرت او شجاعت ټول لري، د خوشال د قلم او تورې، د احمدشاه بابا د فکر او جرئت ټول عناصر په کې خوندي دي، ځوان دی، که ژوند ورسره وفا وکړه ځلوېښت کاله نور هم د مبارزې تاب لري. طبيعت پر پښتنو باندې د شخصيتونو په لورېينه کې ډېر مهربانه نه دی، پېړۍ او نيمه پېړۍ کې که پښتنو کې ټولمنلی شخصيت پيدا شي، اوس خدای(ج) يوه استثنايي لورېينه کړې، راځئ چې دا د ملي يووالي سمبول کړو، ماستر پلان او مارشال پلان ورته برابر کړو. نور پخواني، سياسي او گوندي مشران دې هم له خپلو خوارونو تجربو او لږو ډېرو عملونو سره د ده تر شا ودرېږي. تر هغه چې منظور همداسې او تر دې هم ښه روان وي، ملاتړ يې وکړو او که خدای مه کړه تيندک يې وخوړ او وښويېد، زر او زور ته تسليم شو، بيا به د بل منظور لټه کوو، خو هېڅ ټولنه بې منشوره، بې منظوره او بې منصوره پرمختگ نه شي کولای او ځان له غلامۍ خخه نه شي خلاصولای.

يادښت: کله چې مې دا ليکنه پر همغه ورځ د نظر غوښتنې لپاره پر فيسبوک خپره کړه، نو په زرگونو کسانو لوستې وه، تر زرو زياتو کسانو پرې خپل نظر ليکلی و، (۹۰) سلنه خلکو په متن کې د راغلې محتوا ملاتړ کړی و، يو ځلور- پنځه سلنه خلکو قضاوت تر وخت دمخه گڼلی و، ځينو ورسره (امنيتي ستونزې) او (احتياط) دواړه قيد کړي وو او درې ځلور سلنه خلکو يې مخالفت کړی و. که هغه ټول نظرونه دلته کاپي کړم، نو ډېر ځای به ونيسي، خو په عام ډول يې موږ ته يو ټوليز انځور راپه گوته کړ او دا يې هم ثابته کړه چې په پښتنو کې رښتيا هم اوسمهال د يو سياسي او

(c) ketabton.com: The Digital Library




ملي مشرتابه خلا ده او له دې تشياله ټول پښتانه کړېږي. د لوستونکو له نظره منظور پښتون کولای شي دا تشيال تر ډېره بريده ډک کړي، دا چې ګانده به څه کېږي، منظور پښتون او پښتون ژغورنې غورځنګ به کوم لوري ته ځي او که همدا مسير به تعقيبوي؟ دا به وخت ثابتوي خو زموږ قضاوت د ده د اوسنيو کړنو د مصداق له مخې و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پر تورې کرښې، سپينې خبرې

**ســــريزه: هندي ليکوال (راجيف ډوګرا) د ډيورنډ کرښې او د هغې پر چورليز د نورو راځرخېدونکو حوادثو په باب يو ډېر مهم، شننيز او څېړنيز اثر ليکلی دی. په انګليسي کې د دې اثر نوم دی: (Durand Curse) ښاغلي (بابرزي هېواد دوست) د دې اثر ازاده محتوايي ژباړه کړې او هغه ته يې د (ډيورنډ توره کرښه) نوم ورکړی دی.**




**سولې خپرندويې ټولنې د زرو ټوکونو په شمېر په (۳۷۱) مخونو کې په ښکلې کچه او صحافت خپور کړی دی. کتاب له افسانوي رواياتو تر عيني واقعياتو په منظم او مسلسل ډول په ډېر دقت سره ليکل شوی دی. ژباړن يې ژباړه په ښکلې او معياري ژبه ترسره کړې او چاپوونکي يې په چاپ کې خورا زحمت ګاللی دی. په پيل کې د دې کتاب له ليکوال، ژباړن، خپرندوی او نورو ټولو شريکبانو څخه مننه په کار ده چې په ډېر حساس وخت کې يې دا کتاب افغان ولس ته ډالۍ کړ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کتاب ارزښت، منځپانګه او ضرورت:** دا کتاب مې په مسلسل ډول په دوو شپو ورځو کې ټکي پر ټکي په ډېر دقت سره ولوست، کتاب په داسې داستاني بڼه لیکل شوی چې یو ځل یې څوک پیل کړي، بیا یې نه پرېږدي چې مخ ترې واړوي. له پیل سره سم مې د یادښتونو لپاره نښې هم په کې کېښودې، خو کتاب دومره خوندور و چې پر لوستلو یې سړی نه مړېږي؛ افسانوي روایات هم په کې راغلي، پخې سیاسي وجیزې هم لري، تاریخي حوادث هم په کې تشریح شوي، د غمیزې پیل، منځ او پای هم سره په مستقیم ډول اوبدل شوي، عیني واقعیتونه هم په کې په دقیق ډول ثبت شوي، د افغان غمیزې او په تېره بیا د ډیورنډ کرښې په باب په کې د خپلو او پردو لیکوالو مثبت او منفي نظرونه هم راوړل شوي، منطقي پوښتنې او ځوابونه هم مطرح شوي او ډېرې داسې نوې خبرې هم لري چې په اول ځل یې سړی په دې کتاب کې لوستلای شي. په کتاب کې زما له خوا په نښه شوي ځایونه دومره زیات شول چې له هغو څخه خپله یو بل کتابګوټی جوړېده او که بیا له هغو یادښتونو سره تبصره هم ملګرې شي، نو خبره ترې، تر دې غټ کتاب ته رسېږي.

زړه کې مې راوګرځېدل چې دا به د هغو ګوتو په شمار کتابونو له جملې څخه وي چې کړې تبصرې پرې له متن سره سیالي نه شې کولای؛ د کتاب متن دومره خوږ، منظم، ورېښمین، دردوونکی او لوری ورکوونکی دی چې ښه ده سړی لوستونکو ته توصیه وکړي؛ خپله د کتاب متن ولولي. متن کې ټولې هغه پوښتنې ځوابولای شي چې د افغانستان د سیاسي- جغرافیایي موقعیت، پر هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تحميل شوې غميزې او د ډيورنډ کرښې په باب د سړي په ذهن کې ګرځي. په اثر کې له ډېرو اثارو څخه ګټه پورته شوې، خو په متن کې داسې نه ښکاري چې دلته دې د اخځونو بار او اغېز محسوس وي. ځکه پېښو ته داسې تسلسل ورکړل شوی چې سړی فکر کوي کومه کيسه لولي. پر ما خو يې دومره ژور اثر وکړ چې همغه لوستې پېښې مې يو ځل بيا په خوب کې هم راغبرګې شوې، ځکه خو يو ځل بيا وايم چې زما تبصره او احساس په کتاب کې د راغلي متن او احساس تل ته نه شي پرېوتلی، خو په دې خاطر چې کومو لوستونکو ته تر دې دمه د دې کتاب متن لاس ته نه دی ورغلی، هغو ته تر يوه حده د دې کتاب اهميت څرګند شوی وي، نو يو څو برخو ته به يې په ډېر لنډيز سره نغوته وکړم:

**افسانوي پيل:** ليکوال (راجيف ډوګرا) د خپل کتاب په پيل کې د پښتنو او افغانانو په باب افسانوي روايات راوړي، د هغو کرکټر او مېړانه تشريح کوي، د نړۍ د فاتحانو سردردی بيانوي او د پښتنو اناټوميک جوړښت توضيح کوي. هغه وايي: ((که افغانانو ته ووېل شي چې خپله يوه هيله ووايئ، نو هغوی به دا وايي چې مونږ ازاد پرېږدئ)). ليکوال د افغانانو په باب د سکندر مقدوني روايات نقلوي، هغه به ويل: ((چې خدای مو د کوبرا له زهرو، د زمري له غاښونو او د افغانانو له غچ اخيستلو په امان کې لره)). سکندر خپلې مور ته په يوه ليک کې د افغان خاورې په باب ليکي: ((د دې خاورې هر فوټ ځمکه پولادين دېوال ته ورته ده، مورې تا خو يو الکساندر نړۍ ته راوړی، خو هلته هره مور يو الکساندر زېږوي.)) ليکوال د افغان ملت ټولنيز کرکټر او د پولادي امير هوډ ته په کتلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سره همدا پوښتنه مطرح کوي چې کوم علتونه وو چې امیر یې پر داسې یو ګونګ سند لاسلیک ته اړ کړ؟ کتاب له همدې پوښتنو او انګېرنو پیلېږي او په پای کې دې ټولو پوښتنو ته ځوابونه ورکوي، خو د دې لپاره چې موضوع ښه روښانه شي، دی د موضوع شالید، دلایل او عوامل په تفصیل سره روښانه کوي.**

**د لویې لوبې پیل: لیکوال د ډیورنډ کرښې تر لاسلیک دمخه په نږدې یوه پېړۍ کې د تزاري روسیې او لویې برېتانیې ترمنځ لویه لوبه تشریح کوي، دی هغې نظریې ته نغوته کوي چې وایي: ((افغانستان په منځنۍ اسیا کې د پراخېدونکې روسیې او د پنجاب پر لور د پراخېدونکې بریتانیې ترمنځ د یوه ساندویچ په څېر و)). په دې کتاب کې څرګنده شوې چې د روسیې او بریتانیې تر منځ پټه جګړه یا لویه لوبه څنګه پیل شوه؟ روسانو څه غوښتل؟ انګرېزانو په منځنۍ اسیا کې څه فعالیتونه کول؟ د بخارا امیر ولې د انګرېزانو د جاسوسانو سرونه پرې کړل؟ امیر دوست محمد خان له انګرېزانو او روسانو سره څه ډول روابط او څه ډول مجبوریتونه درلودل؟ (خېوه) او (پنجده) څنګه ونیول شول؟ د افغان او روسي پوځونو ترمنځ جګړه ولې ونښته، د افغانستان او روسیې سرحدونه څنګه مشخص شول؟ شاه شجاع دویم ځل څنګه واک ته ورسول شو؟ امیر شېرعلي خان ولې له روسانو ناهیلی شو؟ انګرېزانو او روسانو په کومو برخو کې مخالفت او په کومو برخو کې توافق درلود؟ دا او دېته ورته نورې ګڼې پوښتنې د لویې لوبې د تشریح په برخه کې ځواب شوي دي.**

**کله چې څوک دا برخه ونه لولي او په ناڅاپي ډول د ډیورنډ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرښې په باب بحث ته داخل شي، عادلانه قضاوت نه شي کولای. ليکوال د غميزې پيل له همدې ګريټ ګيم څخه ګڼي. عبدالرحمن خان له تزاري روسيې سره روابطو ته ډېر متوجه و، هغه به ويل چې ((روسيه د فيل په څېر ده چې هر څه مخې ته ورځي له منځه يې وړي))، نو ځکه خو يې په ډېر دقت سره پر دې خبره ټينګار کاوه چې: ((افغانستان بايد له دواړو ځواکمنو هېوادونو څخه مساوي واټن ولري.))

**د پښتنو سايکولوژيک او ټولنيز کرکټر:** ليکوال په خپله او د نورو ليکوالو او پوهانو له نظره د پښتنو سايکولوژيک او ټولنيز کرکټر تشريح کوي، د دې نظرياتو په يوه نتيجه کې دی وايي: ((پښتون هغه کرکټر دی چې ښځې، سرو زرو او ځمکې سره ډېره لېوالتيا لري.)) دی د يو بل ليکوال (روديارد کليپر) خبرې هم رااخلي، هغه وايي: ((افغان ته چې کله د باطني شهوت خبره مطرح وي، نو شتمني، قانون، باچايي او سپېڅلتيا ورته ارزښت نه لري، ځکه هغه په غريزوي لحاظ غل، د وراثت او تربيې پر اساس قاتل او په طبيعي لحاظ بد اخلاقه دی، د دوی ټوله شتمني يوازې او يوازې د وياړ يو احساس دی چې تل ورسره دی. ځينې وخت هغه تر دې اندازې جګړه کوي چې ټوټه ټوټه شي او ځينې وختونه تر هغې جګړه نه کوي، څو چې د انزوا حالت ته نه وي تللی.))

انګرېزانو د خپلې تګلارې په اړه خپلو پوځيانو ته ويلي وو: ((پر پنجابيانو امر کوه، سنديان وډاروه، بلوڅانو ته وياړ ورکوه او پښتانه وپېره.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکوال د پښتنو د کرکټر په باب د نظریاتو ترڅنګ د انګریزانو ټولنیز کرکټر ته هم نغوته کوي، هغه په دې باب د (برنارد شاو) یو نظر وړاندې کوي، هغه وایي: ((انګریزان درسره د هېوادنیو موخو پر اساس جګړه کوي، د سوداګریزو موخو لپاره درنه غلا کوي او د امپراتورۍ د جوړولو په موخه دې غلام ګرځوي.))

د پښتنو په باب د بهرنیانو له نظریاتو د لیکوال مطلب دا دی چې اکثرو بهرنیو لیکوالو پښتانه او افغانان په ناسم ډول تعبیر او انځور کړي دي. دی وایي چې د نولسمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې تقریباً ټولو انګریز لیکوالو او تاریخ لیکونکو پښتانه ظالمان، منفي ګرا او بې باوره پېژندلي دي. لیکوال د پښتنو په باب د ځینو نورو لیکوالو مثبت نظریات هم څېړي، لکه د رابندرنات ټاګور او نورو، دی په خپله وایي: ((افغانان ښه جګړه ماران دي او د دې ترڅنګ ژر باور کوونکي هم دي، چې دې لومړي عادت دوی تل بوخت ساتلي او دویم عادت د دوی د کمزورۍ ټکی دی چې تل ترې بهرنیانو د دوی پر وړاندې کار اخیستی. همدې عادت په نولسمه پېړۍ کې تر هر وخت زیات د افغانانو بخت وراړولی دی.)) خو دې سره سره دی وایي: ((افغانستان ښایي ټپي شوی ډېر وي، خو هېڅکله هم تورې ته نه دی تسلیم شوی.))

**د نیواکګرو خصلت:** راجیف ډوګرا په دې اثر کې په عام ډول د نیواکګرو خصلت او کرکټر ته هم نغوته کوي او دا توضیح کوي چې د استعمار په ماهیت کې تغیر نه راځي، خو ښه یې کېدی شي بدله شي. دی وایي: ((استعمار تر ډېره غځېږي او استعماري عادتونه په سختۍ سره له منځه ځي.)) په کتاب کې راځي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



((اروپايانو هغه ملتونه تر استعمار لاندې راوستل چې بې حرکته، شاته پاتې او بې پروا به وو، د دې ترڅنګ به يې هغه اسيايي ملتونه هم تر خپلې ولکې لاندې راوستل چې له ګډوډيو او هر و مرج به ډک وو.)) په کتاب کې د استعمار مغرورانه خصلت ته هم نغوته شوې، کله کله يو پوځ ډېر مغرور وي، خو وروسته يې بيا برخليک بل شی شي: ((انګرېزانو چې کله له يو منظم لښکر سره د کندهار پر لوري حرکت کاوه، نو د کلات يو خان چې د دوی شان او شوکت وليد بې اختياره يې له خولې ووتل چې: پوځ خو مو دلته دننه کړ، خو دا فکر مو کړی چې څه ډول به يې بېرته باسئ!))

کله چې دا لوی شمېر پوځ د روانېدو په حالت کې و، په دوی کې يوازې يو سړی و چې د هر څه وړاندوينه يې کړې وه. دا سړی يو پخوانی انګرېز ډګروال و چې هماغه شېبه يې وويل: ((له يوه کس پرته به بل هېڅ کس روغ راستون نه شي، هغه يو ژوندی کس به د دې لپاره ژوندی وي چې د ټولو د مرګ پيغام له ځان سره راوړي)). درې کاله وروسته، هغه وخت د ده اټکل سم وخوت چې (ډاکټر برايډن) له غرونو په يوازې ځان راکوزېده، دغه ډګروال هغه وخت په تروشه ټنډه وويل چې: ((ما درته نه ويل چې داسې به کېږي؟))

د بريتانوي او روسي استعمار ترمنځ هم ورته خصلتونه موجود وو، بريتانويانو به ويل: ((که کوم هندی ګورئ يا يې ووژنئ او يا يې هم وتړئ.))

يو روسي جنرال به ويل: ((اسيايانو ته چې څومره سختې ضربې ورکوئ، په همغه اندازه چوپ پاتې کېږي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډيورنډ هم ويلي وو: ((موږ لږ شمېر بهرنيان يو چې دوه سوه مليونه اسيايان مو په پړو تړلي دي.))

ده په دې اثر کې د نيواکګرو نورې ګډې ځانګړنې هم په ګوته کړې دي.

**د زبرځواکونو د برخليک پـرتلنه:** په دې اثر کې په ضمني ډول د دريو لويو امپراتوريو د واک و ځواک، تېروتنو او ښويېدنو او په پای کې د برخليک پرتلنه هم شوې، د انګرېزانو امپراتوري چې په لومړۍ افغان- انګليس جګړه کې تر ماتې وروسته ورته په هند کې بغاوتونه پورته شول او بيا يې په ټوله کې د بخت سيوری په راټولېدو شو، شوروي امپراتوري چې افغان- شوروي جګړې ورته سخت زيانونه وروړسول او ګرباچوف په پای کې دېته اړ شو چې خپلې لښکرې وباسي او ووايي: ((دا جګړه په دومره مالي او ځاني قربانۍ نه ارزي)) يو جنرال يې وليکل چې: ((په افغانستان کې جګړه له ډېرې سره د سر جنګولو مانا لري.)) د دې جګړې تر اغېز وروسته ورو ورو شوروي اتحاد ړنګ شو او د مرکزي اسيا ټولې نيولې سيمې يې له لاسه ورکړې. تر دې دمخه انګرېزان هم له ورته برخليک سره مخامخ شوي وو، د افغان او انګليس تر دريو جګړو وروسته د انګرېزانو عزت له خاورو سره خاورې شو او د امپراتورۍ د نړېدو لړۍ يې پيل شوه.

درويشت کلن (وينسټون چرچل) چې د جګړې خبرونه به يې لندن ته لېږل، وايي: ((د افغانستان جګړه په مالي لحاظ تباه کوونکې، په اخلاقي لحاظ ګناه، په پوځي لحاظ يوه پرانيستې پوښتنه او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سياسي لحاظ يوه تېروتنه وه.)) چرچل به ويل: ((دلته هر سړی يو جنګيالی دی.))**

**روسی جنرال (الکساندر مایاروف) بیا په خپل نوبت وايي: ((د افغانستان جګړه د شوروي اتحاد لپاره هغه ماين ته ورته وه چې يوې لويې امپراتورۍ پرې پښه کېښوده او دړې وړې شوه.))**

**د انګلستان د پارلمان غړي (ډيزرائيلي) وړاندوينه کړې وه: ((که موږ کله هم هند له لاسه ورکوو، هغه به د افغان جګړې د بدو پايلو له امله وي.))**

**له نن څخه يوه نيمه پېړۍ دمخه لا انګرېزان دې ته متوجه و چې روسان به پر افغانستان يرغل کوي، نو ځکه خو د هند وايسرای (جان لاورينس) د دې شونتيا په اړه چې روسيه به پر افغانستان يرغل کوي، ځان به هند ته رسوي، ويلي وو: ((پرېږدئ چې هغوی لوی ګامونه واخلي او وړاندې ولاړ شي، د اباسين او اکسوس ترمنځ ولوېږي، پرېږدئ چې دوی خپله لار ووهي، سختو هېوادونو پر لور، هغه هېوادونه چې متعصب او زړور نفوس لري، چېرته چې هر ميل کې يوه نه ماتېدونکې ځمکه راځي، دوی مجبور دي مقاومت وکړي، هغوی به ډېر ځواک له لاسه ورکړي، بيا به له ستړيو پياده وو، ماتو سپرو او له عيبونو ډک توپچي نظام سره څنګه هند ونيسي؟))**

**امريکايان چې دلته په پيل کې په ډېر غرور راغلل اوس په ختيه کې نښتي دي، د پاکستان د نه مهار له امله له سختو ستونزو سره مخ دي او د ماتې امکان يې ډېر دی. ليکوال د نورو ليکوالو په شان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



((افغانستان د امپراتوریو هدیره)) ګڼلې ده.

ډیورنډ کرښه: لیکوال په خپل اثر کې ګڼ شمېر داسې دلایل راوړي چې د هغو له هر اړخیز تحلیل وروسته سړی دې نتیجې ته رسېدلای شي چې دا کرښه په چل، مهارت او یا هم د امیر د ناجوړتیا په حالت کې په هغه باندې لاسلیک شوې ده، لاسلیک هم په بل کاغذ شوی او اصلي متن امیر ته نه دی وړاندې شوی، تیمور ډیورنډ او امیر عبدالرحمن خان چې دواړه په فارسي ژبه پوهېدل او له مخکني لوز سره سم متن باید په همدې ژبه ترتیب شوی وای، خو ډیورنډ امیر ته یوازې انګرېزي متن ښکاره کړی چې امیر پر هغه متن نه پوهېده او نه هم پر دې وخت د امیر له خوا د ژباړن او درېیمګړي په توګه څوک موجود و، یوازېنی کس چې د پردې تر شا ناست و، یادښتونه یې اخیستل، هغه هم (میر سلطان محمد خان) و، چې په خټه پنجابی و او ویل کېږي چې د انګرېزانو جاسوس هم و. لیکوال د ډیورنډ د هوکړه لیک په برخه کې د درېو تنو رول ډېر مهم ګڼي چې یو انګرېز جاسوس (سالټرپیین) بل (تیمور ډیورنډ) او درېیم ډاکټر (هیملټون) چې ټول انګرېزان وو. لیکوال ډېر داسې دلایل راوړي چې امیر دا مهال سخت ناروغه و، د حافظې توازن یې له لاسه ورکړی و او د هډوکو پر درد اخته و او هره دویمه خبره پرې بده لګېده. لیکوال دا پوښتنه مطرح کوي په داسې حال کې چې امیر د خپل حاکمیت لپاره په کور دننه وړې وړې سرداری ختمې کړې، د خپل حاکمیت ساحه یې پراخه کړه، څنګه دېته حاضرېدلای شو چې د خپلې خاورې یوه برخه پردیو ته وبښي؟ همدغه پوښتنه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د کتاب په پيل کې مطرح کړې وه، په وروسته برخو کې يې ورته مستدلل ځوابونه ورکړي دي.

**تر هوکړه ليک وروسته حالت:** ليکوال پر دې ټينګار کوي چې دا هوکړه ليک هېڅکله هم د پولو د تثبيت لپاره نه و برابر شوی، نه د انګرېزانو امپراتوري دا غوښتل او نه امير، ځکه انګرېزان پر دې پوهېدل چې د مصنوعي پولو جوړول او بيا د هغو ساتنه له حقوقي، پوځي او اقتصادي پلوه اسانه کار نه دی، په دې تړون او تر هغه وروسته اسنادو ټولو کې د نفوذ ساحه ذکر شوې ده، نه له برېتانوي هند سره د دې ځمکو د الحاق مسله. ده په دې برخه کې د انګرېزانو د هغه وخت د لومړيو وزيرانو، بهرنيو چارو وزيرانو، ځينو سفيرانو، پوځيانو او ژورنالېستانو نظرونه هم د سند په توګه راوړي دي. ليکوال وايي چې کله هم د تزاري روسيې او افغانانو ترمنځ پولې تثبيت شوې او همدې انګرېزانو په کې حضور درلود، نو بيا تر ننه پورې هېڅکله هم يو لوري د اعتراض غږ پورته نه کړ، خو د ډيورنډ کرښې په باب تر (۱۸۹۳م) کال وروسته په (۱۸۹۸، ۱۹۰۵، ۱۹۱۹، ۱۹۲۱، ۱۹۳۰م) کلونو او نورو وختونو کې څو ځله له هر افغان واکمن سره د بيا بيا تائيد او تصديق په باب خبرې شوې دي، دا د دې مانا ورکوي چې دا کرښه کومه طبيعي پوله نه وه او يوازې د برېتانوي هند او افغانستان د امير د نفوذ يا اغېز موقته ساحه په ګوته کوي.

سر ويليم کيير فراسر ټايټلر وايي: ((دا کرښه د قوم پېژندنې، جغرافيې او تګلارې له مخې بې منطقه ښکاري.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوییس دوپري وايي: ((دا د يوې مصنوعي کرښې تر ټولو ښه انځور دی چې يوه کلتوري سيمه سره بېلوي)).

د بريتانيا د کورنيو چارو پخواني وزير او بيا وروسته لومړي وزير (هربرت اسکويټ) وايي: ((دا قوانين ټول نړيوال اصول، ټولنيز عدالت او ټولنيز مفهوم تر پښو لاندې کوي.))

د افغانستان پر هر حکومت چې هر څومره فشار راغلی، چې دا کرښه په رسميت وپېژني، چا ورته غاړه نه ده ايښې، ان د ډېرو کمزورو حکومتونو واکمنو هم دا کار نه دی کړی. کله چې پاکستان د يوه نوي دولت په توګه ظهور کاوه، تر هغه يوه اوونۍ دمخه افغانستان برتانوي هند ته په رسمي ډول احتياج وکړ او په هغه کې يې وويل چې تر ډيورنډ کرښې اخوا د بريتانوي هند تر کنټرول لاندې پښتنو لپاره بايد د ټولپوښتنې ځانګړی صندوق کېښودل شي چې دوی مستقل هېواد غواړي او که بېرته خپل پلرني هېواد (افغانستان) سره يو ځای کېږي؟ له پاکستان او هند سره خو د يو ځای کېدو خبره هېڅ مطرح نه وه.

د پاکستان له جوړېدو سره سم افغان ديپلوماتانو اوه ورځې په متواتر ډول په لندن کې د بريتانيا له بهرنيو چارو وزارت سره خبرې وکړې او له خپلې خاورې سره يې د جلا شويو سيمو د بېرته الحاق غوښتنه وکړه. انګريزانو وويل چې پاکستان د بريتانيا ځايناستی دی، افغانانو ورته وويل چې پاکستان خو له هند څخه راجلا شوی، نه دا چې هند له پاکستانه رابېل شوی، خو که ستاسو ځايناستی وي، نو بايد هغه ستاسو وارث هم وي او ستاسې پوروونه هم پرې کړي، اوس خو د بريتانيا پوروونه هندوستان پرې کړي، نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پاکستان. افغانستان په ملګرو ملتونو کې د پاکستان د غړيتوب پر غوښتنه هم اعتراض وکړ، ملګرو ملتونو په پيل کې ځکه د پاکستان غړيتوب ونه مانه چې هغه د چا وارث نه و، پاکستان ته يې وويل چې تاسو د يوه نوي دولت په توګه غړيتوب ترلاسه کولای شئ، خو نه د کوم بل دولت د وارث په توګه، نو څوک چې د يو چا د وراثت دعوه له لاسه ورکړي، نو هغه سره د کوم تړون په باب ولې بحث وشي؟ ليکوال وايي چې د افغانانو له فعالې ډيپلوماسۍ سره سره بيا هم د پښتنو برخليک د پاکستان لاس ته پرېوت. دی په دې برخه کې د ټولو هغو اشخاصو او حکومتونو نومونه اخلي چې په دې سلسله کې ګرم دي، لکه جواهر لعل نهرو، اولف کايرو، جناح، سکندر ميرزا، لياقت علي خان، د بريتانيا حکومت او نور...**

**د ډيورنډ غميزې حل لارې: ليکوال خپل اثر له يوه هدفمن مسيره پيل کړی او پر يوه هدفمن او هيله من بهير يې پايته رسولی دی. ليکوال د يوې نتيجې په توګه وايي چې د افغان غميزې د دومره اوږدوالي يو اساسي علت د ډيورنډ کرښه ده، که چېرې دا کرښه نه وای، افغانستان به د لويې لوبې ډګر نه وای، په افغانستان کې به جګړې نه وای، افراطيت به نه وای، د روسانو او امريکايانو يرغلونو ته به زمينه نه برابرېده او د نړۍ ګڼ شمېر هېوادونه به د افغانستان په کړکېچ کې نه راټاله کېدل، دی وايي چې په سيمه کې پاکستان هغه نوی هېواد دی چې له پيله يې د ځمکنيونې ستراتيژي درلودله، دی وايي، کوم ظلمونه چې پاکستاني پوځيانو پر پښتنو کړي، هېڅ يرغلګر نه دي ترسره کړي، ليکوال دا ادعا ثابتوي چې پاکستان د ځمکنيونې شوق لري، د هند او افغانستان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پراخې ځمکې يې لاندې کړې دي، بيا وايي: ((تر هغه پورې چې پاکستان له ځمکني پلوه مهار او راکم نه شي، په دې منطقه کې طبيعي ثبات نه راځي)) دی د پېړيو په اوږدو کې (امو) او (اباسين) د افغانانو طبيعي پولې بولي او له نړۍ څخه غوښتنه کوي چې د دې هدف لپاره له افغانانو سره ودرېږي. دی په دې برخه کې د بريتانويانو ډېر اعترافات هم يادوي، لکه د يو بريتانوي جنرال (سرجيمز کوټران) چې ويلي وو: ((زموږ د امپراتورۍ طبيعي پوله اباسين دی چې بل څوک يې د نيولو جرئت هم نه شي کولای.)) ليکوال وايي د خاورې همدې بېلتون افغانستان کمزوری ساتلی او نه شي کولای په سيمه ييزه او نړيواله کچه خپل حقوق ترلاسه کړي. دی په دې نظر دی چې نړيوال زبرځواکونه په اوسني شکل نه پاتې کېږي، امريکا ورځ تر بلې پخوانی زور و ځواک له لاسه ورکوي، چين او روسيه په سيمه ييزه او نړيواله کچه د دوو نويو زبرځواکونو په توګه راڅرګندېږي. ليکوال په دې خبره هم خواشيني ښکاره کوي چې د پښتنو په باب په خپله د دوی له خوا ډېر کم اثار ليکل شوي او هغه هم اکثره بېرته له منځه تللي او د بهرنيو له خوا چې کوم اثار ليکل شوي، اکثره يې فلتر شوي او د هغو د ګټو انځورنه کوي. راجيف ډوګرا د طالبانو پر وړاندې له امريکا سره د پاکستان شرکت صادقانه نه بولي او دا د امريکا يوه غټه تېروتنه ګڼي چې پاکستان ته د يو ستراتيژيک ملګري په سترګه ګوري. ليکوال امريکا ته يادونه کوي چې پاکستان له امريکا سره کټ مټ همغه لوبه کوي چې له پخواني شوروي اتحاد سره يې کړې وه. د پاکستان پوځيان په دې نظر دي چې موږ د نړۍ يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ستر زبر ځواک دلته مات کړی او اوس د بل ستر زبرځواک نوبت دی. ليکوال د افغانستان د حقوقي داعيې لپاره ټول مستدلل دلايل راوړي، د هغو په پای کې د خپلو خبرو د نچوړ په توګه د دې يادونه کوي چې د دې ټولو دلايلو بريا هله ممکنه ده چې يو قوي او غښتلی افغانستان جوړ شي او د قوي او غښتلي افغانستان جوړېدل بيا هغه وخت ممکن دي چې ډيورنډ کرښه له منځه لاړه شي او افغانستان خپلو طبيعي پولو ته ورسېږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درې سترې نړيوالې تېروتنې

*دا ليکنه د (۲۰۱۹م) کال د فبرورۍ پر (۱۵)مه، چې د (۱۳۹۷ل) کال د سلواغې له (۲۶)مې نېټې سره برابره ده، ليکل شوې ده.*

**د تاريخ په بېلابېلو پړاوونو کې د نړۍ له ګڼو واکمنو، پوځيانو او سياسيونو څخه سترې تېروتنې شوي چې دلته يې څېړنه نه ضروري ده او**



**نه هم شونې، خو غواړم په وروستيو څلورو لسيزو کې يوازې دريو هغو سترو تاريخي تېروتنو ته په ډېر لنډيز سره نغوته وکړم، چې دوه يې مستقيمې زموږ له هېواد او يوه يې له عربي نړۍ سره تړلې ده:**

**۱- د شوروي اتحاد ستره تېروتنه:** **د شوروي اتحاد او د هغه د مشر (لېونېد برژنيف) ستره تېروتنه دا وه چې پر افغانستان يې پوځي يرغل وکړ، دا تېروتنه هغه وخت اوج ته ورسېدله چې سملاسي يې پر همغه مهال پر پاکستان بريد و نه کړ. شوروي اتحاد ته خو جګړه ورغاړې وتې وه، څه په افغانستان کې وه که په پاکستان کې، خو که دوی پر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان باندې له برید سره سم پر پاکستان یرغل کړی وای، نو پاکستان به مستقیماً له شوروي اتحاد سره په جګړه کې کېوتی و، ضایعات، تلفات او زیانونه به یې زغمل، عقبي جبهه به یې نه درلودله، افغانستان کې به امن و، پاکستان کې به جګړه روانه وه، پاکستان به یا د نړۍ له نقشې څخه محوه کېده، یا به یې جوړ جاړي او سولې ته غاړه ایښوده.

**۲- د عراق ستره تېروتنه:** د عراق دولت او د هغه د ولسمشر (صدام حسین) ستره تېروتنه دا وه چې پر کویټ یې برید وکړ او ورسره هممهاله یې پر سعودي عربستان برید و نه کړ او هغه یې تر خپلې ولکې لاندې رانه وست. د صدام پوځ د دې وس درلود چې په کم وخت کې سعودي او په تېره بیا (مکه مکرمه او مدینه منوره) تر خپلې ولکې لاندې راولي، کله چې یې دا هدف ترلاسه کړی وای او بیا یې د حرمینو شریفینو شاوخوا خپل لر واټني توغندي ځای پر ځای کړي وای او له دې مقدسو ځایونو یې د اسرائیلو پر ویشتلو پیل کړی وای، نو که امریکا او اسرائیلو پر دې سپېڅلو ځایونو بریدونه کولای، نو ټولې اسلامي نړۍ د صدام حسین جبري ملاتړ ته دانګل، دا مهال به امریکا، اسرائیلو او غربي نړۍ ته ستونزمنه وه چې د نړۍ د یو ملیارد مسلمانانو د دښمنۍ قیمت پرې کړي. د دې ترڅنګ صدام حسین به د عراق، کویټ او سعودي عربستان پر تېلو هم ولکه حاصله کړې وای، په دې حالت کې د امریکا د تېلو ستراتیژیکو زېرمو تر دوو میاشتو زیات دوام نه شو کولای، نو امریکا به مجبوره شوې وای چې صدام حسین سره د سولې غاړه یوسي.

**۳- د امریکا متحده ایالتونو ستره تېروتنه:** د امریکا متحده ایالتونو او د هغو د جمهور رییس (جورج ډبلیو بوش) ستره تېروتنه بیا دا وه چې پر افغانستان یې یرغل وکړ او پر همغه ورځ یې پر پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



**برید ونه کړ. امریکا د شوروي تېروتنه تکرار کړه او پاکستان ته یو ځل بیا د دې زمینه برابره شوه چې د طالبانو په وجود کې د مجاهدینو انځور بیا راژوندی او امریکایان د شورویانو په څېر په اوږده او رنځوونکې ګوریلایي جګړه کې راګیر کړي. امریکا اوس د شوروي په څېر د افغانستان د شخړې په خړه کې نښتې، څومره زور چې وهي، په دې خړه کې ډوبېږي. که امریکا په پیل کې د کابل پر ځای خپلې لښکرې په اسلام اباد کې پلې کړې وای او د هغه ځای تر تسخیر وروسته یې کابل ته مخه کړې وای، نو نن به نه په افغانستان کې جګړه وای او نه به پاکستان په دې بڼه موجود وای. پاکستان د شوروي او امریکا په شان زبرځواکونو سره دوه ورځې هم د جګړې توان نه درلود او هېڅکله هم دېته حاضر نه و چې د خپل شتوالي په قیمت دې په افغانستان کې خپلو لاسوهنو ته دوام ورکړي. د پاکستان پوځ او استخبارات اوس فکر کوي چې د مجاهدینو په استخدام سره یې د شوروي زبرځواک مات کړ او اوس د طالبانو په ګومارنې سره امریکا له ورته برخلیک سره مخامخولای شي. هغه بل ځل هم د افغانانو بشري قوه او جغرافیه وسوځېدله، خو ګټه یې پاکستان ته لاړه او دا ځل هم همغه سناریو یو ځل بیا تکرارېږي. تاریخ یو ځل بیا غبرګېږي، خو غټو طاقتونو او خپله افغانانو ته په کار دي چې د تاریخ له تکراري تجربو څخه ژور پند واخلي او دا ځل دام ایښودونکی په خپله لومه کې راګیر کړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افغان ملت نوش دارو!

*دا وړه ليکنه د (۲۰۱۹م) کال د فبروري پر (۲۵)مه، چې د (۱۳۹۷ل) کال د کب له (٦)مې نېټې سره سمون خوري، ليکل شوې ده.*

**څلوېښت کاله کېږي چې افغانان د بهرنيو له خوا د اعلان شوې او نا اعلان شوې جګړې په اور کي سوځي. د جګړې کورني لوبغاړي د جګړې وسايل او ا فغان ولس او جغرافيه يې سونتوکي دي.**



**اوس چې په قطر کې د اوسنۍ جګړې دوه اساسي لوري (طالبان او امريکايان) د خبرو مېز ته ناست دي، دا د سولې لپاره يو طلايي فرصت دی، ټول نور کورني او بهرني لوري بايد د دې بهير ملاتړ وکړي او پر وړاندې يې هېڅ ډول پلمې جوړې نه کړي. سوله نن او سبا زموږ د ولس لپاره داسې يو درمل دی چې د زرو مرضونو علاج کوي؛ هېڅ بل درمل او هېڅ بله نسخه دومره ګټوره نه ده لکه سوله. سوله اوس زموږ د ملت د نري رنځ لپاره اصلي درمل دی او موږ ته د نوش دارو ارزښت لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جنگسالاران د چا زامن دي؟

*دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د مارچ پر (۱۵)مه، چې د کب له (۲۴)مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې ده.*

**جنگسالاران نه خپل لري نه خپلوان، نه مور لري نه پلار، نه قوم لري نه عزیز، دوی له جنگه پیدا دي، په جگړه کې لوی شوي، په جنگ کې پایېږي او له جنگه تغذیه کېږي. دوی په حقیقت او واقعیت کې د جنگ زامن دي او د وخت تالیخټي، نور د هېچا زامن نه دي، دوی نه ژمنه لري نه وفا، نه قول لري نه بقا، هر چا چې په دوی پورې ځان تړلی، ځان یې بایلولی.**



**څرګنده بېلګه یې ډاکټر نجیب الله دی چې پر دوستم او نورو ملېشو یې ډډه ولګوله، برخلیک یې هغه شان شو. د کرزي صیب په واکمنۍ کې د جنگسالارانو مړۍ نوره هم غوړه شوه ؛څومره چې کرزي پر دوی پۍ پرېښودلې هماغومره کرزی پیکه کېده او د هېواد حالات ترینګلي کېدل، خبره د ډاکتر غني واکمنۍ ته را وغځېدله، اوس هم د جنکسالانو واک او راج چلېږي، خو د پښوا په انډول یې پدل یو څه کم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی او له تعرض څخه د دفاع حالت ته راغلي دي، چې دا يو ښه پرمختګ دی، خو نسبي دی؛ پوره او کره نه دی. اوس جنګسالاران پر حکومتي او نا حکومتي دوو برخو وېشل شوي، خو ماهيت او حقيفت کې سره يو دي؛ يوازې موقعيتونو تغير کړی دی. زورواکي په بېلابېلو ټاکنيزو ټکټونو کې مدغم او ځای شوي، خو د اتمر، غني او عبدالله په درېيو ټاکنيزو ټکټونو کې يې حضور ډېر څرګند دی. دې نوماندانو هر يو په خپلو لستونو کې ماران ساتلي، اوس يې پلويان پر يو بل تور پورې کوي چې د مقابل لوري ماران ډېر خطرناک دي، هو همداسې به وي؛ د ځينو ماران به ډاګي وي چې زهر يې ډېر خطرناک دي او د ځينو به جبه يي وي چې د زهرو پدل يې کم دی، خو بيا هم له اصله د مار له نسله دي. زما په نظر د اتمر صيب او غني صيب مرستيالان د جنګسالاريز خصلت له مخې همدومره توپير سره لري. جبه يي ماران بيا تر هغه وخته خطرناک نه وي چې خوله يې له اوبو ډکه وي، کله چې پرې اوبه او خواړه بند شي دوی هم پر خطرناکو مارانو بدلېږي او بيا هره خوا خوله اچوي. اوس چې د ملي پوځ سرتېرو په بلخ کې د يو نامتو جنګسالار (عطامحد نور) د غوښتنو خلاف نوی امنيه قومندان معرفي کړ او د قانون د تطبيق لپاره يې له قهريې قوې څخه قانوني ګټه پورته کړه، دا يو نېک، مثبت او قانوني کار و، افغان سرتېري بايد وستايل شي او قدرونه يې وشي، خو پر سياسيخپلو ډېر باور نه شته هسې نه چې سبا د امرالله خان صالح او نورو په وساطت داسې روغه جوړه وشي چې جنګسالاران په کې خوندي او زمونږ د هېواد د ملي پوځ حيثيت په کې پيکه او روحيه يې مړاوې شي. مونږ يې څرګندې بېلګې لرو، د دوستم په وساطت (قيصاري) او د دانش په وساطت (عليپور) اوس هم سرې سترګې ګرځي، خو د ملي ځواکونو کوم سرتېري چې شهيدان شول هغه يوازې د تاريخ د حافظې برخه شول. ددې خبرې واضح کول هم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار دي چې د غني ترځنګ د ولاړو جمعيتي او وحدتي جنګسالارانو او د اتمر تر څنګ د همدې ډلو د ولاړو جنګسالارانو تر منځ د ګټو، نظر او ايډيالوژۍ هېڅ ډول اختلاف نه شته، دوی د خپلو ګټو د تضمين لپاره په بېلابېل ټاکنيزو ټيمونو کې تقسيم شوي دي. د خواشينۍ بله خبره دا ده چې د مطرح ټاکنيزو ټيمونو د مشرانو ترمنځ د سترو جنګسالارانو د نمانځغونډو په برخه کې افراطي مسابقه روانه ده؛ له يوې خوا که حنيف اتمر د عبدالعلي مزاري تلين غونډې ته په ورتګ او بيا د خپلې ټاکنيزې تګلارې په توګه د هغه د تګلارې په يادولو سره په اکثريت پښتنو کې خپل ارزښت ډېر راټيټ کړ، نو له بلې خوا ډاکټر اشرف غني بيا په ارګ کې تر هغه يو ګام نور هم پورته لاړ او د ملي بحثونو په توګه يې د مسعود پېژندنې او مزاري پېژندنې د نوي باب د پرانيستې وړانديز وکړ. دا په داسې حال کې ده چې د ملت اکثريت برخه مسعود او مزاري ستر جنګسالاران، د کابل او هېواد ورانوونکي او د پرديو ګوډاګيان بولي. خپله مسعود او مزاري هم يو بل د ايران او روسيې د جاسوسۍ پر تور تورن کړي، خو زموږ سياستوال دومره په افراط کې غرق دي چې په دې برخه کې خپله د هغوی خبرې هم موجه نه ګڼي. دلته غواړم د نتيجې په توګه څو ټکو ته نغوته وکړم:

د جنګسلارانو پر ضد جنګ او جهاد روا دی، که له هر چا سره په ليکه کې وي پروا يې نه ده په کار.

جنګسالاران تر طالبانو او داعش هم ډېر خطرناک دي، ځکه چې د دولت امکانات بېرته د دولت پر ضد کاروي.

اوس چې هم د جنګسالارانو پر ضد هر اقدام کېږي، دا هم غنيمت دی بايد تاييد يې وشي.

جنګسالاران نه منطق لري، نه روحيه؛ يوازې ډوزې ولي، دوی هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وخت ډېر زړور وي چې مقابل لوری ډېر کمزوری وي، خو کله چې مقابل لوری لږه زړورتيا وښيي دوی هر ډول معاملې ته غاړه ږدي.**

**جنګسالاران اوس نه په کلي کې ځای لري، نه په ښار او نه په غره کې؛ په کلي کې ولس دی، په ښار کې حکومت او په غره کې طالب، نو جنګسلالاران سخت راګير دي.**

**له جنګسالارانو سره د کورنيو او بهرنيو عناصرو په منځګړيتوب هر ډول روغه جوړه د هغوی د عمر د غځېدا سبب ګرځي، په کار ده چې د دې ډول ناوړه مصلحتونو مخه ونيول شي.**

**د جنګسالارانو او ټوپکوالو پر ضد چې د ملي امنيتي ځواکونو له خوا کوم عمل تر سره کېږي، بايد تاييد، ملاتړ او ستاينه يې وشي.**

**د سياسي مصلحتونو له مخې بايد تر دې وروسته په هېڅ ډول د امنيتي ځواکونو روحيه مړاوې نه شي او د هغوی قربانۍ هېرې نه شي.**

**د ټوپکوالو، جنګسالارانو او نورو ناقانونه وسلوالو د مهارولو لپاره بايد ځانګړې محکمه جوړه شي، چې امنيتي ځواکونه تر اقدام دمخه او وروسته قانوني مجوز ولري، د هغوی پر وړاندې په غوڅ ډول اقدام وکړي او راتلونکو سياسي ناندريو ته مجال او فرصت پيدا نه شي.**
**د نوماندانو له اوربکو پلويانو څخه هم هيله کوو، چې د کانديد د ګټو پر ځای د ملت ګټې په پام کې ونيسي، ژر قضاوت و نه کړي، په تاييد او رد کې لکه د اوس په شان له افراط او تفرط څخه کار وا نه خلي چې بيا به يې په خپله هم ځواب ته حيران وي.**
**ولس بايد له فرد محوره سياست څخه فکر محوره او ملت محوره سياست ته وهڅوو. اشخاص ښويېږي را ښويېږي، خو ملت ثابت وي.**
**د يوې سوکاله، قانونپاله او پرمختللې ټولنې د جوړېدو په هيله.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له ژمنې تر عمله

*دا ليکنه د (۲۰۱۹م) کال د مارچ پر (۱٦)مه، چې د کب له (۲۵)مې نېټې سره سمون خوري، ليکل شوې ده.*

څو ورځې وړاندې کونړ ولايت ته تللی وم، له والي ښاغلي (عبدالستار ميرزکوال) سره ترکتنې او د کونړ پر پرمختياوو تر ځان خبرونې وروسته مو پسرلنۍ مشاعره وکړه چې خوږه او له اخلاصه ډکه وه. والي صيب د مشاعرې په پيل کې پر امنيتي حالت او نورو پرمختياوو رڼا واچوله، کونړ



ته يې د جمهور رييس ښاغلي غني د وروستي سفر يادونه هم وکړه او لږ شان سياسي رڼاوی يې هم وکړ، خو ويې ويل چې دا مشاعره ده زه نه غواړم ډېر سياسي مسايل مطرح کړم.

ما په خپل نوبت د مشاعرې له جوړوونکو څخه د مننې تر څنګ وويل چې مشاعره يوه فرهنګي او ادبي موضوع ده، دلته هېڅ ډول سياسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مسايل مطرح کول خوند نه کوي، خو غواړم يوه موضوع، چې همدلته څو ورځې وړاندې د جمهور رييس له خوا د ژمنې په توګه مطرح شوې وه او هغه يوه تعليمي او فرهنګي موضوع وه، د هغې دتعقيب او تطبيق يادونه وکړم. جمهور رييس يادونه کړې وه چې د سږکال په بهير کې به په کونړ کې (دوه سوه) ښوونځيو ته ودانۍ جوړوم. که څه هم هلته پوره څرګنده نه شوه چې هدف يې ميلادي کال و که لمريز ؟ځکه چې د ميلادي کال نهه نيمې او د لمريز کال ايله پنځه لس ورځې وخت پاتې و. ما وويل که له راتلونکي (۱۳۹۸ ل) کال څخه يې هم پيل کړي دا به هم يو غنيمت وي. ما ميرزکوال صيب ته وويل چې هغه به څه بختوره ورځ وي چې موږ کال دا وخت دلته راشو او تاسو پر همدغه مهال او همدغه دريځ موږ ته دا زېرى راکړئ چې دا دى، د (دوه سووم) ښوونځي ودانۍ مو نن بشپړه کړه. کونړي او په ټوله کې ختيځوال بيا دومره ناشکره او ناسپاسه نه دي چې د جمهور رييس او ستاسو دا ښېګڼه هېره کړي. ځکه چې په تېرو دوه سوو کلونو کې په کونړ کې دوه سوه ښوونځي نه دي جوړ شوي، نو اوس يې چې څوک په يو کال کې جوړوي دا رښتيا هم يو فرهنګي انقلاب دى او معجزه ده. دا خو د ژمنې لنډ شاليد او زموږ احساساتي غبرګون و، خو اوس راځو د دې ژمنې عملي او تطبيقي اړخ ته. که په کونړ کې له وقفې او رخصتۍ پرته ټول کال هره ورځ کار وکړو، نو د يو ښوونځي ودانۍ ته (څه کم دوه ورځې) وخت رسېږي او که چېرې د کال نږدې سل ورځې رخصتۍ او نورې بېړني ورځې ترې وباسو، نو د يو ښوونځي جوړونې ته نږدې يوه ورځ وخت پاتې کېږي، نو يو څوک چې په يوه يا هم دوه ورځو کې موږ ته د يو يو ښوونځي ودانۍ جوړولاى شي د هغه ولې قدرونه ونه کړو او که څوک هسې د ژمنو د بوجيو خوله خلاصوي او بيا بېرته ځي نو بيا بايد پر خپلې سادګۍ او د بل پر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چالاکۍ اعتراف وکړو. دا هم شونې ده چې د شپږو میاشتو په بهیر کې د دې ودانیو تداراکاتي چارې بشړې شي او په شپږو میاشتو کې یې ساختماني چارې تکمیل شي، خو دا یو ډېر کمزوری احتمال دی. ایا دا حکومت به هم د راتلونکي کال تر دې مهاله پاتې وي او که ځای به یې بل حکومت نیسي او د دې حکومت کړې ژمنې به د هوا څپو ته سپاري؟ په هر حال خدای دې وکړي چې د غني په مشرۍ دا حکومت یوازې د همدغې ژمنې د پوره کېدو لپاره هم لږ تر لږه تر دې وخته پاتې شي چې دا ژمنه خو یې معلومه شي چې څومره عملي کېږي؟ د ښاغلي غني پلویان او مخالفین دې دواړه دا خبره او ژمنه په یاد لري او بیا دې هر څوک خپل قضاوت د عدالت په تله کې واچوي. که زه ژوندی وم، زه به هم دا مسله تعقیبوم. بیا به ګورو چې د چا خبره کره ده، په وچو کنځلو حکومت نه کېږي، نه کوږ بار تر منزله رسي، د دروغو مزل هم لنډ وي. د هر چا پلویان او کشران چې کنځلمار وي د مشرانو به یې څه حال وي؟ هوښیاران پر نیمه پوهېږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سياسي منطق په دايره کې

*دا ليکنه د (۲۰۱۹)م کال د مارچ پر (۱۷)مه، چې د کب له (۲٦)مې نېټې سره سمون خوري ليکل شوې ده.*

**افلاتون ته يوه خبره منسوبه ده چې دوه مخالف اشخاص که په يوه درېيمه نقطه کې سره توافق ولري، دا په حقيقت کې سره مخالف نه دي. اوس چې د ښاغلي غني حکومت له امريکايانو سره په ځينو برخو کې اختلافات لري، د طالبانو امارت هم ور سره اختلاف لرى، نو د دوى تر منځ لږ تر لږه يوه مشترکه وجه پيدا شوه، طالبان هم د هېواد اساسي قانون نه مني او د ښاغلي غني حکومت هم د اساسي قانون له ډېرو مادو سرغړاوى کړى او پنځوس سلنه شريکباڼې يې په عملي توګه د اساسي قانون خلاف خپل واک ته دوام ورکوي. طالبانو هم د ډيورند پر کرښه د پنجابي پوځ له خوا د اغزن تار د غزولو په باب غږ پورته نه کړ او د غني حکومت هم په نړيواله ټولنه کې خپل ګرېوان و نه شلاوه. طالبانو هم پر کونړ د پاکستان د راکټي بريدونو په غبرګون کې په اسلام اباد او لاهور کې کوم ځانمرګى بريد و نه کړ او د غني حکومت هم په پټه او ښکاره د دې بريدونو غچ وانخيست. د طالبانو تر شا پاکستان، ځينې عرب شيخان او اوس اوس د سيمې د ځينو لويو او وړو هېوادونو استخباراتي شبکې او د غني د حکومت تر شا هم امريکا او جمع نهه دېرش نور هېوادونه ولاړ دي. طالبان په ښارونو او مدني مرکزونو کې انتحار او انفجار کوي او حکومت په کليو او بانډو کې بمبار. په نتيجه کې زموږ کلي او ښارونه تباه کېږي او هېوادوال مو شهيدانېږي. هدف دا دى که د طالبانو او حکومت ترمنځ ژور اختلافات شته ځينې ظاهري او عملي مشترکات هم شته. له**

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکا څخه د غني د حکومت ګیله دا ده چې له طالبانو سره یې ورته د ناستې زمینه نه ده برابره کړې او یا یې لږ تر لږه دوی د خبرو له جزیاتو نه دي خبر کړي، نو ځکه دوی په حاشیه کې دي. اول خو که دا حکومت رښتیا هم د بشپړ استقلالیت ادعا لري، نو بیا ولې له امریکا څخه شکایت کوي دوی خپله ولې نوښت نه کاوه چې طالبانو سره په مستقیم ډول خبرې وکړي؟ دوی ته خو څلور کاله وخت و ایا د سولې له دې ګوزڼوهلې شورا څخه چې په راس کې یې هم یو جنګسالار واقع وي د داسې یو نوښت هیله کېدی شي؟حکومت ته په کار و چې لا پخوا یې امریکا قانع کړې وای چې پر پاکستان د پاشل کېدو تر کچې فشار راوړي چې طالبان خبرو ته حاضر کړي، خو هغه حکومت چې په خپله پر داخلي اختلافاتو اخته وي او تر هر څه دمخه خپله خپلمنځي سولې ته اړتیا لري، هغه به درېیم او ځواکمن اړخ سره څنګه د سولې جوګه شي؟ هغه حکومت چې هر کال د سنبلې پر اتلسمه مړ ژواندی وي او د یو واړه جنګسالار د نیونې وس و نه لري څنګه کولای شي تر عیني واقعیتونو پورته خبرې وکړي؟هغه حکومت چې خپله مشر یې وایي، له امریکایي مرستو پرته شپږ میاشتې هم دوام نه شي کولای، څنګه کولای شي له طالبانو سره د امریکې د مذاکراتو په برخه کې زیات حساسیت وښیي؟ طالبان هم امریکا سره جنګېږي او هم حکومت سره. د غني حکومت هم په ورته ډول په نامستقیم ډول له پاکستان سره پر جګړه اخته دی او په مستقیم ډول له طالبانو سره، نو حکومت ته هم په کار وه له ټولو امکاناتو کار واخلي او پاکستان واقعي خبرو ته کېنوي، خپله همدغه ښاغلي غني یو وخت ویلي وو چې زه بین‌الدولتي خبرو ته سره کېنم، هغه وخت یې طالبان بابیزه ګڼلي وو. دې کې هېڅ شک نه شته چې د طالبانو کیلي د پاکستان په لاس کې ده. که غني غواړي طالبان مات او یا خبرو ته را مات کړي، نو پاکستان باید له سیاسي، اقتصادي او ان پوځي پلوه کمزوری

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي. لکه څنګه چې پاکستان او طالبان د غني پر کمزورۍ پوهېدلي، نو ځکه خو په مستقيم ډول اصلي قوت (امريکا) سره خبرې کوي. هغوی فکر کوي که امريکا يې قانع کړه، نو هر څه يې لاس ته ورځي. که امريکايان او انډيوالان يې له کوم تدبير، تدريج او تضمين پرته په يو ناڅاپي ډول له افغانستانه ووځي، نو افغانستان کې به د نوييمو کلونو پېښې يو ځل بيا تکرار شي. پاکستان له ډېره راهيسې دا پلان لري چې امريکا ته په سيمه کې د يو رښتيني يوازني دوست په توګه ځان ثابت کړي. امريکا په سيمه کې د انګرېز په شان پخه سياسي تجربه نه لري، نو ځکه يې د ښويېدنې احتمال شته. د غني حکومت ته په کار وه چې تر هر څه دمخه کورنی سمون راولي؛ حکومت اصلاح او مضبوط کړي، مدونه، دقيقه بهرنۍ پاليسي او قوي ډپلوماتيک ټيم جوړ کړي، اوس چې يو حکومت د بهرنيو چارو قانوني وزير و نه لري، د هغه بهرنۍ پاليسي به څه وي؟ اوس چې غني بهرنۍ چارې او د سولې خبرې خپلو امنيتي مسوولينو ته سپارلي دا به حتمي د مفهوم په افاده کې ځينې ستونزې او ناسم پوهاوی را منځته کوي. ښاغلي محب چې تېر ځل په (مونيخ) کې د خپل پاکستاني سيال پر وړاندې کومې خبرې وکړې هغه سمې او پر ځای وې ځکه چې مدعي او مدعي عليه دواړه مخامخ سره ناست وو، دا ځل يې چې په امريکا کې کومې خبرې وکړې، د يو شمېر احساساتي ځوانانو خوښې شوي او کېدی شي د ده د ملي احساس زېږنده وي، خو دا مهال دا ډول خبرې د غني د حکومت کورنيو او بهرنيو دښمنانو ته د دې زمينه برابروي چې د خپلو غوښتنو کچه نوره هم پورته کړي. ځکه هغوی فکر کاوه چې امريکايان په هر حالت کې د غني تر شا ولاړ دي، نو ځکه يې د وېرې احساس کاوه، غني چې په کور دننه هسې هم له ګڼو ستونزو سره مخ دی، د يوې بلې جبهې خلاصول هغه ته په لوړ قيمت تمامېږي. تر کومه ځايه چې ما ته د ښاغلي محب د ملي احساس، پښتونولۍ او افغانيت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کچه معلومه ده هغه کېدی شي تر دې بیان هم پورته وي. محب د غني د لومړي مرستیال په توګه د امرالله صالح له راتګ څخه خوښ نه دی او فکر کوي چې رایې به پښتانه ورکوي او مرستیالي به امرالله ګټي او هم په ارګ کې د عبدالسلام رحیمي او ځینو نورو اشخاصو له رول څخه چې جمهور رییس یې له ولسه لرې ساتلی، هم خوشاله نه دی. یو شمېر تکړه ځوانان یې هم مقرر کړل. لنډه دا چې د خپل عمر او دندې مهال په انډول وړاندې روان دی، نو ګړندي مزل کې خو د دا ډول تېزو او ترخو خبرو احتمال وي، خو که دا خبرې یې له خپل امریکایي سیال او نورو مهمو امریکایي چارواکو سره په پټه او رسمي بڼه شریکې کړې وای، که نتیجه یې نه وای ور کړې بیا دې حالت ته راغلی وای، نو په ګټه به یې وای. دلته دا خبره هم یادوم چې د غني د حکومت چارواکو هم په مستقیم ډول له ځینو طالب چارواکو سره لیدلي، که ضرورت شو بله لیکنه کې به یې جزیات بیان کړم. تلو تلو کې د دې خبرې یادونه هم کوم چې ماته ملي ګټې مهمې دي، نه غني، نه اتمر نه کوم بل نوماند او ښاغلی راغلی، هغه وخت چې غني او اتمر دواړه په ګډوله حکومت کې غاړه غړۍ وو او کله چې یې دا چینجن او وروست حکومت جوړ کړ او بیا دواړو له ملي ارزښتونو او ملي هویته سرغړاوی وکړ، نو زه په تش لاس له نورو ملګرو سره د دواړو پر وړاندې ودرېدلم او تر هغه پورې مو پرېښښودل چې د ملت ارادې ته یې غاړه نه وه ایښې. اوس د اتمر لاره جلا ده، د غني جلا او زما جلا. زما لاره د افغانستان لاره ده او د هغوی لاره د ځان د حاکمیت. زه یو شل ورځې نور هم په فرهنګي کار کې مصروف یم، منظمو سیاسي لیکنو ته ډېر وخت نه شته. دا لیکنه د وخت یو جبري ضرورت و. شل ورځې وروسته دې بیا د هر جابر، زورواکي او ظالم لاس خلاص وي، بیا که خدای کول له سیاسي پلوه به په زغرده د ولس سر خلاصوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نړیوال ریکارډونه

*دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال مارچ پر (۱۹)مه، چې د (۱۳۹۷ل) کال د کب له (۲۸)مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې ده.*

**له څو لسیزو راهیسې چې په نړۍ کې هر داسې ستر کار، چې د انسان په تصور او فکر شونی نه ښکاري، هغه ډول کار چې څوک تر سره کړي، هغه یو نړیوال ریکارډ ګڼل کېږي، بشپړاند یې ریکارډمین یار ریکارډ جوړونکی بلل کېږي او د نړیوالو ریکارډونو په کتاب (جینیس بوک) کې د دواړو نوم ثبتېږي.**




**پخوا یوازې د مثبتو پېښو ریکارډونه ثبتېدل، خو اوس ویل کېږي چې مثبت او منفي دواړه ثبتېږي، کله کله یو کار یو لوري ته مثبته او بل ته منفي پایله لري، لکه د کرکټ لوبه چې منفي او مثبت دواړه ریکارډونه لري. پخوا به د ښکلا مقابله کېدله، اوس د بدرنګۍ مسابقه هم کېږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لنډه دا چې هر هغه څه چې د انسان په خیال او تصور کې کرځي او تر دې وخته نه وي عملي شوي، اوس پر واقعیت بدل شي او انسان له حیرانۍ سره مخامخ کړي، هغه یو ریکارډ ګڼل کېږي. افغانستان کې هم عجیب او غریب ریکارډونه ټینګ شوي، لکه د امپراتوریو په نړولو کې چې ریکارډ لرو، خو دې بله خوا کې بیا ستن هم نه شو جوړولای. په دې برخه کې مو هم ریکارډ ټینګ کړی دی. دلته نه غواړم د ریکارډونو پر ټولو ډولونو بحث وکړم؛غواړم یوازې پر یو ټاکنیز ریکارډ بحث وکړم: د (۲۰۱۴م) کال تر ولسمشریزو ټاکنو وروسته د (تحول او تداوم) او (اصلاحاتو او همپالنې) دواړو ټیمونو پر ټاکنیزو کمېسیونونو د یو بل پر پلویتوب تورونه پورې کړل او بیا وروسته د ګډ حکومت د هوکړه لیک له مخې دواړو ژمنه وکړه چې په ټاکنیزو ټیمونو کې به ((سمون)) راولو. د ټاکنیزو اصلاحاتو په نامه یې یو ترکیب را وړاندې کړ چې له دیارلسو غړو څخه یې یوازې دوه تنه پښتانه وو او څوارلسم تن یې یو بهرنی و، خو هغه د څارونکي رول درلود. دوی حکومت ته داسې یوه نیمګړې طرحه وړاندې کړه چې حکومت یې د تطبیق جوګه نه و. تر ډېرو ناندریو وروسته د ټاکنیزو کمېسیونونو غړي وټاکل شول. جمهور رییس او د هغه د واک شریکبانو په خپله ورسره مرکې وکړې. خلکو فکر کاوه چې دا ځل نو د کمېسیونو غړي په مستقیم ډول د مفکراتو له خوا ټاکل شوي، هر څه به سم شي. څو موده وروسته د ټاکنو کمېسیون مشرتابه کې بدلون راغی او تر څو ځله وعده خلافیو وروسته د تلې پر اته ویشتمه هغه شان ټاکنې وشوې چې څرنګوالی یې ټولو ته معلوم دی. له ټاکنو سره سم ژمنه وشوه چې نتیجې به تر یوې میاشتې په کمه موده کې اعلانېږي، ژمنې او وختونه بیا تمدید شول، خو نتیجه لا هم معلومه نه شوه. خبره میاشتو ته ووتله او د ناسالمو ټاکنو په نتیجه کې دواړو کمېسیونونو هم خپل سر وخوړ. ټاکنې له ورځې بلې ته د پېچلتیا او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاقانونيت پر لوري لاړې. په دې ډول د ولسي جرګې دې ټاکنو د نتيجو د اعلان د زماني واټن او د نورو هېوادونو له ورته ټاکنو سره د پرتلې له پلوه نړيوال ريکارډ ټينګ کړ. د اصلي نړيوال ريکارډ خبره، چې هغه بايد د نړيوالو ريکارډونو په کتاب کې ثبت شي، هغه د يو بې بديله کانديد شتوالی و. په دې ټاکنو کې د افغان سکانو په استازۍ يوازې يو تن (اوتار سنګ خالصه) هم نوماند و. کله چې هغه په ننګرهار کې د يوې خونړۍ پېښې له امله ووژل شو، نو زوی (نريندرسنګ خالصه) ته يې د هغه پر ځای د نوماندۍ حق ور کړ شو. ويل کېږي چې د افغان هندوانو او سکانو په دې ټاکنيزه حوزه کې دوه سوه شاوخوا رايې کارېدلي دي. دا په داسې حال کې ده چې نوماند بل هېڅ سيال نه درلود؛ که يوازې خپله يوه رايه يې هم کارولې وای، دی بريالی ګڼل کېده. نريندرسنګ د نړۍ په کچه هغه نوماند و چې نه يې کمپاين ته اړتيا درلوده، نه د چا رايې، نه د رشوت ورکړې او نه هم چا سره ملاقات ته، خو د ټاکنو کمېسيون د ده رايه شمېرنه هم دومره سخته کړه او دومره يې و ځنډوله چې د کابل له ابتدايي نتيجو سره يې هممهاله اعلان کړه او بيا يې له اصولو (!) سره سم د لا دقت په خاطر چې سبا ځوک شکايت و نه کړي (!) د شکاياتو کمېسيون ته ولېږله. هلته نو د نريندر سنګ نتيجه هم ورکه شوه او کمېسيون هم فوت شو. په دې ډول د ميزان له اته ويشتمې بيا د کب تر اته ويشمتې، د (۱۵۰) ورځو په بهير کې د مفکر اشرف غني تر مشرۍ لاندې دېرش مليونه مسلمانانو د يو افغان سک رايه و نه شمېرلی شوه. نو نور کارونه به څنګه وي؟ که هر ورځ مو د نريندرسنګ يوه رايه شمېرلی وای. نو اوس خو به لږ تر لږه د دغه يوه بې سياله نوماند نتيجه خلاصه وای. د هغه چا چې له پيله نتيجه معلومه وه د هغه نتيجه نامعلومه شوه، د هغوی چې لا معلومه نه وه؛ مبهمه وه د هغوی به څه حال وي؟ نو اوس تاسې ووايئ چې دا نتيجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**باید د نړیوالو ریکارډونو په کتاب کې ثبت شي او کنه؟ دا په داسې حال کې ده چې جمهور رییس غني ویلي، د جمهوري ریاست او د ولایتي شوراګانو د راتلونکو ټاکنو نتیجې به په دوو ورځو کې اعلانوو. ښاغلي غني ته باید دا واقعیت په زغرده وویل شي چې ستا په حاکمیت کې او ستا په قلم مقرر شویو کمېسیونو خو دې ډېرې ژر دا نتیجې اعلان کړې چې هغه وخت به هغه نورې پر خپل وخت خپرې کړي؟ له نویو ټاکنیزو کمېسیونو څخه چې د پخوانیو په انډول په نسبي ډول ښه برېښي، هیله کوو، چې د پخوانیو کمېسیونو پر مردارېو ژر تر ژره خاورې واړوئ او د ولسي جرګې د تېرو ټاکنو نتیجې ډېرې ژر اعلان کړئ؛ د بسوګۍ د واده دا ډرامه نوره ختمه، خپلو راتلونکو ټاکنو او کارونو ته ځان وزګار کړئ او کنه له تاسو به هم ریکارډونه جوړ شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خپلواکۍ یوه پېړۍ مزل

د (۱۳۹۸ ل) کال په بهیر کې د هېواد د خپلواکۍ د بېرته ګټلو یوه پېړۍ مزل بشپړ شو. سره له دې چې د خپلواکۍ د بیا ګټنې سل کاله پوره شول، خو افغانان په دې پېړۍ کې ډېر خوشاله او سوکاله نه شول، په دې سل کلن واټن کې یو ځل بیا په بېلابېلو نومونو او عنوانونو د ګڼو هېوادونو لښکرې افغانستان ته راغلې، د هېواد خپلواکي یې په یوه بله بڼه وګواښله او زیانمنه یې کړه. په دې بهیر کې پردي او پردیپال یو ځل بیا له ماتو او ننګونو سره مخ شول، خو زموږ هېوادوال یې هم له ګڼو ستونزو او اوږدې غمیزې سره لاس او ګرېوان کړل.

اوس چې د هېواد د خپلواکۍ سلمه کالیزه نمانځل کېږي، موږ دا سلیزه د هېوادوالو د نېکمرغۍ او د هېواد د پرمختګ لپاره یو ښه فال ګڼو. حکومت، ولس او فرهنګي بنسټونه هر یو د دې کالیزې په وياړ بېلابېل پروګرامونه لري، خو د افغانستان ملي تحریک وپتېیله چې دا کالیزه په فرهنګي ولولو ونمانځي، نو ځکه خو یې د دې لپاره د کتاب خپرولو یوه لړۍ پیل کړه. دا کتاب چې اوس ګورئ، دا د همدې لړۍ لومړی کړی ده. موږ هیله لرو چې دا فرهنګۍ لړۍ لاپسې وغځوو او د هېواد د خپلواکۍ د پوره سلیزې په وياړ ګڼ شمېر علمي او ادبي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړو.

د هېواد د پرمختګ او د هېوادوالو د سوکالۍ په هیله
د ملي تحریک فرهنګي څانګه



## مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک له ګران ورور او فرهنګپال شخصیت (اتل امین) څخه ډېره مننه کوي چې تل یې له موږ سره په فرهنګي چارو کې مرسته او ملګرتیا کړې ده او دا ځل د دې کتاب د چاپ لګښت په ورکولو سره یې یو ځل بیا خپله هېوادنۍ او فرهنګي مینه زبات کړه. موږ یې ملي احساس او فرهنګپالنه ستایو، کورودانی ورته وایو او د لا زیاتو بریاوو هیله ورته لرو.

درنښت
د ملي تحریک فرهنګي څانګه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**